
رب السجن احب الي مما يدعونني اليه

۱۱

دافغانستان زندانونه او ناويلي حقايق



خپروونکی : دفرهنګي چارو کمیسیون
دتالیف اوترجمې څانګه

Download from:aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

دپيـــل خبـــرې

الحمد لله رب العلمين، والصلوة والسلام على سيد المرسلين، محمد وعلى آله واصحابه اجمعين وبعد :

زنـدان زنـدان وي او بيـا د دښـمن زنـدان، دښـمن هـم داسـي چې هيڅ ډول انساني او اخلاقي معيارونه نه پيژني.

هـوکي ! امريکايـان، هغـوی چـې بشـريت يـې لـه يـو سـتر نـاورين سـره مخـامخ کړی دی، د مظلومـانو وينـي يـې زبيښـلي دي، کړولـي يـې دي، بـي کـوره کـړي يـې دي او بـالاخره د داسـي تـورو تمبـو شـا تـه يـې اچـولي دي چـې کلونـه کلونـه يـې د مـړي او ژونـدي څرک نـه معلـوميږي، هغـوی چـې د نـورو د ژونـد د رښـا ډيـوي مـړي کـوي خـو خپلـي بيـا د دغـو بـي وزلـو او مظلومـانو لـه وينـو بلـي سـاتي، هغـوی چـې ځانونـه پـه نړۍ کـې د بشـري حقونـو علمبـرداران بـولي، خـو خپلـه

Download from:aghalibrary.com

بيا له بشر سره څه ډول چلند کوي، په زندانونو کې يې څه تيريږي او له بنديانو سره يې چال چلند څه ډول دی ؟

لس کاله وړاندې چې امريکايي يرغلګرو دافغانستان په پاک حريم ناولي قدمونه کيښوول، دهوايي ناترسه بمباريو، ډليږزو وژنو اونورو ډول مظالمو اوتيريوترڅنګ يې دهغو افغانانو چې اسلامي او افغاني غروراوجذبه يې لرله، کورونواو جونګړوته په توره شپه کې په لوی بربريت او دهشت ورننوتل، ددينې مقدساتواو افغاني عنعناتو په سپکاوي سربيره يې هغه مظلومان دخپلو کورونو په غولي اودخپلو کورنيودغړو په وړاندې په ډيرې بيدردي زولانه، توري کڅوړې يې ور په سر اودګوانتنامو، بګرام، کندهار اونوروپټو اوښکاره جهنمي زندانوته وغورځول اوهغه شکنجې يې ورکړې چې دبشريت په تاريخ کې يې ساری نه ليدل کيږي ؛ ددا ډول شکنجه شويو افغانانو شميراوس ترلکونو اوښتی اولادوام لري.

ستاسو په لاس کې کتاب لکه څنګه يې چې له نوم څخه واضحه ده، په افغانستان کې دزندانونو په اړه حقائق او واقعيتونه راسپړي، دافغانستان په تېرد ېرش کلن ځپځپانده حالت کې دغميزې يوه ډيره بوږنوونکې او لږ راسپړل شوې خوا، په دې هيواد کې دزندانونو دننه ترسره شوي جنايات او مظالم دي، په تيرو دريولسيزو کې په ځانګړې ډول دروسي او امريکايي يرغلونو په مهال د افغانستان په زندانونو کې ددې مؤمن او مجاهد اولس په وړاندې خورا ډير او بې ساري جنايات ترسره شوي دي، چې په عامه رسنيو کې انعکاس دنشت برابر دی

.

Download from:aghalibrary.com

دا کتاب په مجموع کې يوه کوچنۍ هڅه ده، تر څو دزندانونو دتورو تمبو شاته، ترسره کيدونکي جنايات رابرسيره او دعاملينو څيرې يې نړيوالو او د افغانستان مسلمان ملت ته وروپيژني.

په تيرو دريو لسيزو کې، دافغانستان زندانونه کله له يوې خوا ددښمن دجرمي کړنو او وحشت شاهدان وو له بلې خوا يې زمونږ دمجاهد اولس داسيروشاځلمودصبر، استقامت، عزم اوتدبير ډېرې هيبښوونکې حماسې هم ليدلي دي، په دې کتاب کې به دمجاهد اولس ميړنيو زندانې بچيانو دقربانيو او زندان ماتوونکو حماسو په خاص ډول دکندهار د زندان دپرلپسې ماتيدو په اړه هم ډير څه ولولئ، او له دې علاوه به له زندان اوحبس سره تړلې مسئلې، خاطرې او لارښوونې هم په کې وموميئ.

دافغانستان داسلامي امارت دفرهنګي چارو کميسيون ويارې، چې دکتاب دمينه والو دتندې خړوبولو لپاره دکتابونو دچاپ دلړۍ په جاري ساتلو توانيږي، او ددې سلسلې (۱۱) شماره کتاب دچاپ په ګڼه پسولي، فرهنګي کميسون تردې وړاندې هم ترلسو ګڼو پورې مختلف کتابونه چاپ کړي، خو په پخوانيو چاپ شويو کتابونو (مسلسله شميره) نه ده ليکل شوې.

په پای له ګرانو همکارو ورونو هريو مؤمن اقبال، حسن مومند، عمران خليل، سيد سعيد، غزنيوال، محمد الياس عاصم اوعبدالرؤف حکمت څخه د زړه له تله مننه کوي چې دکتاب په اوډون اوجوړښت کې يې خپله همکاري ونه سپموله، ټولو ته دې الله تعالى دخير بدله ورکړي.

په درنښت

خپرندوی

Download from:aghalibrary.com

لـــومـــړی فـصـل

په اسلام کې دزندان حیثیت او داسیرانو سره چلند

زمونږ دا لیکنه دوه برخې لري لومړی برخه کې پدې غږېږو چې دمسلمانانو سره داسیر شوي تن سره به دمسلمانانو سلوک څه وي؟ او په دوهمه برخه کې به پدې وغږېږو چې دکفارو سره داسیرشویو مسلمانانو په اړه د نورو مسلمانانو مسؤلیت څه دی؟

خو په اصل مقصد دپیل نه وړاندې دا وضاحت ضروري بولم چې اسلام پدې اصرار نه کوي چې مقابل جانب دې خامخایا ووژل شي او یا دې اسیر شي، بلکې اسلام حربي کفارو ته هم دوژل کېدو نه دځان خلاصولو لار ښودلی او هم یې ورته داسیر کېدونه دخلاصون لار ور په ګوته کړی ده، نو اسلام وایي چې که چېرته دښمن دځان نه ددفاع کولو او زمونږ سره دجنګېدلو توان درلودخوبیا یې هم اسلام قبول کړ اومونږ ته یې ځانونه وسپارل نو دشرعي لارښوونو له مخې ددوئ اسلام داعتبار ورکړ دی، دوئ بـه آزاد ګڼـل کیـږي، مالونـه او ځانونـه بـه یـې دنـورو مسلمانانو په څېر محفوظ وي او دوئ به نشي اسیران کېدای، اګرچې پرکفر دپاتې کېدو اوپرضدیې دجنګ کولو پـه صـورت کې دوئ تـه دماتې ورکولو غالب ګومان هم مسلمانانو درلودلو خو سره له دې چې اسیران کېږي به نه مسلمانان ددوئ نه دمصلحت پربنسټ دامیر په حکم وسلې ټولولی شي.

Download from:aghalibrary.com

داخو هغه صورت و چې دا سلام قبلولو او تسلمېدونه وړاندې په دوئ کې دخپل ځان نه ددفاع کولو ځواک شتون درلود

اوکه چېرې دوئ چې اسلام يې اعلان کړی دی پکې دخپلو ځانونو نه ددفاع توان نه و بلکې دجنګ ډګرکې يا په خپلو کلا ګانو او ښارونو کې دمجاهدينو دمحاصرې لاندې راغلي وو نو پدې صورت کې دتسلمېدو نه پس دوئ آزاد نه ګڼل کيږي بلکې دوئ جنګي قيديان دي البته اسلام قبلولو يې وينه محفوظ کړې ده، يانې وژل يې لکه دنورو مسلمانانو ناروا دي، دادواړه صورتونه په شرح سيرالکبير کې په تفصيل سره ذکر شوي دي.

جنګي اسيرمسلمان شوی وي اوکه په خپل کفرپاتی وي په اړه يې چې کومه پربکړه کولی شي هغه به وروسته ذکر کړو اوهلته به ووايو چې په اړه يې دپربکړې اختيار دمسلمانانو دامير سره دی، هغه به ګوري چې په احسان کولو، فديې اخستلو، مريتوب يا وژلو هريو کې چې دمسلمانانو اجتماعي خير وي هغه پربکړه به صادروي خو وړاندې له دې نه چې په هکله يې پربکړه وشي دا پوښتنه مطرح کېږي چې دا سيرانو سره دسلوک په هکله اسلامي لارښوونې څه دي ؟

نو غواړو چې لومړی دا سير سره دسلوک په مسئلې لړه رڼا واچوو اوبيا يې حکمونه ذکر کړو.

الله تعالی د سورة دهرپه ۸م آية کې مسکين يتيم او اسيرته طعام ورکونکي ستايلي دي، اوفرمايي: (وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا)ژباړه: دوئ ورکوي طعام سره دمينې ددوی دطعام سره مسکين يتيم او اسيرته.

Download from:aghalibrary.com

ابن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمايي چې داسیر نه مراد هغه مشرک دی چې دمسلمانانو په لاس کې پربوتی وي، امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسیر کې ددې آیت لاندې فرمايي چې دا آیت دهغه کسانو په باره کې نازل شوی دی کومو کسانو چې د بدر داسیرانو کفالت په خپلو غاړو اخیستی و اودوئ ۷ مهاجرین وو، ابوبکر، عمر، علي، زبیر، عبدالرحمن بن عوف، سعد او ابوعبیده رضی الله عنهم اجمعین.

ابن کثیر رحمه الله دابن عباس رضی الله عنهما په حواله ددې لاندې لیکي چې دبدر ټول اسیران مشرکان و خورسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته حکم کړی و چې ددې اسیرانو عزت دې کوي نو ځکه به بیا دوئ لومړی ډوډۍ اسیرانو ته ورکوله اوبیا به يې پخپله خوړله.

دابن هشام سیرت کې راغلي چې ابن اسحاق د نبیه بن وهب نه داسې رانقلوي: دبدر اسیران رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو اصحابو کې ووېشل او ویې فرمایل چې درته داسیرانو سره دښه سلوک کولو وصیت کوم، نبیه بن وهب فرمايي چې دمصعب بن عمیر سکه ورور ابو عزیز بن عمیر هم دبدر په اسیرانو کې و، ابوعزیز وايي چې زما ورور مصعب بن عمیر زماترځنګ تېر شو اوزه دیوانصاري سره اسیروم زما ورور انصاري ته وویل چې کلک يې ونیسه ! مور يې ښه مالداره ده شاید په بدل کې يې فدیه درکړي (سیرت ابن هشام لیکي چې ابوعزیز مصعب بن عمیرته وویل وروره ! زما په باره کې دې همدا دخیر نصیحت دی ؟ ! مصعب بن عمیر ورته وویل چې ته مې ورور نه يې بلکې دا انصاري مې ورور دی ! دابو عزیز مور وپوښتل چې په قریشي اسیرانو کې دیو اسیر په بدل کې ترټولو زیاته څومره فدیه ورکړل شوې ده ؟ ورته وویل شو چې ۴ زره درهم، هغې دمکې نه ۴ زره درهم راواستول اوابو عزیزيې پرې آزاد کړ) ابوعزیز وايي زه چې دکومو انصارو سره اسیروم

Download from:aghalibrary.com

اودبدر نه يې مدينې ته راوستی وم دهغوئ داحال و چې کله به د سبا او بيګادډوډۍ خوړلووخت شونو درسول الله ﷺ دهغه وصيت له امله چې خپلو صحابه وو ته يې دبنديانو په هکله کړی و دوئ به پخپله کجورې خوړلې اوماته به يې ډوډۍ راکوله (هغه مهال چې دعربو په خاوره کې دغلو دانو ډېرکمښت و نو ډوډۍ پر کجورو ډېر فوقيت درلود)، دوئ به که ډډوډۍ کومه کوچنۍ ټوټه هم وموندله ماته به يې راکړه مابه له شرمه دوئ ته بېرته ورکوله خو دوئ به ورته لاس هم نه وروړ.

دذکر شوو او ورته نورو نصوصو نه داجوتېږي چې داسارت نه پس به مسلمانان دخپلو کافرو بنديانو سره ددښمنۍ سلوک نه کوي بلکې داسې به يې ګڼي لکه خپل يو محترم ميلمه، اوهمدا يوله هغه مثبتو دريځونو څخه دی چې اسلام يې دبشر دحقوقو اوانساني کرامت په وړاندې لري اوحقيقت دادی چې داسلام اومسلمانانو لپاره داډېر دستر افتخار خبره ده اوهرڅومره زيات چې پرې وويارې کمه به وي.

دبنديانو سره دغوره سلوک کوم تعليم چې اسلام ورکړی دی اوبيا مسلمانانو عملي کړی دی يوملت اومذهب يې هم په وړاندې کولو نشي توانېدلی، لرې نه ځو، فرعونيان، نمرودیان اواصحاب الاخدود نه رايادوو اونه دهغه کفارواو مشرکينوسلوک رامخې ته کوو کوموچې درسول الله صلی الله عليه وسلم اصحاب دنيولو نه پس ګرمو تبلوته وراچولي چې له امله يې په څو ثانيوکې غوښې اوهډوکې ديوبل نه جلاشوي دي، چنګيز خان، هلاکو خان اوګوډتيمور به چې مسلمان اونامسلمان مخالفين دنيولو نه پس وژل او دهغوئ دپرېکړو سرونو نه به يې دغرونو په څېر ستر ستر امبارونه جوړول دابه هم دتاريخ زړې خبرې وګڼو، په صليبي جنګونوکې چې صليبيانو دنيول شوو مسلمانانو سره دوحشت نه ډک کوم سلوکونه کړی دی هغه به هم له يادە وباسو، په

هسپانيه کې چې د اسلامي واکمنۍ دله منځه تللو نه پس هسپانوي عيسويانو مسلمانان قيد کړل او په سوونو زره يې په ډېرې بې دردۍ سره ووژل هغه به هم هېر وګڼو ، فرانسوي او ايټالوي امپراتورانو چې د المغرب نه ترليبيا په خپلو مفتوحو سيموکې د مغلوبو ولسونو سره کوم ظلمونه کړي دي په هغې به هم ستر ګې پټې کړو او په نړيوالو ۲ سترو جنګونو کې چې دواړو اړخونو دنيول شوو زندانيانو او د قبضه کړو خاورو د کمزورو ولسونو سره د وحشت، دهشت او ظلم نه ډک کوم سلوکونه کړي هغه به هم د خپل پيدا کېدو نه وړاندې او د خپل يادنه لري پېښې وګڼو ، که دا هرڅه هېر کړو خو کوم څه چې زمونږ ترمخه او زمونږ په يادو تېرشول او تېريږي که يو اځې همدا رامخې ته کړو نو همدا د اسلام او مسلمانانو د عدل او بشر دوستۍ او د کفارو د ظلم وحشت او انسان د ښمنۍ د اثبات لپاره کافي دي او وړته ستر دليل دی.

د قفقاز او منځنۍ اسيا په اسلامي جمهوريتونو او افغانستان کې روسانو او د هغوئ ګوډاګي کمونستانو د مسلمانو بنديانو سره په برقي ډنډو د وهلو نه ترنوکانو وېستلو پورې کوم ظلم و چې ويې نه کړ ؟ او مهم دا چې د اتول ظلمونه په دولتي سطحه او د دولت د جنګي پاليسۍ له مخې کېدل خو د همدې روسانو سره د مجاهدينو سلوک بيا د ومره نيک و چې له امله يې ډېر ژوندي نيول شوي روسان مسلمان شوي وو او بيا به د روسي فوځيانو پر ضد جنګېدل. ورپسې مو امريکايان او د هغوی نورغربي متحدين هم وليدل چې د مسلمانو اسيرانو سره يې په عراق او افغانستان کې څومره د ظلم او وحشت نه ډک اونا انساني سلوکونه وکړل خو مسلمانو مجاهدينو چې د دوئ نه څوک ژوندي نيولي دي د هيڅ يوسره يې بد سلوک ندي شوي او د دې لپاره يو مثال وړاندې کول کافي بولو ، هغه دا چې طالبانو هېواد ته په غلا را داخله شوې ايوان ريډلي

نومي برتانوی جاسوسه په داسې حال کې ونيوله چې دافغاني مېرمنو لباس اوچادري يې پرتن وه او داسې آلات ترې هم ترلاسه شوي وو چې په جاسوسۍ کې ترې کار اخيستل کېږي، دطالبانو سره دولس ديارلس ورځې قيد وه اوچې کله پربښودل شوه نو دطالبانو دښه سلوک نه دومره متاثره شوې وه چې برتانيې ته دستنېدو نه سمدستي پس يې داسلام مطالعه پيل کړه بيا يې دا آسماني، حق اوفطري دين قبول کړ، دايوان ريډلي نه مريم ريډلي شوه او اوس يې يواځينی کار داسلام اومسلمانانو نه ددفاع کولو هڅې دي اوخپل ټول وخت يې همدې کارته ښښلی دی.

داخويوه برتانوی وه چې دمسلمانانو سره قيد شوې وه خو ددې پښې نه کابو دوه نيم کاله پس چې دعافيه صديقي په نوم يوه مسلمانه مېرمن دالقاعدې سره دتړاو په تور امريکايانو سره له خپلو ۳ کوچنيانو باګرام ته يوړه نو ترننه دامريکايانو سره په زندان کې ده اودومره ناانساني سلوک ورسره په تېرو څوکلونو کې شوي دي چې خوله يې په ويلو اوقلم يې په ليکلو شرميږي.

دشلټرنو نومي موسسې ۸ تنه کارکوونکی چې داخلاقي فسادخپرولواوارتداد ته دناپوهو تنانو رادعوت کولو په جرم طالبانو نيولي وو او ورپسې ډېر نېږدې جنګي حالت رامنځته شو دکوم غرب سره چې ددې مجرمينوترڅو وو دهماغه غرب صليبي اتحاد پرطالبانو درانه بمونه راغورځول چې له امله به يې هره ورځ ډېرطالبان په شهادت رسېدل طالبانو دانتقام اخستلواوخپل ټټريخولو په موخه هغوئ ټول بايد وژلي وای خو آفرين دطالبانو په عدل اوعالی اخلاقو چې وژل ياوهل ټکول خوپربږده دې بنديانو ته يې يوه ترخه خبره هم نه وه کړی اوچې لا دمسلمانو قاضيانوله لورې دهغوئ شرعي جزا نه وه تعين شوې

نو دتلوپر مهال هم ورته طالبانو څه ونه ویل ګيني په سرونو يې ويشتل ډېر اسان کارو.

څوک دې دانه وايې چې طالبانو دخپلو زندانيانو سره بد سلوک ځکه نه کاوه چې ددوئ سره لابد سلوک نه وشوی دا دې څوک ځکه نه وايې چې په ګونتانامو او دهبواد په نوروزندانونو کې چې دطالبانو سره هرډول ناانساني سلوکونه شوي وودهغې نه پس چې طالبانو دجنوبي کوريا ۲۳ تنه مسيحي مبلغين، ورپسې امريکايي عسکر اوبيادري ځله فرانسويان ونيول نو ټولې نړۍ وليدل چې ددې بندیانو سره هم طالبانو دميلمنوپه څېر سلوک کړی او خپلو شرعي اصولوته ژمن پاتې شويدي.

لنډه داچې زمونږدښمنان که هرڅه کوي، کوي به يې خومونږ دالهي حکمونو تابع يو، داسيرانو په هکله چې راته خپل شريعت څه لارښوونې کړي دي هغې ته مسؤل يو اوله نيکه مرغه چې ترډېره حده ورته عملاً ژمن هم يو.

خو يوه يادونه ډېره ضروري بولو هغه داده چې داسې هم نده چې په يوحالت کې هم ګيني اسلام خپلو متبعينو ته د اسير سره دسختۍ کولو اجازه نه ورکوي، بلکې که اړتيا پېښه شي په حدودو کې دننه دجنګي اسيرانو سره سختي کول جواز لري.

دبدر دغزا اړوند يو حديث په صحيح مسلم کې راغلی دی: دهغه حديث مفهوم دادی چې دجنګ پيل کېدو نه وړاندې څو صحابه دقريشو دحال معلومولو لپاره وتلي وو چې په هغه ۲ هلکانو وربرابرشول چې دقريشو لښکرته يې اوبه وړلې، دا دواړه يې ونيول اورسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې راوستل پدې وخت کې رسول الله لی الله عليه وسلم په لمانځه ولاړ و، نو نيونکو صحابه وو ددواړوهلکانونه دقريشو دلښکر

په باره کې پوښتنې پيل کړې خو چې دواړو هلکانو د قريشو دلښکر په باره کې هغسې څه نه ويل چې صحابه وو تر ې غوښتل نو صحابه و ګومان وکړ چې دوئ راته دروغ وايي او دخپل لښکر په اړه مورږ ته سم معلومات نه راکوي نو په وهلو يې پرې شروع وکړه چې لږ څه يې ووهل هغوئ دواړو داسې څه وويل چې صحابه يې خوښ کړل نو يې د دوئ وهل بس کړل کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم سلام وګرځاوه نو ويې فرمايل چې کله دوئ رښتيا ويل نو تاسو ووهل او چې کله يې دروغ ووېل نو پرې مو ښودل، يقيناً د دوئ تړاو د قريشو دلښکر سره دی، بيا دواړه هلکانو ته رامخامخ شو او د قريشو دلښکر په باره کې يې تر ې وپوښتل هغوئ وويل چې لښکر دلته نږدې دی.

اصل خبره داوه چې صحابه و ګومان کاوه چې دوئ دواړه د ابوسفيان دهغې قافلې کسان دي د کومې پسې چې مسلمانان راوتلي وو نو دوئ چې د دې قافلې سره د تړاو نه انکار وکړ او ويې ويل چې زمورږ تړاو د قريشو دلښکر سره دی صحابه وو ته داخبره خوښه نه شوه نو ويې وهل چې دوهلو نه پس هغوئ د مجبوريت په اساس د ابوسفيان د تجارتي قافلې سره د تړاو اعتراف وکړچې دا رښتيانه وه.

د حديث د ظاهر نه خو داسير دنه وهلو خبره معلوميږي خو علماء دهمدې حديث نه دا ړتيا په صورت کې دوهلو د جواز استدلال کوي اوفرمايي چې دلته خبره د خاصو اسيرانو وه او د رښتيا ويلو په صورت کې د صحابه و له لوري په وهلو رسول الله ﷺ تعجب ښکاره کړ، په هرحالت کې داسير دنه وهلو نه دلته کومه عمومي منع نشته که عمومي منع مطلوب واى رسول الله صلى الله عليه وسلم به په ښه صراحت عمومي منع فرمايلى واى ځکه خو امام نووي د دې حديث لاندې فرمايي چې:

وفيه جواز ضرب الكافر الذي لاعهد له وان كان اسيراً ''ژباړه:ددې حديث نه دغيرمعاهد كافر دوهلوجواز ثابتېږي اګرچې اسير وي.

څرګنده ده چې دامام نووي رحمه الله مقصد دادی چې کله يې وهلوته اړتيا وي اوپکې فايده وي.

امام ابوداؤد رحمه الله ددې حديث لپاره ترجمة الباب پدې عنوان راوړی دی چې ''باب في الاسير يُنال منه، ويُضرب، ويُقرّر اوامام خطابي ترې لاندې ليکي چې: وفيه جواز ضرب الاسير الكافر اذا كان في ضربه طائل.

نو اسلام دژوند تېرولو اونظام چلولو په هکله کامل اوبې ساری لارښوونې لري داسې نده چې دنيول شوي دښمن سره دښه سلوک تاکيد خوګينې کوي او ورنه درازونو معلومول اوددښمن دسترو خطرونو نه دځان ژغورلو د هرډول اقدام نه منع کوي، داسې نده ځينې په اصطلاح جديد پال (هغوی چې په هره مسئله کې دداسې ځوابونو ورکولو کوښښ کوي چې غرب پرې خوشاليږي) وايي چې اسلام په يوحالت کې هم دنامسلمان جنګي اسيرسره دډبرې لږې سختۍ اجازه هم نه ورکوي.

نولنډه داچې په عاموحالاتوکې اسلام خپلو متبعينو ته دکافر اسير سره دښه سلوک امرکوي خو دارټيا په صورت کې دمناسبې سختۍ اجازه هم ورکوي خودارټيا اوسختۍ تعين دهرچا کار نه دی.

د مسلمانانو د اسيرانو په اړه د نورو مسلمانانو مسئوليت

اوس راځوددې ليکنې دوهمې برخې ته نوترکومه چې ددښمن سره دمسلمان داسيراکېدلو خبره ده نوپه وړاندې پرې يوځه رښا واچول شوه او دا راته جوته شوه چې مسلمان دداسې حالاتوسره هم مخامخ کيدای

شي چې شريعت يې ځان وژنې ته نه اړباسي اونه ورته ددې اجازه ورکوي بلکې ددښمن په لاس کې اسیرکېدل ورته شرعا جوازلري نواوس پوښتنه داده چې ددښمن په لاس کې ددا سې اسیرشوي مسلمان په اړه د نورو مسلمانانو مسؤلیت څه دی؟

امام بخاري رحمه الله تعالی د(باب فکاک الاسر)ترعنوان لاندې داراتلونکی حدیث راوړیدي:عن ابي موسی الاشعری ﷺقال قال رسول الله ﷺفُکُّوا العاني، یعني الاسیر واطعموا الجائع، وعودوا المریض.

ژباړه:حضرت ابوموسی اشعري رضی الله تعالی عنه فرمایې چې رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل چې (ددښمن له قیدنه) اسیران ازادوئ !وړې خلک مړوئ !اودمریضانوپوښتنه کوئ !

دبخاري په مشهوری شرح فتح الباري کې علامه ابن حجر رحمه الله د باب فکاک الاسیرنه پس لیکي چې بمال او بغیره بیایې دابن بطال داقول ذکرکړیدي چې ,,فکاک الاسیرواجب علی الکفایة وبه قال الجمهور، ،

یانې د زور، پیسو اویاتبادلې له لارې داسیر را خلاصول دټولو مسلمانانوفریضه ده نوکه ځینو مسلمانانو داکاروکړ یانی مسلمان اسیران یې ددښمن دمنګلونه راخلاص کړل نو دټولوشرعی مسئولیت اداشواوکه هیچا هم ددې لپاره قدم پورته نکړنو بیاپدې شرعي مسئولیت کې دکوتاهی او غفلت له املـه دنړی ټول مسلمانان ګناهګاران دي اګرکه یومسلمان هم اسیرپاتی وي.

ترکومه چې په زور یاپیسود کفارودقیدنه داسیرانو د راخلاصولو دجواز خبره ده نوپدې خودامت اجماع ده یو مجتهد یا امام یې هم خلاف نه دی اونه یې په مخالفت کې دکوم فقیه قول رانقل شویدی، ټول فقهاءفرمایې چې اسلامي لښکروکه په زوردښمن دمنګلونه خپل

اسيران راخلاصولای شول نو ډيره غوره ده اوکه په زوريې نه شو راخلاصولای نو دروپو ياکوم بل ډول مال په بدل کې به قيدي راخلاصولای شي، که بيت المال شتون درلودلواو روپئ پکې وې نودبيت المال پيسې به ددې هدف لپاره لګولی شي اوکه بيت المال نه وي ياپکې پيسې نه وې نوپه عاموسلمانانوترهغې پدې لارکې دخپلومالونولګول واجب دي چې يايومسلمان اسيرهم ددښمن په اسارت کې پاتی نه شي اويادمسلمانانوټول مالونه پدې لار ولګول شي او ورسره يوه روپۍ هم پرلاس پاتی نه شي.

کومه خبره چې مو وکړه همدا زمونږ ددين اتفاقي اصل او اجماعي مسئله ده چې نامتوعالم او مشهورمفسر علامه قرطبي رحمه الله تعالی په صراحت فرمايلې چې (قال علماؤنا:فداء الاساری واجب وان لم يبق درهم واحد ، وردت الاثارعن النبی انه فک الاساری، وامربفکهم وجری بذلک عمل المسلمين وانعقد به الاجماع، ويجب فک الاساری من بيت المال فان لم يکن فهو فرض علی کافة المسلمين ومن قام به منهم اسقط الفرض عن الباقين.احکام القرآن ۲۳۱۲

ژباړه:زمونږعلماءو فرمايلي دي چې داسيرانو راخلاصول پر مسلمانانوواجب دي اګر چې دمسلمانانوټول مالونه پدې لار کې مصرف شي او ورسره يوه روپۍ هم پاتی نه شي، دنبی عليه السلام نه پدې باره کې ډېراحاديث راغلي دي چې هغه پخپله هم اسيران راخلاص کړيدي او دراخلاصولوحکم يې هم خپل امت ته کړيدي، دمسلمانانوعمل هم همداسې رارواندی اوپه همدې د مسلمانانو اجماع هم ده، داسيرانو دراخلاصولولپاره به د بيت المال پيسې لګول کېږي اوکه بيت المال نه وي(ياپکې پيسې نه وي)نوبيايې راخلاصول دټولومسلمانانوفريضه ده

اوپه مسلمانانو کې چې ځینو دامسؤلیت اداکړ(اویو بندي هم د کفارو په قید کې پاتې نه شي) نو دټولو غاړه خلاصه شوه(ګینې ټول ګناهګار دي).

داخو دزور یامال له لارې دکفارو دقید نه دمسلمانو اسیرانو دراخلاصولو خبره وه او دمخه مو وویل چې پدې باندې دټول امت اجماع ده دیو امام او مجتهد نه پدې اړه خلاف نه دی رانقل شوی ؛ دمسلمانو اسیرانو دراخلاصولو یوه بله لار د تبادلې لار ده ؛ داسیرانو سره داسیرانو تبادلې په هکله دامام ابوحنیفه رحمه الله تعالی نه دنه جواز یوقول رانقل شویدی اودلیل کې یې دسورة توبې دا آیت راوړل شویدی چې(فاقتلوا المشرکین حیث وجدتموهم)

هغه فرمایې چې دمسلمانانو سره اسیران شوی تنان حربي مقاتلین دي، الله تعالی خوددوئ د وژلو حکم کړیدی هر چیری چې وموندل شي اوپه تبادلې کې خو ددوئ ژوندي پریښودل دي چې پکې دالله تعالی دحکم نه مخالفت دی نوځکه جوازنه لري.

خودا دامام ابوحنیفه رحمه الله تعالی ظاهرالروایة قول ندی، د امام ابویوسف اوامام محمد رحمهما الله په څیرامام ابوحنیفه رحمه الله تعالی هم دظاهرالروایة قول له مخې دجواز قائل دی لکه چې په السیر الکبیر کې راغلي دي: ولاباس بان یفادی اسراء المسلمین باسراء المشرکین فی ایدی المسلمین من الرجال والنساء وهذا قول ابي یوسف ومحمد وهو اظهرالروایتین عن ابي حنیفة.

ژباړه:پدې کې څه باک نشته یاني جوازلري داچې دمسلمانو اسیرانو سره دکافرو اسیرانو تبادله وشي،سړي وي اوکه ښځې همداقول

دامـــام ابـــو يوســـف اوامـــام محمـــد دی اوهمـــدا دامـــام ابوحنيفـــه پـــه دوه روايتونو کې اظهر روايت.

اوهرچې دسورة توبې د ذکرشوي آيت خبره ده نوددې په هکله خو مفسرينوفرمايلي دي چې هذه الآية فی حق الکفارقبل القائهم فی الاسر، بدليل جواز استرقاق الاساری وعدم قتلهم حتی عندابی حنيفة نفسه،

يانې پدې آية کې چې دمشرکانو دوژلوحکم شويدی نومراد ترينه هغه کفار اومشرکان دي چې لادمسلمانانوسره نه وي اسيران شوي ځکه چې که چېرته داسيرانوشويوکفارواو مشرکانو په باره کې هم يواځې دوژلوحکم وای نوبياخو پکار ده چې غلام ګرځول يې ناروا وای حال داچې پخپله امام ابوحنيفه رحمه الله يې هم دجواز قائل دی نومعلومه شوه چې دا آية دنا اسيرشويوحربي کفارو اومشرکانو په باره کې دی.

اوس راځو دتبادلې د جواز دلايلوته نويو دليل خويې هغه حديث دی چې وړاندې موتری يادونه وکړه چې درسول الله صلی الله عليه وسلم اصحابو دبنې عقيل يوتن نيولی و او رسول الله يې په تبادلې کې خپل هغه ۲اصحاب راخلاص کړي وو کوم چې ثقيف قبيلې نيولې ووورسول الله ځکه دعقيل قبيلې دنيول شوی تن په ذريعه خپل ۲ملګری راخلاص کړل چې ثقيف اوعقيل په خپلوکې سره اتحاديان وو

همدارنګه مسلم شريف اوابوداؤددواړود(فکاک اسری المسلمين من ايدی العدو) دباب لاندې دسلمة بن الاکوع يو اوړد حديث راوړيدی په هغی کې سلمه بن الاکوع فرمايې چې د بنوفزاره پرضد دجنګ لپاره رسول الله صلی الله عليه وسلم زموږ يولښکر واستولو اوابوبکريې زموږمشرکړ، دحديث په وروستۍ برخه کې سلمه رضی الله فرمايې چې ما په يواځې ځان ددښمن يوه ډله چې پکې مېرمنې اوکوچنيان هم وو

ونيولـه اوابـوبکر تـه مـې راوسـتله پـه غنيمـت کـې مـې چـې کومـه برخـه رسيدله دهغې نه علاوه راته ابوبکر ددې ډلې يوه ترټولوښکلی انجلۍ دانعام په توګه راکړه او موږمدينی ته راستانه شولو ، مالا دانجلۍ نه خپل ضرورت نه وپوره کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم راسره پـه مدينې کې مخامخ شو اوراتـه يې وويـل چې دا انجلۍ ماتـه هبـه کړه ! ماورته وويل يارسول الله ! دا انجلۍ مې ډېره خوښـه شوه او لامې ورنـه خپل ضرورت ندی پوره کړی، رسول الله راسره بيامخامخ شو او رانه يې همداغوښـتنه بيـاوکړه، پـه الله مـې دې قسـم وي چـې ماورنـه لا خپـل ضرورت نه وپوره کړی، (نور سول الله تـه مې ورکړه)رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه مکې ته واستوله اوهغـه مسلمانان يې پرې را آزاد کړل چې په مکې کې اسيران شوي وو.

امـام نـووي ددی حـديث لانـدې ليکـي چـې ,,فيـه جـواز المفـاداة وجوازفداء الرجال بالنساء الکافرات، ددې حديث نه دمسلمانو اسيرانو پـه مقابـل کې دمفـاداة (تبـادلې) کولـو اودمسـلمانو سړو پـه مقابـل کې دکافرو ښځو د ورکولو جواز ثابتېږي

هو ! دلته په يوې کافری قيدی رسول الله صلی الله عليه وسلم ډېر مسلمان قيديان راخلاص کړل اوپـه وړاندی حديث کې موهم ولوسـتل چې په يوقيدي رسول الله ﷺ دوه مسلمانان راخلاص کړي وو.

علماء فرمايې داضروري نده چې خامخابـه دلږو کفارو پـه مقابـل کې ډېرمسلمانان وي بلکې ددې عکس هم جواز لري او حضرت عمربن عبدالعزيزرحمه الله تعالی دخپل خلافت په زمانه کې همداسی کړي و.

حضـرت عبـدالرحمن بـن ابی عمـرة فرمـايې,, چـې زه کلـه عمـربن عبدالعزيزپـه قسـطنطنيی کې درومـيانو دقيـد نـه دمسـلمانو اسيرانو د

راخلاصولو لپاره استولم نو ما ورته وويل اميرالمؤمنين ! كه هغوئ (روميان) ديوپه مقابل كې په يونه راضي كېدل بلكې ديوپه مقابل كې يې دخپلو زياتوقيديانو غوښتنه كوله نوځه وكړم؟ هغه وفرمايل ورزيات يې كړه ! ماورته وويل كه په ۲رومیانويې هم يومسلمان نه راكولونو؟ هغه وفرمايل ۳وركړه ماعرض وكړ كه ۴يې غوښتل ؟ هغه وفرمايل چې ديومسلمان په مقابل كې چې په څومره تنانوراضی شول وريې كړه، زمادې په الله قسم وي چې ماته يومسلمان دټولوهغو مشركينونه ډيرزيات ارزښت لري كوم چې زماسره قيددی، كه په دوئ(دمسلمانانوسره په قيدشويو رومیانو) ټولو دې يومسلمان هم راخلاص كړ نو دابه دې بريالیتوب وي ځكه چې ته ددوئ په بدل كې داسلام اخستونكی يې،

عبدالرحمن بن ابي عمرة فرمايې چې (زه ولاړم او دروم پاچا سره مې خبرې وشوې نو) دروم پاچا د۲رومیانو په بدل كې ديو مسلمان په راخوشی كولو راضي شو.

دعبدالرحمن بن ابي عمره نه ځنی راويانو داهم رانقل كړيدی چې عبدالرحمن بن ابي عمره دعمربن عبدالعزيز نه د هغه ذميانو په هكله وپوښتل كوم چې دروميانوسره قيد شوي وو(يانې دروميانو دمنګلونه دهغوئ دراخلاصولولپاره هم څه وكړم كه نه؟)حضرت عمر بن عبدالعزيز ورته وفرمايل چې د مسلمانانو دراخلاصولو لپاره چې څومره فديه وركوي د ذميانو هم هماغومره فديه وركړه او راخلاص يې كړه !.

علماء فرمايې چې د ذميانوسره دعقد همدا تقاضا ده او د ذميانو په باره كې بايد داسلامي حكومت دريځ تل همداسی وي علماء دحضرت علي رضي الله عنه دا قول رانقلوي چې

:انمابذلوا الجزية لتكون دمائهم كدمائنا واموالهم كاموالنا.

ژباړه :ذميانو جزيه ددې لپاره موږته راکړې چې وينې يې زموږ دوينو اومالونه يې زموږ دمالونو په څېر(محفوظ)وي مسلمانانو تل په خپل همدې اصل عمل کړيدی او اسلامي حکومتونه په ډېرو سختو حالاتو اوشرايطو کې هم دمسلمانانونه زيات د خپلې واکمنۍ لاندې دذميانو دځان مال او عزت ساتنې ته ژمن پاتې شويدي چې پخپله نامسلمان هم پرې اعتراف کوي، څوک به دمسلمانانو په ټول۱۴سوه کلن تاريخ کې کوم کوچنی داسې مثال هم وړاندی نکړای شي چې پکې دخيرالقرون دزمانې نه ډېر راوروسته کوم اسلامي حکومت دذميانو سره امتيازي سلوک يا ظلم کړی وي، يا يې ددوئ حقوق ترپښولاندی کړی وي چې همدا د مسلمانانو دتاريخ يوډېر زرين باب دی.

لنډه دا چې ددښمن سره دزنداني شويومسلمانو اسيرانو په اړه حاکمان او عام مسلمانان ډېرستر مسئوليت لري خو متأسفانه چې ددې ستر مسئوليت احساس اوس په حاکمانو اوعامو مسلمانانو کې دنشت برابر دی، بس يواځې داسلامي نړۍ مجاهدين دي چې نه يواځې دا چې خپل دا مسئوليت يې پېژندلی دی او ادا کوي يې بلکې حقيقت دادی چې دخپل شرعي مسئوليت نه هم څوقدمونه وړاندې تللي دي او دزندانونو نه دمسلمانانو دآزادولو لپاره دتصورنه وتې قرباني ورکوي داسې قرباني چې نړۍ يې هکه پکه حيرانه کړيده .

دچادآزادۍ لپاره به څوک خپل ځان قربان کړي؟ نه به پلار دځوی اونه به ځوی دپلاردآزادۍ لپاره ځان قربان کړي اونه په تاريخ کې چېرته داسې شويدي خو دامجاهدين دي چې په زندانونو فدايې بريدونه کوي، خپل سرونه قربانوي اوخپل مسلمان ورونه راخلاصوي دکندهارزندان

دري ځلی مجاهدينو مات کړاوپه زرونو مسلمان مجاهدين يې تري راآزاد کړل خوهرځل چې کوم مجاهدين ددې زندان دماتولو لپاره تللي دي هغوئ کابوتولوخپل سرونه قربان کړيدي، په پل چرخي زندان کې دننه هم دنورو دآزدۍ لپاره لسګونو مجاهدينو خپل سرونه قربان کړل اوپه باګرام کې خو هر مجاهد داسې کارونوته سخت خوشالېږي چې له املې يې هغه په مياشتو مياشتو جزايې کېږي خوچې په نورو داسانتياراشي.

اوهمداحالت دنړۍ دټولو مجاهدينو دی، داسرائيلو په زندانونو کې دپرتو مسلمانانو دآزادۍ لپاره دغزې ټولو مجاهدو مسلمانانواوپه ځانګړې توګه خماس ډېرې حيرانونکې قربانئ ورکړې، ګيلاد شاليت نومي يو اسرئيلي عسکر حماس ژوندی ونيو، اسرائيلو دخپل عسکر دراخلاصولو لپاره دغزې مجاهد مسلمانان دډېرو فشارونو لاندې راوستل، غزه يې په کلي ډول محاصره کړه دمسلسلوبمباريوترڅنګ يې پرې په۲۰۰۸کې خونړی يرغل وکړ چې ۲۴ورځې يې دوام وکړاوپکې په زرونومسلمانان ټپيان اوشهدان شول خوداسرائيلوفشار يې ونه منلو اونه دعسکرورکولوته چمتوشول تردې چې داسرائيلو دزندانونونه يې پرې شاوخوا۱۳سوه مسلمانان راآزاد کړل.

محترمولوستوالو ته به معلومه وي چې داسرائيلو په زندانونوکې نېږدې۱۱زره فلسطيني مسلمانان قيددي چې د ځوانانو ترڅنګ پکې کوچنيان، مېرمنې اوبوډاګان هم شامل دي ؛ کې فکروشي نو ديهودانو سره دمسلمانومېرمنواوکوچنيانواسيران کېدل ډېره دغم نه ډکه خبره او داسلامي نړۍ لپاره خورالويه ننګونه ده خومورږوينوچې پراسلامي هېوادونو دمسلطوشويوحاکمانوترڅنګ دنړۍ په عامومسلمانانوکې هم ددې زندانيانوپه اړه فکرمندي نه ترسترګوکېږي،نه چاددې زندانيانوپاڼه اړولې ده، نه ددوئ لپاره په نړۍ کې چاآواز پورته کړيدی،

نه يې دراخلاصولو لپاره هڅې چاخپل مسئوليت ګڼلی او نه يې په دې لارکې کوم داسې قدم پورته کړی چې هغه د مسئوليت دمعمولي احساس ددليل په توګه وړاندی کړای شي

او خبره يوائې دفلسطين دزندانيانو نه ده چې ګيني يوائې دهمدوئ په اړه غفلت کېږي بلکې په عراق، افغانستان اونورې ټولې اسلامي نړۍ کې همداحال دی، که په حقيقي نظر وکتل شي نورښتيا داده چې عام مسلمانان داهيڅ اجتماعي مسئله او مسئوليت نه ګڼي، دعامو مسلمانانو په فکر داد هر چا شخصي مسئله ده، کوم مسلمان چې دکفارو يا دهغوئ دګوډاګيانو سره زنداني کېږي دهغه دکوچنيانو د کفالت، په رندان کې دخرڅ او دراخلاصولو لپاره دمصرف ټول غمونه به يې خپله کورنۍ خوري، که کورنۍ يې دا ټول مصرفونه په اوږو واخستای شي نود زنداني درخلاصېدوامېد به يې وي ګيني په زندان کې به پروت وي اودوسيه به يې ورځ تر بلې سختېږي.

دهېواد په مختلفوزندانونو کې په زرونو سوچه مسلمانان دهمداسې حالت سره مخامخ دي چې دمثال په توګه يې يوه ژوندۍ بېلګه دلته راوړل مناسب بولم، دتګاب عبدالرحمن، دخاص کنړفريدون دننګرهار درودا تو عبدالرحمن دري واړه ماپېژندل دوئ ډېر کلک مجاهدين وواو اودهېواد داشغال په هماغه ړومبوورځو کې يې دځو نورو ملګروسره يو ځای د اشغالګرو پر ضد جهاد پيل کړی ووچې کابوترځلورو کلونو پورې يې جاري وساتلو او په ډېرو سختو شريطو او حالاتو کې يې پر دښمن کامياب ګوزارونه وکړل، دري واړه په جلال آبادکې دامريکايانو اوداخلي استخباراتو په ګډو عملياتو کې ژوندي ونيول شول او څه کم ياڅه دپاسه دري کاله پس په پل چرخي زندان کې ددار په تختې وزړول شول، ځه چې دکوهي صافيوال عبدالرحمن فاتحې

ته ور غلم نو سپين ږيري پلار يې په ډېر حسرت راته وويل چې دا يوبه هم نه واى اعدام شوى خو كه پيسې مودرلوداى ماورنه وپوښتل چې آيا په پيسو داعدام نه هم بچ كېداى شول؟ هغه وويل هو !قاضيانوچې كومې پيسې غوښتى وې كه موورکړى واى نوداعدام پرځاى به يې جزا اوږد قيد واى خو مورږ ورنكړاى شوې ماورته وويل چې ډېرې زياتى پيسې يې غوښتې ؟ هغه وويل نه ډېرې زياتې نه وې خو زمورږدوس نه بېرون وې اوبل چاراسره كومک ونكړ،

داسې ډېرى بېلگې شته خوچې زما تر مخه تېر شوي نويوه بله بېلگه به يې هم ورښندى كړم، دكتورايمن يوعرب تكړه جراح و او جلال آباد ته ددې لپاره راغلى وچې دامريكا په بمبار كې دټپيانوشويو مسلمانانو تداوي به كوي، دهمدې هدف لپاره ورته په پوهنتون شفاخانې كې يو وارډ وركړل شوى و، د پوهنتون شفاخانې دمشرانو ډاكترانووينا داوه چې هغه داوارډ ډېرښه فعال كړى و اودبمبارپه ټولوشپو ورځوكې يې ډېرزيات ټپيان په ډېره ښه توګه تداوي كړي وو، په ړومبي ځل چې هغه جلال آباد ته دوا راوړى وه دسپين غرهوټل مخې ته ولاړو اونه پوهېدلو چې چېرته يې يوسي ځه پرې تصادفاراپښې شوم ما په هرځه پوه كړ اوچېرته يې چې تلل غوښتل هلته مې بوتلو اوچې مايې په ټولو ځايونو كې ترجماني هم وكړه نوراسره اندېوال شوچې تر آخره مې اندېوال و، كله چې سقوط كېدلو نوايمن هم دعربو مجاهدينو سره يوځاى توري بورې ته تللى و، دكابو يوې مياشتى بمبار نه پس چې بهرني مجاهدين دتورى بورې نه ووتل اوتوره بوړه دښمن قبضه كړه نو پكې يې ۱۷مجاهدين په ټپي حالت كې نيولي اوصحت عامه روغتون ته راوړي وو چې دكتور ايمن هم پكې و، ځه دهيڅ نه نه وم خبر، زمايودوست ډاكتر صيب راسره په لار كې مخامخ شو اوراته يې وويل

چې عرب مجاهدين يې شفاخانې ته راوړيد ي که ورځې ؟ ځه ورسره روان شوم، ځه چې مجاهدينو ته ورغلم نو دسور صليب نمايندګان ددوئ نه راتاو وو ځه چې ښه ورنېږدې شوم نو دکتور ايمن مې هم ددوئ په منځ کې وليد نوروټولو مجاهدينو دسورصليب دنمايندګانو نه مخونه اړولي وو ، کله نا کله به يې ورته بد بد راوکتل يواځې ايمن چې روانه انګلېسي يې ويله ورسره په خبربوخت وهغه چې ما ته راوکتل نو په مخ کې يې دخوښۍ نښې ښکاره شوې اويوبل سره په سترګوکې پوه شولو چې بايد څه وکړو ؟ کوم ډاکټر چې ځه دې وارډ ته ورننويستی وم دهغه سره مې خبره شريکه کړه اوپدې اتفاق راغلوچې دتشناب دکړکۍ له لارې به يې دشپې له مخې راوباسو دجال پرې کولولپاره موتشناب ته قينچي ننويسته اوايمن مو په پروګرام پوه کړ دماخوستن لمانځه نه پس ورته ځه او راسره يو بل ملګری دصحت عامې جومات مخې ته پدې انتظارکې ولاړوو چې ايمن به زمونږ دملګري ډاکټر صيب سره يوځای راووځي اومونږبه يې خوندي ځای ته بوځو خوله بده مرغه چې ډاکټر صيب يواځی راغلو او ويې ويل چې دمجاهدينو په سرپه پيرې باندې ګومارل شوي وسلوال پوه شول مونږ مايوسه راستانه شولو ، داهسې هم ډېر غمونو شپې ورځې وې خودپروګرام په ناکامۍ مونږ ډېر زيات خفه شو ، خير شپه تېره شوه اوسبابيا په فکرکې شولو خو په هيڅ لار نه پوهېدلو ماسپښين راته ډاکټر صيب نوی زېری راوړ ، ويې ويل چې دوسلوالو پيردارانومشر دحضرت علي سرګروپ دی خبره ورسره وشوه لس زره ډالر يې غوښتل خو دري زروته رابنکته شو ، مونږ له دې وروسته ددې پيسو دپيدا کولو لپاره هره خوا ډيرې هڅې وکړې، مګر ترهغه چې مونږ پيسې پيدا کولې دغه عرب بنديان دډاکټر ايمن په شمول له شفاخانې څخه انتقال شول او زمونږ هڅې يوازې دپيسو دنشتوالي له امله بې نتيجې پاته شوې.

موږ چې په ټولو کې يواځې د دکتور ايمن پسې هڅې کولې نو له دې امله نه چې داراته په ټولو کې لوی او اهم سړی ښکاريدلو بلکې له دې امله چې دغه سره زموږ تعارف واو هغه پر موږ اعتماد کاوه خوبيا وروسته موږته معلومه شوه چې هغه ډېر دکارسړی و ، ديو ډېرستر عالم ځوی او د مسلمانانو لوی خيرخواه انسان و.

هغه چې ډېر دکار سړی و ، دډېر لږ ځای نه زموږ د خدمت لپاره راغلی و ، خپله دناز او اسانتياو نه ډک ژوند يې پرېښی و او دلته يې زموږ سره دتکليفونو اومشقتونو نه ډکې شپې ورځې تېرولې نوځومره دافسوس خبره ده چې دډېرو کمو روپو په مقابل دصليبيانو دمنګولونه آزاد پدای شو خو موږ آزادنکړای شو .

زموږ هر رښتينی مسلمان چې دمسلمانۍ ، جهاد ، اسلام او مسلمانانو نه دفاع په جرم دکفارو يادهغوئ دګوډاګيانوسره قيد وي زموږ لپاره دټولې نړۍ نه زيات ارزښت لري اود راخلاصولو هڅې يې زموږ اجتماعي مسؤليت دی خدای دې وکړي چې موږ د دې مسؤليت په اړه دغفلت نه راووځو اومشران اوکشران ټول خپل دې سترمسؤليت ته متوجې شي آمين

د يوسف عليه السلام د زندانې کيدو کيسه

يوسف عليه السلام دحضرت يعقوب عليه السلام زوی اود حضرت ابراهيم عليه السلام له اولادې څخه وو ، سره له دې چې د يعقوب عليه السلام ۱۱ زامن نور هم وو ، خو يوسف عليه السلام دهغه دځانګړو شمائلو او اخلاقو له برکته ډېر پرې ګران وو ، چې همدې خبرې د يوسف عليه السلام دورونو په زړه کې دده په نسبت کينه پيدا کړه ، يوه ورځ

يوسف عليه السلام خوب وليد چې يوولس ستوري دغه راز لمر او سپوږمۍ ده ته سجده لګوي، په سهار يې داخوب خپل پلار ته بيان کړ، څنګه يې چې پلار حضرت يعقوب عليه السلام الهي پيغمبر وو، نو دده دخوب په تعبير پوه شو او دايي دنبوت بشارت وباله، له همدې املې يې ده ته وويل چې داخوب خپلو وروڼو ته بيان نه کړي، مګر بيا يې هم وروڼو دده په اړه خپل حسد ونه زغملای شو، له همدې املې يې يوه ورځ يوسف عليه السلام دلوبو په بهانه صحرا ته بوت، هلته يې يوې څاه ته وغورځاوو، او شليدلی کميس يې په وينو رنګين شوی حضرت يعقوب عليه السلام ته راوړ، او ورته ويې ويل چې يوسف ليوه وخوړ.

يوسف عليه السلام په څاه کې دالله تعالی په ځانګړي ساتنه سره وژغورل شو، تردې چې دمصر ديوې قافلې کاروانيانو دی له څاه څخه راويوست او له ځان سره يې مصر ته دغلام په حيث يووړ، څنګه چې يوسف عليه السلام دسيرت او صورت بې مثاله حسن او جمال درلود، په مصر کې يوازې د وخت يو حاکم (عزيز مصر) په دې وتوانېد چې دده قيمت ادا کړي، عزيزمصر يوسف عليه السلام کورته راووست او خپلې ښځې ته يې سپارښتنه وکړه، چې ددې نوي ځوان ښه ساتنه او پالنه وکړي، ځکه چې موږ ته به يې ډيره فايده ورسيږي او يا به يې خپل زوی وګرځوو.

د عزيز مصر ښځه چې خپل نوی غلام يوسف عليه السلام وينې، نو دوخت په تيريدو سره په زړه کې عشق ورسره پيدا شو، او داسې کوښښ يې پيل کړ چې يوسف عليه السلام دځان خواته مائل کړي، خو يوسف عليه السلام پله پسې اعراض کاوو، يوه ورځ يې يوسف عليه السلام په يوه بنده کوټه کې ايسار کړ او دعشقبازی غوښتنه يې ترې وکړه، يوسف عليه السلام په الله تعالی سره پناه وغوښته او دا کار يې دخپل بادار په حق کې ستر تجاوز وباله، او له دې ابتلاء څخه دځان

دخلاصون په خاطر يې ددروازې په خوا منډه واخيسته، دعزيز مصر ښځې په ده پسې لاس واچاوه او دنيولو په وخت يې دشالمن په لاس کې ورځيرې شوه، په همدې مهال عزيز مصر په دروازه راننوت او دحالت پوښتنه يې وکړه، دپاچا ښځې دخپلې ګناه دپټولو او ځان سپينولو په خاطر په مکر سره ورته وويل چې دهغه چا چې ستاداهل (ښځې) په حق کې دتجاوز اراده لري له دې پرته به يې بله سزا نه وی، چې يابنديې شي او يادردونکي سزا ورکړل شي، په دې وخت يوسف عليه السلام هم له ځانه ددفاع په خاطر وويل چې په ده کې ملامتيا نه شته، بلکې ښځه ګرمه ده، ددې دعوې په مهال درواياتو له مخې په همدې کور کې موجود يو تي خور ماشوم شاهدي ادا کړه او ويې ويل، چې که ديوسف عليه السلام لمن دمخې له خوا ځيرې وه نوګرم يوسف دی او که دشاخوا يې ځيرې وه بيا ګرمه په ښځه کې ده، دغه وخت چې ګوري ديوسف عليه السلام دشاه لمن ځيرې شوې ده، عزيز مصر پوه شوچې ګناه دښځې ده، نوېې ښځه ګرمه کړه او يوسف عليه السلام ته يې وويل چې له دې پېښې څخه صرف نظر وکړي.

خو څرنګه چې د پاچا دښځې په زړه کې ديوسف عليه السلام محبت سخت ځای نيولی وو، هغه بيا هم له دې خبرو منصرفه نه شوه، په دې وخت چې دپاچا دښځې ددې عمل اوازه خپره شوې وه يوه ورځ دپاچا ښځې دخپل شاهي خاندان همځولې او همرازې ښځې راټولې کړې، په يوه کوټه کې يې کينولې، دخوراک لپاره يې ميوې او چړې په لاس ورکړې، او په دې وخت يې يوسف عليه السلام له يوې دراوزې څخه پرې راويوست، ديوسف عليه السلام دجمال په ليدو ټولو ښځو هوش له لاس ورکړ او دميوو په ځای يې لاسونه غوځ کړل، او بې اختياره يې وويل چې دا (يوسف) بشر نه بلکې يوعزتمن ملک دی، دپاچا ښځې دغه مهال په

فخر او مباهات سره خپلو همځولو ته وويل چې هغه څوک دغه دی، چې تاسو يې په محبت باندې زه ملامتولم، مايوځل دی دځان خواته وغوښت خوده انکار وکړ، او که دی چيرې بيا زما خبره ونه مني، نو زه به يې بندي خانې ته وغورځوم، او يابه يې په حقارت او سختۍ مبتلا کړم.

سره له دې چې ديوسف عليه السلام ژوند له پيله امتحاناتو سره ملګری وو، خو داځل په سخت امتحان کې ولوېد، يوې خواته دپاچا ښځه دبدفعلۍ غوښتنه ترې کوي، او بلې خواته زندان دی، په همدې مهال يوسف عليه السلام وويل (رب السجن احب اليّ مما يدعوننی اليه)) ژباړه :ای زما ربه زندان راته د هغه څه نه زيات خوښ دی څه ته مې چې دوئ رابولي) په دې وخت کې ديوسف عليه السلام او دپاچا دښځې کيسه په خلکو کې هم مشهوره شوې وه او پاچا ددې په خاطر چې يوسف عليه السلام ګرم ثابت کړي، او ددې خبرو دنشر مخه تريوه حده ونيسي، يوسف عليه السلام يې زندان ته واچاوو.

په زندان کې ديوسف عليه السلام ژوند داسې وو چې د هرمؤمن مبارز زنداني لپاره سرمشق بلل کيدای شي، دی په پوره حوصله، زغم او رضاء سره زندان ته داخل شو، په زندان کې يې سمدستي دذکر، عبادت او له رب تعالی سره درابطې هڅې لازياتي کړې، دغه راز يې دخپلو زنداني ملګرو درهنمايي او اصلاح لپاره دعوت پيل کړ، او په دې لاره کې يې ډير کار وکړ او دټولو زندانيانو په زړونو کې يې ديوه پاک او مصلح انسان په توګه ځای ومونډ، يوه ورځ دوو زندانيانو ده ته خپل خوبونو بيان کړل، يوسف عليه السلام دتعبير په مهال ورته وويل چې د دوی له جملې به يو اعدام شي او بل به ازاد شي، همداسې وشول، له دې وروسته به يوسف عليه السلام دټولو زندانيانو خوبونه تعبيرول، او صحيح تعبيرونه به يې ورکول.

ديوسف عليه السلام په زندان کې څو کلونه ووتل، يو وخت دوخت حاکم پاچا خوب وليد، چې اوه چاغ غوايي راو ولاړ شي او اوه نورخوار غوايي وخوري، دغه راز يې په خوب کې اوه شنه وړي او اوه وچ وړي وليدل، ددې خوب دتعبير يې ډير تلاش وکړ، خو چاځواب ورنکړ، بلکې معبرينو ورته ويل چې دا اضغاث احلام (ګډوډ خوبونه) دي، وروسته پاچا خبرشو چې په زندان کې يو بندي دی، چې دخوبونو تعبيرکوي، خپل خوب يې ديوه چا په واسطه يوسف عليه السلام ته بيان کړ، يوسف عليه السلام تعبير ورکړ، چې په مصر باندې به اوه دابادۍ او ښيرازې کلونه راشي، او ورپسې به اوه نور دسختې قحطۍ کلونه راشي، دمصرپاچا بايد دښيرازې په کلونو کې غلې دانې او خوراکي شيان ذخيره کړي، ترڅو دقحطۍ په کلونو کې ترې استفاده وکړي.

پاچا ته چې کله دخپل خوب دا تعبير ورسېد نو ډېر حيران شو او دې تعبير او لارښوونو ډير اثر ورباندې وکړ، امر يې وکړ چې داڅومره پوه او حکيم سړی په زندان کې بندي دی، چې موږ ته نه يوازې دخوب صحيح تعبير راکوي بلکې دمشکلاتو ددفعې لارې چارې هم رابښيي، خپلو کسانو ته يې امر وکړ چې يوسف عليه السلام له زندان څخه راوباسي، دپاچا استازی زندان ته راځي او له يوسف عليه السلام نه غوښتنه کوي، چې له زندان څخه ووزي، خو يوسف عليه السلام ددوی له خبرې اعراض کوي، او هغه ته وايي چې دی له هغه وروسته له زندان څخه وزي، چې يوځل ځان له لګيدلي تهمت څخه سپين کړي، او دباچا استازي ته وايي چې ورشه خپل بادار ته دې ووايه چې دهغو ښځو دحال پوښتنه وکړي چې لاسونه يې غوڅ کړي وو، له دې وروسته هغه ټولې ښځې ديوسف عليه السلام په پاکي باندې شاهدي ادا کوي، دغه راز

دوزير ښځه خپله ګناه مني او وايي چې په يوسف عليه السلام کې ګرمه نشته بلکې ملامتيا په دې کې ده او دې هغه ځان ته بللی وو، چې په دې سره يوسف عليه السلام خپل عصمت، صدق او له ګناه څخه پاکوالی ثابت کړ او له هغه وروسته بيا دې ته تيا رشو چې له زندان څخه راووزي.

هغه څه چې ديوسف عليه السلام دزنداني کېدو له کيسې څخه پېژده کوو

ديوسف عليه السلام قصې ته په قرانکريم کې الله تعالی احسن القصص ويلي دي، ځکه دا کيسه د ډيرو زياتو مواعظو او پندونو درولودونکې ده، که ديوسف عليه السلام دنورژوند کيسه پريږدو او يوازې يې دزندان په کيسه تمرکز وکړو، داچې څنګه دی زندان ته داخل شو، په زندان کې يې څنګه ګوزاره وکړه او بيا څنګه له زندان څخه را ووت مونږ ته رابنيي، چې يومسلمان بايد په کوم حالت کې زندان ته اماده شي، او دحبس امتحاني موده څنګه تېره کړي.

داچې يوسف عليه السلام په زندان کې دننه دارشاد او دعوت مبارکه وظيفه سرته رسوله او دخپلو ملګرو داصلاح او هدايت هڅه يې کوله، مونږ ته رابنيي چې دحبس موده هسې مهمل وخت ونه بولو، بلکې له دې وخت څخه دځان او نورو انسانانو داصلاح او ددين دخدمت لپاره استفاده وکړو، دغه راز کله چې يوسف عليه السلام له زندان څخه راوتل تردې پورې مشروط کوي، چې يوځل دې له لګول شويو تهمتونو څخه دده سپيناوی وشي، مونږ ته رابنيي چې ديو مسلمان اجتماعي اعتبار او عدالت څومره ضرور دی چې بايد داغدار نه شي، او مسلمان بايد هميشه دې ته متوجه وي، د زندان دفوائدو او فضائلو په باره کې شايد دا کافي وي چې علماء کرامو ويلي دي چې دزندان دتکاليفو د زغملو په برکت يوسف عليه السلام ته دنبوت درجه ورکړای شوه، چې داډيرستر منقبت دی.

خو په سورة يوسف کې يوه ډېر پام وړ جمله داده چې يوسف عليه السلام زندان ته له داخلېدو وړاندې وويل (رب السجن أحب الي ممايدعونني اليه) له دې څخه ځينې خلک دا استنباطوي چې زندان په هر حالت کې ښه دی، ځکه چې يوسف عليه السلام محبوب بللی دی، دلته غواړو په دې قرآني آيت کې پرته باريکي او داچې يوسف عليه السلام په څرنګه حالت کې زندان محبوب بللی دی، درته روښانه کړو، ترڅو په دې مسئله زمونږ دورونو مجاهدينو علم راشي، چې زندان مطلقا محبوب نه دی، ځکه زندان دالله تعالی يوه لويه ابتلاء او امتحان ده چې په صبر سره تيرول يې ډېر فضائل لري خو خطرات هم ورسره ترلي دي ځکه دا امکان هم لري، ديوچا دستردينې او دنيوي زيان سبب وګرځي.

ګڼ شمېر مجاهدين او په ځانګړې توګه ځوانان د الله تعالی په لار کې د دښمن سره زنداني کېدلو ته ديو مرغوب فيه عبادت په نظر ګوري او د الله په لار کې د ټپي کېدلو او شهيد کېدلو په څېر دالله په لار کې زنداني کېدل هم لوی شرف ګڼي او دا ځکه چې د جهاد په موضوع په تقريرونو کې ځني نامتووينا وال او مقررين د الله تعالی په لار کې د بندي کېدلو ډېر فضيلتونه بيانوي، ځوانان ورته هڅوي او د الله تعالی په لار کې د زنداني کېدلو وېره داسی ردوي لکه د الله تعالی په لار کې شهيد کېدل او ټپي کېدل چې ردولای شي.

دا وينا وال اومقررين زندان ته تلل سنت يوسفي بولي، دزنداني کېدلو له وېرې احتياط کول په ډېروسختو ټکو ردوي، داحتياط خبرې اوداحتياط ژوندبزدلي ګڼي او وايي چې دبې غيرتۍ اوبزدلۍ دژوند نه خوزندان ډېرښه دی، د يوسف عليه السلام دزنداني کېدلو خبره رامخې ته کوي او وايي چې يوسف عليه السلام په ګناه کې دازاد ژوند پر ځای زندان ته ترجيح ورکړی وه او ويلي يې ووچې ((رب السجن احب اليّ مما

يدعوننى اليه)) ژباړه: اى زما ربه زندان راته د هغه څه نه زيات خوښ دى څه ته مې چې دوئ رابولي ،،

دامحترم وينا وال وايې: څوک چې موږته داحتياط توصيه کوي نو ورته وايو چې د بزدلۍ درس مه راکوئ ! او مه مو دزندان نه وېروئ ! دوئ وايې :زندان دوېرې شى نه دى نه ترې بايد مسلمان وه وېرېږي بلکې لکه د حضرت يوسف عليه السلام په څېر ووايې چې ((رب السجن احب اليّ مما يدعوننى اليه))،

شايد د همدې بيانونو اغېزې به وي چې کله ناکله په ظاهره د ناهيلۍ کومه خبره يا حالت رامخې ته شي نو په مجاهدينو کې د يو تن نه يو تن د خولې نه دا خبره راوځي چې د بې غيرتۍ د دې حالت نه خو زندان ښه دى،

حقيقت دادى چې داوينا وال ډېر محترم خلک دي ځکه چې دوئ ټولې وېرې شاته کوي او د جهاد په موضوع بيانونه کوي، مسلمان ځوانان د الله تعالى په لار کې قربانيو ورکولو او تکليفونو زغملو ته رابولي او په زرونو ځوانان يې دبيان اوربدلو نه پس دجهاد سپېڅلې لار ته راووځي، د تقرير او بيان دې شهسوارانو ته موږډېر د قدر په سترګه ګورودځان نه يې ډېر غوره ګڼو او د رايويې ډېر احترام کوو .

د دوئ جرأت او سپېڅلي احساس ته مې سلام دى خو چې خبره د شرعي مسئلې ده او غم د مسلمانانو د فکر د اصلاح دى نو وايم چې که شرعي اصول په پام کې ونيسو او احساساتى توب پرېږدو نو بايد ووايو چې د الله تعالى په لار کې زندانې کېدلو ته چې دوئ محترم او قدرمن ورونه په کوم حيثيت قائل دي د شرعي اصولو له مخې يې حيثيت دا نه دى او نه د حضرت يوسف عليه السلام پدې قول چې رب السجن احب اليّ مما يدعونني اليه باندې د دوئ استدلال درست دى .

اصلاً دې ته کتل پکار دي چې حضرت يوسف عليه السلام دا خبره په کوم حالت کې کړې وه او زمونږ شريعت د حضرت يوسف عليه السلام دې خبرې ته په کوم نظر ګوري ؟ نو تر کومه چې د هغه د حالت خبره ده هغه خو قرآنکريم په ډېر روښانه ټکو مونږ ته بيان کړيدی.

په کوچنيتوب کې دموراوپلارنه دجدايۍ، کوهي ته د غورځېدلو اودجبري مريتوب دمختلفومراحلونه دتېرېدواوډول ډول نوروتکليفونو زغملونه پس چې قسمت هغه د نړۍ دترټولو ستر اومتمدن سلطنت په پلازمېنې کې دپاچاکورته راورسولو نو ډېر هوسا او د راحت نه ډک ژوند يې پيل شو خو دلته د يو بل مصيبت سره مخامخ شو او هغه دا چې ايله د ۱۹ يا ۲۰ کلونو پدې عمر کې يې چې خورا ډېره ښکلی، تندرسته، صحتمنده او نوې ځواني وه ډومبی پرې پخپله د باچا هغه ښځه د ليونتوب تر حده عاشقه کېږي د کومې سره چې د ده شپه اوورځ په يوکورکې تېرېدله بيا يې په ټولې پلازمېنې کې حسن او ښکلی ځواني زخت زيات شهرت مومي او چې د ليدلو لپاره يې په پلازمېنې کې د مېشتو لوړپوړو چارواکو او غټو خلکو مېرمنې راغلې نو ټولو پرې زړونه داسی وبايلل چې خپل لاسونه يې پرې کړل خو پرې پوه نه شوې.

نوبس يوائې حضرت يوسف عليه السلام و او چارچاپېره ترې بې شمېره خورا ښکلي اومضبوط جالونه ووچې يوائې دهمده د راګېرولو لپاره غوړېدلي وو، دهمده د جنسي غوښتنو د را پارولو او د زهد او تقوی ماتولو ټول تدبيرونه پکار اچول شوي وو، هر لور ته ګناه د خپلې ټولې ښکلا سره مل ولاړه ده او دې ته انتظار باسی چې کله هم ورته ددې ځوان په زړه کې کوچنی ميلان پيدا شي نو ورته ځان وړاندې کړي.

داځوان شپه او ورځ په همدې غم کې دی اوډا وېره ورسره ملګری ده چې که یوه لمحه هم دغفلت ښکارشو یایې په عزم کې کوچنی لغزش رامنځته شو نو ورنه چارچاپېره تاو دګناه کمربند به مات او په یوې نه یوې دروازي به یې ننوځي نو ځکه یې وویل چې زما ربه ! دې مېرمنوچې په ګناه کې زما داخته کولو یازندان ته دلېږلو عزم کړیدی نو زه په ګناه باندې زندان ته ترجیح ورکوم.

نو یوسف علیه السلام چې دربّ السجن احب الیّ خبره کړیده په داسی سخت حالت کې یې کړیده چې د زندان پرته دګناه نه دخلاصون بله هیڅ لار ورته نه ښکاریده، مورِ که ((رب السجن احب الیّ)) وایو او زندان ته تلل دیوسف علیه السلام د سنتو راژوندي کول ګڼو وړاندی باید وګورو چې مورِ دحضرت یوسف علیه السلام په څېر حالت سره مخامخ یو ؟

بل داچې داحب معنی زندان ته دتللو سره مېنه نه ده بلکې علامه قرطبی رحمه الله داحب الیّ لاندي لېکلي: ای اسهل علی واهون من الوقوع فی المعصیة لا ان دخول السجن مما یحب علی التحقیق.

یاني د احب معنی داده چې په ګناه کې داخته کېدو په پرتله راته زندان ته تلل اسان دي دامعنی نه ده چې دزندان سره مې رښتینې مېنه ده

علامه بقاعی رحمه الله تعالی په خپل تفسیر ((نظم الدرر)) کې دلته ډېر ښکلی بحث کړیدی اوفرمایلی یې دي چې داحب الی معنی اکثرحباً نه ده بلکې معنی یې اقل بغضاً، یاني ګناه کې اخته کېدل اوزندان ته تلل یو هم داسی نه دی چې ورسره مینه وشي بلکې دواړه ددې وړ دي چې ورسره بغض وشي، خوداچې دکوم یو سره باید زیات اودکوم یوسره لږ بغض وشي ؟ نو حضرت یوسف علیه سلام روښانه کړه چې ګناه

سره مې بغض زيات او زندان ته دتللو سره مې دګناه په پرتله بغض کم دی، یوسف علیه السلام داقل بغضا نه ولی تعبیر په احب الی سره وکړ ؟ ددې علامه بقاعی رحمه الله تعالی ډېره په زړه پورې علمي نکته ذکرکړی خو ځکه تری تېرېږوچې اوږده ده او داسې اسانه هم نده چې هرڅوک ورباندې پوه شي. لنډه دا چې نه خو ددښمن سره زنداني کېدل په خپل ذات کې محبوب شی دی او نه زمونږ حالت دحضرت یوسف علیه السلام حالت ته ورته دی چې رب السجن احب الیّ ووایو .

خوبالفرض که څوک دیوسف علیه السلام حالت ته ورته حالت سره مخامخ شي نو دشرعي لارښوونونه داسې جوتېږي چې بیاهم داسې ندي ویل پکار بلکې تل د الله تعالی نه د عافیت سوال پکار دی، الله تعالی ته دیوسف علیه السلام په باره کې هم دا خوښه وه چې دعافیت سوال یې کړی وای ځکه چې ځنې روایتونو کې راغلي دي چې کله یوسف علیه السلام زندان کې واچول شو د الله تعالی له لورې ورته وحې وشوه چې ,, تا خو په زندان کې خپل ځان پخپله اچولی دی ځکه چې تا ویلي چې ,, رب السجن احب الیّ ،، که تا عافیت غوښتی وای نوعافیت به دې په برخه شوی وای.

امام بیضاوي رحمه الله تعالی په خپل تفسیر کې دلته فرمایي چې : وقیل انما ابتلی بالسجن لقوله هذا و انما کان الاولی به ان یسأل الله العافیة. ژباړه:په یوسف علیه السلام دزنداني کېدلو ابتلاء دهمدې خبرې له امله راغلی وه، دهغه لپاره غوره داوه چې دالله تعالی نه یې دعافیت سوال کړی وای.

دلته داخبره هم بایدله یاده ونه باسوچې په اوسنو حالاتو کې ددښمن په زندانونو کې دمسلمانانو دزنداني کېدلو اودیوسف علیه

السلام دزنداني کېدلو ترمنځ ډېرتوپيردی اوپه هيڅ دليل يودبل سره نه شي مقايسه کېدای ځکه چې يوسف عليه السلام ته په زندان کې ډېرد قدر په سترګه کتل کېدل، هيڅ ډول جسماني تکليف ورته نه ورکول کېدلو، په زندان کې دننه يې خلکو ته دحق اوصداقت پېغام هم رسولو اوخلک يې دالله تعالی يووالي ته رابلل، چا چې زندان ته استولی و اودچا په زندان کې چې و هغوئ څه د حضرت يوسف عليه السلام محارب دښمنان نه وو او نه هغوئ حضرت يوسف عليه السلام ته د دښمن په سترګه کتل بلکې صديق او امين يې باله د زنداني کېدو نه وړاندې يې د باچا په کور کې د شهزادګانو په څېر ژوند تېراوه او د زندان نه د وتلو نه پس يې د همدوئ په حکومت کې ګويا د مالي د وزير په توګه دنده هم اجرا کړه خو بيا هم مفسرين فرمايي چې کان الاولی به ان يسأل الله العافيه ژباړه: د يوسف عليه السلام لپاره غوره دا وه چې د الله تعالی نه يې عافيت غوښتی وای.

او په يو روايت کې راغلي چې الله تعالی حضرت يوسف عليه السلام ته وفرمايل چې ,, يا يوسف انت حبست نفسک حيث قلت رب السجن احب الیّ ولو قلت العافية احب الیّ لعُوفيتَ ،،

يوسفه ! تا پخپله د خپل ځان لپاره زندان غوره کړ چې رب السجن احب الیّ دې وويلو او که العافيه احب الیّ دې ويلی وای نو عافيت به دې په برخه شوی وای.

نو يوسف عليه السلام چې په زندان کې يې هيڅ ډول سپکاوی نه کېدلو، د زنداني کېدلو د تکليف پرته د بل يو ډول ستر فزيکي يا رواني تعذيب يا تکليف سره نه و مخامخ او که مخامخ شوی وای نو د هغه عزم د پېغمبرانو عزم و، د لوی زغم او صبر مالک و دهر ډول تکليف ګاللو

توان يې درلودلو او هيڅ ډول بې صبري به ورنه نه واى شوى خو بيا هم ورته د عافيت غوښتل غوره ګڼل کېږي نو اوسني زندانونه چې پکې مجاهدين د خورا سختو زياتو ظلمونو او وحشتونو ښکار کېږي، ډېرسپکاوى يې کېږي او د ډول ډول روانې فشارونولاندې راوستل کېږي نو آيا دزندان نه عافيت غوښتل به ورته ضروري نه وي ؟

بيا ډېره مهمه داده چې په زندان کې دتکليفونو زغمل او وربانديي صبر هم څه اسان کارندى، کومو مسلمانانوچې زندانونه تېر کړيدي هغوئ تر ډېرښه خبردي، نو ځان په زوره لويې ابتلاء ته وړاندې کول عقلمندي نه ده.

دترمذي شريف حديث دى: عن حذيفة قال قال رسول الله صلى الله لاينبغى للمؤمن ان يذل نفسه، قالوا وكيف يذل ؟ قال ان يتعرض من البلاء ما لايطيق.

ژباړه: حذيفة رضي الله عنه فرمايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ديو مومن سره دانه ښايې چې خپل ځان ذليل کړي، ناستو مسلمانانو پوښتنه وکړه چې مومن به څنګه ځان ذليل کوي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل دځان ذلت دادى چې داسى مصيبت ته ځان وړاندي کړي چې طاقت يې نه لري.

څرګنده ده چې داوسنو زندانونو تکليفونه داسى ندي چې انسان يې دزغم توان ولري.

هغه ورونه چې په مجاهدينوکې کلک ګڼل کېږي چې په هغوئ کې ځينو دځان وژنې هڅې کړيدي نوددې زندانونودا تکليفونه به څومره وي ؟ !او څرنګه به دزغم وړوګڼل شي؟

په صحابه ووکې چې کوم صحابي دالله تعالى نه صبر غوښتى يايې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض کړي چې د الله تعالى نه راته

صبر وغواړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې رد کړیدی او فرمایلي يې دي چې د مصيبت غوښتونکی يې چې د الله تعالی نه صبر غواړې ؟ يانې دصبر ارټيا خو د مصيبت پر مهال وي او دمومن لپاره دمصيبت نه بلکي دعافيت غوښتنه پکار ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم به تل خپلو صحابه ووته فرمايل چې: سلوا الله العافية يعني: دالله تعالی نه دعافيت (دغمونو، دردونو، مصيبتونواوآفتونو نه دخلاصون) غوښتنه کوئ ! دمسلمان شان دادی چې پخپله به مصيبتونو ته دعوت نه ورکوي بلکي ورنه به وېرېږي او دځان ساتلو اسباب به يې اختياروي خو که پرې اخته شي نو صبر به کوي او پرې به دالله تعالی نه داجرامید لري.

نوزندان يانې درذيل، خونخوار او وحشي دښمن په لاس کې پرېوتل چې يو ستر مصيبت دی تري ويريدل او ورنه دځان ساتلو ټول احتياطي تدابير اختيارول څه بزدلي نه ده بلکې د الله تعالی حکم پرځای کول او دشريعت په سپيڅلو اصولو عمل کول دي چې همدا دين دی، دخپل ځان نه څه ته ښه يا بد ويل يا دخپلو احساساتو تابع کېدل دين نه دی بلکي دشرعي اصولو متابعت دين دي. الله دې يې زمونږ دټولو په برخه کړي آمين.

په افغانستان کې دزندانونو په اړه څو عمومي يادونې

زندان او توقيف ددرست بشر دتاريخ په ځير دافغانستان له تاريخ سره هم له ډير پخوا څخه کوشير خورلی، افغان سلاطينو سلګونه کلونه پخوا لا دخپل مخالفينو لپاره زندانونه جوړول، او له دې چارې يې دخپل سلطنت دساتنې ديوې ويرونکي حربې په توګه کار اخيست.

لکه څنګه چې دنړۍ په تاريخ کې ځينې مهمې پېښې له زنداني تعذيبونو او بنديانو له اغتشاشونو څخه پورته شوي دي (دبيلګې په

توګه دفرانسې انقلاب چې درسته اروپايې بدله کړه د زندان له پاڅون څخه پيل شو) په افغانستان کې هم زندان هميشه د تاريخي پيښو او بدلونونو د پامونړ سرچينې په شکل بروز کړی دی.

په افغانستان کې هم ډير ځله دزندان څخه تښتيدلی بندي دپاچاهي په نړولو توانيدلی، دغه راز دهيواد سهارنی واکدار په مانښام کې دزندان تيارو ته لويدلی دی، د ۱۹ پيړۍ په وروستيو او ۲۰ ميلادي پيړۍ په لومړيو کې چې هيواد مو په پله پسې توګه ترانګريزي ښکيلاک لاندې و، دغه راز ديوې اوږدې مودې لپاره مو دهيواد زعامت او بهرنی سياست دنړيوالو اشغالګرو لخوا اشغال شوی و، دهيواد د ازادي غوښتونکي قشر دغوښتنو او دخپلواکۍ ددا عيې په ټکولو کې زندان او زنداني تعذيب ته د يوازينۍ مؤثرې وسيلې په سترګه کتل کيدل.

په دې زمانه انګليس پالو واکمنو دهيواد داستقلال غوښتونکي او پوه قشر دابل کولو او له منځه وړلو لپاره ستر ستر زندانونه جوړ کړل، او دتعذيب ډول ډول آلات يې په کې نصب کړل، ترړل، ولچک، غرب وغراب، زولانه، قين قين، خوب ته نه پريښودل او رندول دسزاګانو هغه نومونه او ډولونه دي چې بنديان ورسره هميشه مخامخ وو، دغه راز داعدام لپاره هم له ډير بوږونکو طريقو لکه سره شوي تبل، دتوپ خولې ته ترړل، دونې دښاخونو په زور څېرل، برچه پک، چارماري، غرغره، دبدن غړي پرې کول او په صليب کولو غوندې له بوږنوونکو طريقو څخه کار اخيستل کيده.

هغه مهال په پلازمينه کابل کې بالاحصار، دشيرپور قشله، دارګ زندان او دشوربازار د سرای چقورک زندان له پيژندل شويو زندانونو

څخه وو، چې ډيرې تنګې، نمجنې او تيارې کوټې او تاکاوې يې درلودې او بنديانو به په کې په خورا بدو شرائطو کې ژوند کاوه

له هغه را وروسته دظاهرخان او داود خان دواکمنيو په مهال هم په هيواد کې دزندان جوړولو، زندان پراخولو او زنداني کولو بهير په قوت کې روان و، په ۱۳۳۵ ه ش کې چې په کندهار کې ديني علماء کرامو دسينما او دښځو دبې سترۍ په ضد مظاهره وکړه، زياتره يې دوخت دحاکم رژيم لخوا زندانونو ته واچول شول، دغه راز له هغه وروسته په بيا بيا دهيواد په ګوټ ګوټ کې علماء کرام او دشرعي اصلاحاتو مبارزين دوخت درژيموالو لخوا نيول کيدل او په حبس محکوميدل، څنګه چې داولس دحق غوښتونکي غږ په وړاندې دحکومت رويه سختيدله، او په مقابل کې داولس په منځ کې دمبارزې فکر هم زور اخيست، دزنداني کيدلو او نيولو پيښې هم زياتې شوې، او دوخت حکومت مجبور شو، چې په هيواد کې دزندانونو چارو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

په دې موده کې دزندانونو دتوسعې او کنټرول لپاره دکورنيو چارو په وزارت کې دمحبسونو او صناعتونو په نوم يو عمومي رياست پرانيستل شو، چې په پلازمينه او درستو ولايتو کې يې دزندانونو چارې په نوې بڼه تنظيم کړې، دسردار داود دواکمنۍ دوران دافغانستان په سطحه دزندانونو دتوسعې له اړخه مهم پړاو و، دده په وخت کې دپل چرخي ستر زندان بشپړ شو، دغه راز دکندهار دسرپوزې د زندان په شمول دهيواد په لراوبر کې ګڼ زندانونه جوړ کړای شول.

کله چې په افغانستان کې کمونيستان قدرت ته ورسيدل نودلته په ډله ايزه توګه دزنداني کيدلو، شکنجو، تعذيبونو او عام وژنو

ببساري دوران پيل شو، کمونيستانو هر هغه څوک زندان ته اچول چې ددوی له حکومت، افکارو او عقايدو سره يې مخالفت درلود اويا به يې ددوی له خندونکو فرامينو څخه غاړه غړوله.

دکمونستانو دمهال دزندانونو وضعيت او جنايات

کمونيزم له لويه سره يوه جاني، بې رحمه، وژونکي او وحشتناکه پديده وه، چې نړيوال بشريت ته يې سخت زيانونه واړول، که دنړيوال کمونيزم جنايت په تفصيل سره يادوو نبايي دادیوې مقالې ترحوصلې لوړه موضوع وي، افغاني کمونيستان چې ځانونه به يې ترمارکس مارکسسترين کمونستان بلل، دنورو افراطي کړنو غوندې دبشري جناياتو او مظالمو په برخه کې هم خورا سخت دريځه او بې رحمه ثابت شول، دوی دخپلې ۱۴ کلنې واکمنۍ په مهال دافغانستان په لراوبر کې په خپل اولس هغه ظلمونه وکړل چې په منځنۍ اسيا او ختيځه اروپا کې يې دستالين کمونيستي جنايات له بشريت څخه هير کړل.

دوی دغوايي له کودتا سره سم دخلکو په نيولو او زنداني کولو لاس پورې کړ، په پلازمينه او ولايتو کې په تيارو شويو زندانونو سربيره دولسوالیو او ولايتونو دامنيه قومندانيو ودانۍ او داګسا او خاد په نوم داستخباراتو رياستونه هم دزندانونو يا توقيف خانو په توګه کارېدل، د زنداني کولو په چاره کې کمونيستان دومره افراطي وو، چې هسې د شک يا غلطو معلومات له امله يې هم خلک زنداني کول، اوډير ځله خو يې سلامتې کورنۍ له نښو او ماشومانو سره زندان ته اچولې، له همدې امله وه چې دبنديانو شمير په خورا چټکۍ سره زيات شو، او

حجم يې دهيواد له شته محبسونو او توقيف خونو څخه ډير شو ، دامهال نو کمونيستانو دهمدې زندانيانو په اعدام لاس پورې کړ ، او په شپه شپه کې يې نيول شوي هيوادوال په پله پسې توګه له زندانونو ايستل او اعدامول، ددوی ددې کړنو دتوجيه لپاره يوه کمونيستي رهبر حفيظ الله امين په پوره صراحت ويلي و ، چې :((موږ شل مليوني افغانستان ته ضرورت نلرو ، بلکي زموږ لپاره کافي ده چې يوه پنځوس زرېزه نمونه پرولېتاريا (سوسيالېستي ټولنه) ولرو)).

داسې ويل کيږي چې ډير ځله خو دزندانيانو داعدام دنورو عواملو په ځای يوازې ددې لپاره کيدل چې دنويو نيول کيدونکو کسانو لپاره ځای خالي شي، داسلامي امارت دواکمني په مهال دداخله وزارت دمحابسو دعمومي رياست په ارشيف کې د خاد دمشر ډاکټر نجيب لخوا امضاء شوی داسې سند وموندل شو چې نومورې دپل چرخي دزندان مسؤلينو ته ليکلي وو چې ((غرض تخليه زندان ۹ هزار تن از متهمين به پاکستان اعزام شود)) کله چې ددې مکتوب دمطلب په اړه دهمدې رياست له پخوانيو کارکوونکو څخه پوښتنه کيږي، هغوی وايي چې هغه مهال دپول چرخي دمسؤلينو او خاد ترمنځ دپوليګون شفري نوم پاکستان و ، نو دا امر ددې لپاره ورکول شوی و ، چې دزندان دتخليې لپاره دې ۹ زره بنديان پوليګون ته وليږل شي يعني اعدام دې شي !!.

دکره معلوماتو له مخې دکمونستانو دواکمنۍ په مهال يوازې دپل چرخي دزندان تر يولک او ديرش زرو ډير زندانيان په ډله ايزه توګه اعدام شوي يا ژوندي ترخاورو لاندې شوي دي، چې په دې خلکو کې اکثره دهيواد مخور علماء، صوفيان، مدرسين، مخور سپين ږيري، دپوهنتون زده کوونکي، استادان او دهيواد دتعليميافته قشر ځوانان او سپين روبي شامل وو ، دا خلک پل چرخي ته نږدې په هوارو سيمو د

ده سبز په دښته، پوليګون، دچمتلې په دښته او ځينو نورو سيمو کې په ډله ايزه توګه ښخ شوي دي، يوه پخواني کمونيست جنرال په دې وروستيو کې ويلي دي، چې په يادو سيمو کې د ټانګونو پخوانۍ موضع ګانې چې دعسکري تمريناتو لپاره به کار ترې اخيستل کيدو، له همدې بنديانو څخه ډکې شوي دي او بيا خاورې پرې اړول شوي دي.

له کابل پرته دهيواد دنورو ولايتو په زندانونه کې هم وضعيت همدومره وحشت ناک او بوږنوونکی و، او په ټولو زندانونو کې قتل او تعذيب روان و، دبيلګې په توګه په جنوب ختيځ زون کې لوی محبس (دګرديز مرکزي محبس) چې دښار لويديځ ته موقعيت لري، داسې شواهد شته چې په زرګونو زندانيان يې قتل شوي دي، دمحبس لويديځ لورې ته اواره دښتې سيمه چې د(پړاو) به نامه يادېږي، په بيلابيلو ځايونو کې يې ډله ايز قبرونه موندل شوي دي، اوکه په دې سيمې کې دقيقې پلټنې وشي ښايي دلته دترسره شوي وحشت نور اثار هم وموندل شي،

دکندهار دسرپوزې زندان چې دهيواد له سترو زندانونو څخه شميرل کيږي هم دهمداسې قتل عامونو شاهد و، ددې زندان نه يوازې په شاوخوا سيمو کې خلک په ډله ايزه توګه وژل شوي او دفن شوي دي، بلکې دزندان په محوطه کې هم ډير خلک ترخاوره لاندې شوي دي

د ۲۰۰۳ ميلادي کال دجون په مياشت چې دسرپوزې له زندان څخه مجاهدينو يولنډ تونل وهلی و، او يوشمير مجاهدين ازاد شوي وو، دهمدې جريان يو برخوال او عيني شاهد ملامحمد نسيم وايي، چې دتونل وهلو په مهال په پله پسې توګه دانسانانو هډونه راختل، او دزندان محوطه داسې معلوميده لکه يو ډليز قبر چې وي، له دې څخه معلوميږي چې

کمونیستانو په دې زندان کې هم سخت جنایات ترسره کړي دي، او ډیر بندیان یې دزندان په محوطه کې دننه ترخاورو لاندې کړي دي.

په هرات ولایت کې هم دکمونیستانو دمهال دشهیدانو ستر ډله ایز قبرونه موندل شوي دي، چې لسګونه زره کسان په کې دفن دي، دهرات دشهیدانو مشهوره هدیره (شهدای ګمنام) په دې سیمه کې دکمونیستي جنایاتو ژوندي او تلپاتې شواهد دي، په دې سربیره دننګرهار دثمرخېلو دښته، دلغمان دمهترلام بابا او سرخکانو دښتې دکونړ کراړه، دکندهار منزل باغ او دصوفي صاحب دښت هغه ځایونه دي چې دکمونیستانو دمهال دډله ایزو قبرونو اثرات په کې شتون لري او که په پلټنې په کې ترسره شي، دکمونیستي مهال له زنداني کسانو سره دترسره شوی جنایت ډیر اړخونه به ترې روښانه شي.

په ټوله کې دکمونیستانو د واکمنۍ دوره دافغانستان په تاریخ کې د ظلم، زنداني تعذیبونو او دزندانیانو سره دناسم چلند او وژنو له اړخه ترټولو توره او بوږنوونکي دوره وه، چې شاید دبشریت تاریخ یې ډیر لږ مثالونه ولري، په دې دوره کې نه یوازې داچې دهیواد په لراوبر کې دزندانونو او توقیف خانو زیاتره بندیان ورک او ووژل شول، بلکې کوم چې ژوندي راخلاص شول هغه هم دناسمو شرایطو له املې په همیشنیو امراضو لړلي او روحي رنځورانوو، دا ځکه چې هغه مهال دزندان مفهوم له اصلي هدف څخه چې (داصلاح ځای ورته ویل کیږي) تغیر کړی و، او یوازې دتعذیب په ځای بدل شوی و، دزندانیانو داوسیدلو شرایط خورا سخت وو، چې په ژمي کې به له یخ او په اوړي له ګرمۍ ځوریدل، دزندانیانو حفظ الصحې ته توجه نه کیدله او نه یې دذهني بوختیا او تعلیم لپاره کوم شرایط موجود وو.

امريکايي يرغل چې ورسره دزندان جوړولواوډکولو نوې لړۍ پيل شوه

لـه امريکـايي يرغـل وړانـدې دا سـلامي امـارت پـه دوره کـې دزنـدانونو دوضـعيت پـه اړه بـه ووايـو ، چـې اسـلامي امـارت ښـايي دافغانستان په وروستيو حکومتونو کې هغه يوازينۍ حکومت و ، چې ډيـر محـدود شـمير بنـديان يـې درلـودل، دا سـلامي امـارت پـه مهـال دسپيڅلي شريعت له نفاذ سره دجرمي پيښو کچه خورا کمه شوه، او له امارت سره يوازې دمخالفينو ځيني جنګي اسيران بنديان وو ، دبنديانو دتربيې لپاره پـه زندانونو کې تعليمي او تدريسي سلسلې پيل شوې، چې د ډيرو بندي هيوادوالو داصلاح او هدايت سبب وګرځېدې، مګر دا سلامي امارت دمخالفينو په خوا کې دبنديانو په وړاندې جنايات پـه خورا بوږنوونکي توګه روان وو ، دهيواد په شمال کې دجنبشي قومندان جنرال مالک لخوا دا سلامي امارت تر دري زره زيات هغه بنديان پـه ډلـه ايز ډول ددښت ليلې او حيرتان په سيمو کې پـه ډلـه ييزه توګـه شـهيدان شول، چې هلته ديوې موافقې له مخې ورغلي وو او وروسته غدر ورسره شوی وو ، ددې پيښو په اړه نړيوالو بشري ادارو هم ځيرنې کړې دي او په دې سيمو کې يې بوږنـوونکي جنايـات تائيـد کـړي دي، پـه دې سـربيره دهزاره جاتو په سيمو کې هم په بيا بيا دا سلامي امارت نيول شوي افراد ددښمن لخوا پـه ډلـه ايزه توګه ووژول شول، دعيني شاهدانو له قولـه کلـه چې دا سلامي امـارت لخـوا ديکاولنګ ښـارګوټی فتحـه شـو دښـمن لـه

تيښتې وړاندې په دې سيمه کې موجود زندان ته لاسي بمونه ورغوځولي وو او ټول بنديان يې چې شمير يې لسګونه وو په شهادت رسولي وو، په پنجشير کې بيا دنظار شورا ټوپکوالو له بنديانو سره په سخت چلند سربيره په دوی شاقه کارونه کول، لارې او زابوران يې پرې جوړول، او سخت وضعيت يې ورسره کاوه، چې دا له انساني حقوقو څخه څرګند مخالفت و.

د ۲۰۰۱ ميلادي په اکتوبر کې امريکايانو په افغانستان پوځي تيری وکړ، او له کابل څخه يې د اسلامي امارت دمجاهدينو له عقب نشينې وروسته واک خپلې يوې اجيرې اداړې ته وسپاره، ددې يرغل او نوي رژيم له راتلو سره هم مهال هم کټ مټ هغه څخه تکرار شول چې دکمونيستانو د واکمنې او شوروي يرغل په مهال شوي وو، امريکايي يرغلګرو او تحت الحمايه رژيم يې دکمونيستي خادياتو غوندې داولس په زندانې کولو پيل وکړ، په لومړيو کې هر هغه څوک دطالب او مجاهد په شک نيول کيده او زندان ته اچول کيده چې ظاهري صورت او سيرت به يې له نبوي سنتو سره موافق و.

د رژيم او يرغلګرو له رسمي زندانونو سربيره په دې توره دوره کې دشخصي زندانونو پديدې هم سر راپورته کړ، دهيواد په لراوبر کې ټوپکسالاران، داړه ماران او دبهرنيو استخباراتو اجيران دبيلابيلو موخو لپاره دشخصي زندان جوړولو په فکرکې شول، دهيواد په شمال کې جنبشي قومندانانو، دغه راز دنظار شورا ټوپکيانو چې هغه مهال يې په کابل او يوشمير مرکزي ولايتو کې دامريکايي يرغل لپاره مقدمة الجيشي دنده په مخ وړله، ډيرو يې شخصي محبسونه جوړ کړي وو، چې

دشخصي غچ اخيستلو، بندي خرڅولو، دپيسو لپاره برمته کولو او نورو موخو لپاره يې تر پ کار اخيست.

دا مهال نو دازندانونه دهمدې خودسره او اوباشه ټوپکيانو لپاره دپيسو پيداکولو ترټولو ښه منبع وه، امريکايي يرغلګر چې هغه مهال دافغانستان دوضعې او د دوست او دښمن دپيژندلو په چاره کې د چا خبره ړانده چرګان وو، دهمدغو جګړه مارانو په لومه کې ښکيل شوي وو، او خلک يې يوازې ددوی په مشورو او اشارو باندې نيول اوزنداني کول.

څنګه چې امريکايانو به دهر مجاهد په سر همدې قومندانانو ته امتيازات ورکول، نودوی هم ټوله هڅه کوله چې يوڅوک زنداني کړي او بيا يې په امريکايانو باندې وپلوري.

هغه مهال دافغانستان په بيلابيلو سيمو کې معلوم الهويته قومندانان او ټوپکسالاران په دې جنايت بوخت وو دوی دشخصي اغراضو په خاطر خلک نيول او بيا يې امريکايي استخباراتو ته سپارل، اوله هغوی نه يې په مقابل کې پيسې اخيستلې، دهيواد په شمال ختار او کندز کې دتخار مشهور جګړه مار جنرال داود، پيرم قل ضيايي او ډله يې، په بلخ، هزاره جاتو او شمالي صفحاتو کې جنرال دوستم، فيض الله ذکي، اسحاق رهګذر، محمد محقق عطامحمد نور او نور تيټ پوړي قومندانان او ټوپکوال يې، په لويديځ افغانستان کې تورن اسمعيل او ټوپکوال يې، په هلمند کې اميردادو او اخوندزاده شيرمحمد، په کندهار کې خالد پښتون، ګل اغا شيرزی، احمدولي کرزی، اکرم خاکريزوال، عبدالرازق، کرم، نازک، حاجي ګلالی، خال محمد، اغاشاه او نور، په روزګان کې خان محمد خان او مطيع الله پوپل په زابل کې

تورقوماندان، حميدالله توخی او نور افراد يې، په غزني کې اسدالله خالد او په وردګو کې مظفر الدين او دنظار شورا ټوپکوال، په لوګر کې عتيق لودين، په پکتيا کې پاچا خان ځدران، عبدالله مجاهد، اسحاق ګردیزی او عبدالمتين حسين خيل، په خوست کې خيال باز شيرزوی، دلبرجان ارمان او نور ټوپکوال، په پکتيکا کې زکيم خان قومندان، په ننګرهار کې ظاهر قدير، حضرت علي، په کونړ کې ملک زرين دغه راز دهيواد په مرکزي ولايتو او کابل ته ځيرمه سيمو کې دنظار شورا پورې تړلي قومندانان لکه قسيم فهيم، بسم الله خان، بابه جان، ګل حيدر، سيد خيلي، بصير سالنګي او نور په دا ډول جنايتو بوخت وو.

په دې مهال کې دهيواد په بيلابيلو سيمو کې دطالبانو اومجاهدينو په تور نيول شوي زندانيان دهمدې جګړه مارانو په لاس نه يوازې امريکايانو ته وسپارل شول بلکې په زرګونو يې قتل عام هم شول، په همدې لړ کې په کندز، بغلان، هزاره جاتو بلخ، شبرغان، او ځينو نورو سيمو کې دا تراژيدی رامنځته شوې، په کندز کې چې کوم مجاهدين دملل متحد په منځګړيتوب ديوې موافقې له مخې په دي شرط رشيد دوستم ته تسليم شول چې په خوندي توګه به جنوبي ولايتو يعني هر څوک خپلو سيمو ته ليږدول کيږي، زياتره يې يا ځای په ځای ووژل شول او سلګونه نورو يې ترمزار پورې په کانتينرونو کې دساتنګی له وجې په شهادت ورسيدل، دزابل ولايت دسيوري ولسوالی اوسيدونکی ملا محمد اکبر چې له دې پيښې روغ راوتلی وايي چې هر کانتينر ته تر سلو ډير کسان وروا چول شول، دی وايي کله چې دکانتينر دروازه راپسې وتړل شوه، نوسم دستي نفس تنګي پيدا شوه، په دې کې دځينو ملګرو

دکانتينر لاندينې غولي ته پام شو چې دلرګينو دړو(تختو) څخه جوړ و، نومورې هغه دړې ټولې وايستې او په دې توګه دکانتينر لاندې برخه خلاصه شوه او تازه هوا راغله چې له همدې املې زمورې ملګري روغ پاته شوو، خوکله چې مزار ته ورسيدو ومولیدل، چې داکثره کانتينرو ټول بنديان پرته له دوو دريو کسانو څخه شهيدان شوي وو.

له دې پيښې وروسته په قلعه جنګي کې ددوستم مليشو دامريکايي استخباراتو په اشاره دزندانيانو دقتل عام لپاره يو دسيسه جوړه کړه چې په پايله کې دمزار په قلعه جنګي کې بندي په سلهاوو زندانيان په شهادت ورسيدل، دغه راز په همدې موده کې يو زيات شمير بنديان دشمال په بيلابيلو برخو کې په پټه او ښکاره توګه شهيدان شول، يا ترډيره وخته په شخصي زندانونو کې وساتل شول او وروسته خپلو کورنيو ته دپيسو په مقابل کې ورپرېښودل شول، په دې موده کې دشبرغان زندان يوځل بيا دسترو جنايا تو شاهد و، په دې زندان کې هم ډير کسان زنداني شول، چې ډير کم شمير يې بيرته ژوندي راخوشي شول په افغانستان له امريکايي يرغل وروسته دشخصي زندانيانو دساتلو په چاره کې نه يوازې افغان جګړمارانو بوخت وو، بلکې ددې کار لپاره يوشمير بهرنيان هم افغانستان ته راغلي وو، د ۱۳۸۳ هش کال په منځنيو مياشتو کې دکابل په کارته پروان کې يو داسې زندان ومونډل شو، چې دجک آی ډيما په نامه يوه امريکايي تبعه په شخصي توګه جوړ کړی او زندانيان يې په کې ساتل، وروسته ده وويل چې په دې کار کې دنظار شورا قومندان اودکرزي دادارې لومړی دمعارف !اوزيريونس قانوني هم ورسره شريک و.

امريکايانو له يرغل سره سم دزندانيانو دساتلو لپاره بيلابيل زندانونه جوړ کړل، په دې زندانونو کې ځينې يې ښکاره وو، مګر ځينې نور يې داسې وو چې تراوسه يې موقعيت نه دی تشخيص شوی، دکندهار هوايي ډګر، دبګرام زندان، دخوست هوايي ډګر او يوشمير نور دامريکايانو له ښکاره زندانونو څخه و، دغه راز په بيلابيلو ولايتونو کې د PRT مراکز هم دزندانيانو دساتلو لپاره کارېدل او اوس هم ترډيره حده دهمدې اونوروبشرضدکارونولپاره استعماليږي.

کره راپورونه او يوشمير راخلاص شوي بنديان وايي چې :امريکايي پوځيان له معلومو زندانونو څخه پرته نور پټ زندانونه هم لري، چې دژوند شرايط يې خورا سخت او وحشيانه دي، دهمدې راپورونو په اساس امريکايان په خپلو سمندري اډو، او په ختيځه اروپا او خليج کې په خپلو قرارګاوو کې هم پټ زندانونه لري، چې له نړيوالو بشري سازمانونو څخه پټ ساتل شوي دي، خو دامريکا دمعلومو زندانونو له جملې ترټولو مشهور زندان دګوانتانامو زندان دی، چې دکيوبا په جنوب شرقي څنډه کې دګوانتانامو په جزيره کې جوړشوی دی، دازندان په په افغانستان دامريکايي يرغل په لومړيو کې د ۲۰۰۱ لومړي کال په پای کې په يادې جزيره کې ددې ره امريکايي سمندري ځواکونو لخواتاسيس شو، چې وروسته دافغانستان دجګړې اسيران ورانتقال شول، او يو دنړۍ له خبر جوړونکو زندانونو څخه شو.

په کابل کې دکرزي دحکومت له تېنګښت سره حکومت هم پخواني زندانونه له سره فعال کړل اونوي زندانونه يې هم جوړکړل، او يوځل بيا يې دافغان اولس له بچيانو ډک کړل، په ۱/۲/۱۳۸۲ ه ش نيټه

حامد کرزي دیوه فرمان په صادرولو سره دزندانونو عمومي ریاست چې په داخله وزارت پورې تړلی و ، دمحابسو او توقیف خانو دعمومي ریاست په نامه په عدلیې وزارت پورې وتاړه ، په دې سرببره یې دهیواد په لراوبر کې دزندانونو دتوسیع لپاره په کار پیل وکړ ، دکرزي دادارې دعدلیې وزارت دراپور له مخې دامریکا پرمختیایي ادارې USAID په لومړني کومک کې دمحابسو له ریاست سره دزندان جوړولو لپاره د پنځه ملیونه ډالرو مرسته وکړه ، دغه راز NDS موسسې اونورو مرستندویانو هم په دې برخه کې همکاري وکړه چې په دې توګه دوی وتوانیدل چې دافغانستان په سطحه ۳۵ زندانونه، او ۳۵۲ توقیف خانې له سره فعالې او ګټه اخیستنې ! !ته چمتو کړي.

په دې لړ کې دپل چرخي زندان چې دکابل په ختیځ کې پروت دی هم له سره په اساسي ډول جوړ شو ، ددې زندان هغه برخه چې پخوا دکورنیو چارو وزارت مربوط وه عدلیې وزارت ته وسپارل شوه ، او کومه برخه یې چې ددفاع وزارت مربوط وه ، هغه امریکایانو ته په واک کې ورکړل شوه ، امریکایانو دا برخه له سره ورغوله او دګوانتانامو او باګرام دزندانیانو لپاره یې یونوی محبس په کې جوړ کړ چې چارې یې دامریکایانو لخوا کنترولیږي ، دعدلیې وزارت دچارواکولو قوله ددې وزارت په مربوط محبس ۵۲۰۰ تنه زنداني دي ، په پل چرخي سربیره دافغانستان دازاد اولس په وړاندې په ټولو ولایاتو او ولسوالیو کې هم نوي زندانونه دحبس او تعذیب دیوې نوې مرحلې دپیل په نیت فعال شول.

د اشغال په لس کلنه دوره کې زندانونه او په کې ترسره شوي جنايات

وړاندې وويل شول چې په افغانستان دامريکايي يرغل له پيل سره يوځای يو ځل بيا دزنداني کولو بهير پيل شو، امريکايانو او کينول شويو ګوډاګيانو يې دافغانستان په بيلابيلو سيمو کې دخپلو زنداني مخالفينو دساتلو لپاره دهيواد په مختلفو سيمو کې ګڼ زندانونه فعال کړل، په دې لړ کې څو مهم زندانونه چې دامريکايانو په ولکه کې وو، دبګرام ستربدنام زندان، دکندهار د هوايي ډګر تور زندان او دخوست په سارا باغ امريکايي مرکز کې امريکايي وحشي زندان دياد ولو وړ دي، له دې پرته په مختلفو سيمو کې امريکايانو تقريبا په خپلو ټولو قرارګاوو کې مؤقتې توقيف خانې او زندانونه درلودل خو مشهور يې همدا ياد شوي دي.

په ټوله کې ويلی شو چې په دې موده کې دامريکايانو په لاس دزنداني کيدونکو، دنيولو طريقه او په زندان کې دساتلو او تحقيقاتو وضعيت خورا بوږنوونکی و، امريکايانو په خورا وحشيانه ډول خلک نيول، او بيا يې خورا له زورزياتي ډک چلند ورسره کاوه، دکابل ولايت اوسيدونکی مولوي عبدالبصير چې امريکايانو په هماغو اوائلو کې نيولی، خپل دنيول کيدو په اړه وايي.

(دامريکايانو ديرغل په اوائلو کې دروژې مياشت وه، ما دکابل په موسهي کې له خپلې سپين سرې مور نه اجازه او خدای پامانې واخيسته او له کور څخه دقرانکريم دترجمې او تفسير او زدکړې په نيت

دطالبي په سفر ووتم، غوښتل مې له کابل څخه پکتيکا داورګون له لارې، جنوبي وزيرستان ته لاړ شم او هلته دمولوي نورمحمد په مشهوره مدرسه کې سبق ووايم، کله چې دانګور اډې سيمې ته ورسيدم، ګورم چې امريکايان او داخلي داړه ماران يې په لويه لار کې ولاړ دي او خلک څاري، زما چې دملايي لباس او سپينه مسنونه پګړۍ په سر وه، نو عسکرو له لرې څخه څارلم کله چې ورلنډ شوم، نويوه افغان عسکر غږ وکړ چې (طالب دی) په همدې غږ سره نورو عسکرو راباندې رامنډې کړې، او دټوپکو په کونداغو يې ګوزارونه راباندې پيل کړل، ما نارې کړې ولې مې وهئ !زه دمدرسې طالب يم، سبق ته روان يم، خو هيڅا زما خبرې ته غوږ نه نيو په همدې کې يې پرمخې چپه کړم، او يوه عسکر په سر سر دسوکانو ګوزارونه راباندې پيل کړل، نه پوهيږم دا عسکر کراته باز و ، که څنګه خو سوکونه يې داسې راباندې لګيدل لکه په ډبرو مې چې په سر سر وهي، بالاخره يې لاسونه هم ډير ټينګ ترشا راوتړل، خو وهل ټکول لا روان وو ، زما مخ ځمکې ته و ، او له پوزې او خولې مې وينې روانې وې، په دې وخت کې امريکايي عسکر هم راورسيدل، افغان عسکر ته يې څه وويل چې هغه وهل بند کړل، مګر کله چې امريکايي عسکر لاړل، بيا يې په وهلو پيل وکړ، وروسته امريکايان بيا راغلل، يوه غټ امريکايي يوه خړه کڅوړه راپرسر کړه، وروسته يې له ځمکې راپورته کړم، په بغل کې يې واخيستم او نږدې چې کوم ټانګ ولاړ وهغه ته يې وروغورځولم، ټانګ حرکت وکړ او څه وخت وروسته بيرته ودرېد ، په دې وخت کې يې له ټانګ څخه راکښته کړم او په يوه ژوره کوټه کې يې واچولم، دوه دری ساعته په دې کوټه کې همداسې بې حاله پروت وم، چې امريکايان په چيغو او نارو راغلل، راپورته يې کړم په انګليسي يې په زوره زوره څه راته ويل خو زه پرې نه پوهيدم، يوبل

اطاق ته يې بوتلم چې ميز او څوکۍ په کې وې، هلته ستر ګې راخلاصې او په يوه چوکۍ کينول شوم، او ديوه افغان ژبارن په توسط تحقيق راڅخه پيل شو، اول يې دنوم او ادرس پوښتنه وکړه او بيا يې دا پوښتنه وکړه چې طالب يې که القاعده ؟ ما وويل زه دمدرسې شاګرد يم، او همدا اوس مدرسې ته روان وم، خو محقق او ترجمان به بيا بيا پوښتنه تکراروله او غوسه يې کوله، چې څوځله يې ما پوښتنه ځواب نه کړه نو ترجمان په دروازه کې ولاړ امريکايي عسکر ته چې ګوته په ماشه ولاړ و اشاره وکړه او ماته يې وويل چې که داپوښتنه داځل ځواب نه کړي هغه عسکر ته امر کوو چې ودې وژني، ماورته وويل الحمدلله ډيره دخوشالۍ خبره ده شهيد به شم، له دې تحقيق نه وروسته بيرته کځوړه راپرسر شوه او هماغې تل خونې ته راوستل شوم، دا وخت دماسپښين لمونځ ناوخته و، ما دلمانځه لپاره ډيره غوښتنه وکړه، خو اجازه رانکړل شوه، او ترماخوستنه پورې مې ديوه لمانځه فرصت هم پيدا نکړ، ځکه همداسې زولانه وم او امريکايي عسکرو مې غوښتنه نه اوريدله ....)

داتنها ديوه زنداني دنيول کيدو دلومړنيو مراحلو کيسه ده، حقيقت دادی چې هربندي کيدونکی کس په همداسي وحشي ډول دامريکايانو لخوا نيول کيدو او دزندان هره مرحله يې همداسې له ظلمه ډکه او بوږنوونکې وه، دغه راز په کندهار، بګرام او نورو سيمو کې هغه ځايونه چې امريکايانو دغه بنديان په کې ساتل، دژوند شرايط يې خورا سخت وو، بنديان ديخنۍ او ګرمۍ له لاسه له سختو ستونزو سره مخامخ وه، د ژوند لپاره له اوليه ضرورتونو هم محروم ول، د بدرفت کوم سالم سيستم او ترتيب يې نه درلود، خوراک يې کافي او سم نه و، داودس، ضروري غسل او عبادت لپاره ازادي نه ورکول کيده، بنديان له جسمي او روحي ناروغيو کړيدل، اوله دې ټولو ستونزو سره سره

دامريکايي پوځيانو، مستنطقينو، او پلټونکو له خورا وحشيانه چلند سره مخامخ ول، چې هيڅ پای او انتها يې نه درلوده، دبګرام او کندهار له اضطراري زندانونو وروسته امريکايانو دافغان جګړې دزندانيانو دساتنې لپاره يوه بله بندیخانه جوړه کړه، چې ښايي دزندانونو په تاريخ کې ترټولو خبرساز زندان وي، هغه چې له امريکايي بشردوستۍ څخه يې په ښه توګه پرده پورته کړه او تر ابده به دامريکايي تاريخ په ټنده د توردا غ په حيث پاته وي.

دګوانتانامو زندان

ګوانتانامو دلاتيني امريکا د کيوبا هيواد په جنوب شرقي برخه کې ديوې جزيرې او خليج نوم دی، چې له اوس نه ډېر وړاندې په ۱۹۰۳ ميلادي کال کې دامهمه جزيره ديوه قرداد له مخې دکيوبا لخوا دامريکا متحده ايالاتو ته په اجاره ورکړل شوې ده، اوس په دې سيمه کې امريکايي سمندري سرتيري مهم مراکز لري، په افغانستان له امريکايي برید وروسته امريکايانو په همدې جزيره کې دافغان جګړې دزندانيانو دساتلو لپاره يو زندان جوړ کړ، چې تراوسه پورې يو شمير زندانيان په کې ساتل کيږي.

سره له دې چې امريکايي پوځ او استخبارات دنړۍ په بيلابيلو برخو کې خورا ډېر پټ او ښکاره زندانونه لري، چې په دې لړ کې په سمندري اډو او دامريکا په نورو مستعمرو کې پټ زندانونه دیادولو وړ دي، خو ګوانتانامو زندان هغه څه و، چې امريکايانو په ښکاره دخپلو دښمنانو دويرولو او رواني جنګ لپاره جوړ کړی و، چې له همدې امله يې له بنديانو سره خورا سخت چلند کيده.

دګوانتانامو دزندان په اړه امریکایانو په صراحت سره ویل چې دغه زندان هیڅ قانون او دستور نه لري، دوی دلیل وایه څنګه چې دا زندان دامریکا له خاورې بهر دی او دبل کوم قانوني حکومت ترسلطه لاندې هم نه دی، نوځکه په کې هیڅ قانون نه چلیږي، دغه راز امریکایانو ددې زندان قیدي خلک زندانیان یا مظنونین نه بلل بلکې متخاصم دښمنان یې ورته ویل، او په دې توګه په نړیوالو بشري کنوانسیونونو کې دبندیانو لپاره تثبیت شوي حقوق هم په څرګنده ترپښو لاندې کول او دزندانیانو لپاره یې هیڅ بشري حق په رسمیت نه پیژاند.

د ګوانتانامو زندان ته انتقال چې دالوتکې ۲۲ ساعته مزل دی، هم خورا په وحشتناکه بڼه و، چې بندیان په خورا سخت حالت کې په کلکو چوکیو پورې په نیمه ناست شکل تړل کیدل او بیا دهیڅ حرکت، خوراک، خوب او نورو ضروریاتو اجازه نه ورکول کیده، په زندان کې دبندیانو داوسیدو ځای هغه قفسونه دي، چې یوازې دوه متره طول او یونیم متر عرض لري، دبندي خوراک، څښاک، خوب، سپورت، عبادت او هرڅه په همدې کمه محوطه کې ترسره کیږي.

دا زندان چې په سلګونو افغانانو او د نورې نړۍ مسلمانانو یې تکلیفونه ګاللي دي، تراوسه دبشر په تاریخ کې ترټولو مشهور او وحشت ناک زندان پیژندل شوی دی، په زندان کې دتحقیقاتو او پلټنو وضعیت خورا دردونکی بلل شوی، بندیان حکایت کوي، چې ډیر سخت تعذیبونه او شکنجې ورکول شوي دي، دبیلګې په توګه، په تل خونو کې کوټه قلفي، دماشینونو په واسطه په ګرمو شویو یا یخو شویو اطاقونوکې ساتل، په لوړه او تنده کې ساتل، جعلي خطونه جوړول، په بیا بیا جزایي کول، په بندیانو مسخرې وهل، برقي شاړتونه ورکول، دسپیو په واسطه دارل، جامې وباسل او لوڅ عکسونه اخیستل، په هوا

کې راځورند کول، او د (واټر بورډينګ)سزا ورکول، واټر بورډينګ د سزا هغه ډول دی، چې اوسنيو امريکايانو ته له پخوانيو صليبيانو څخه په ميراث پاته ده، دا سزا له اوس څخه څو پيړۍ وړاندې په اوسنۍ هسپانيه او پخواني اندلس کې دزورواکو صليبيانو داحتساب دادارې لخوا دمغلوبو مسلمانانو په وړاندې کاريدله، ترڅويې له خپل دين څخه واوړي، ددې سزا په مهال بندي ستوني ستغ څملول کيږي، په خوله او پوزې باندې يوه لوند نرم ټوکر وراچول کيږي، او بيا له پاسه اوبه پرې ورپريښودل کيږي، کله چې بندي تنفس اخلي نو دپوزې او خولې لارې يې ټوکر هم له ساه سرې تيريږي، تردې چې دا لوند ټوکر يې دتنفس لاره په بشپړه توګه بنده کړي، په دې مهال بندي په خورا تکليف په څو دقيقو کې يوځل سا اخيستلای او بيرته وباسلی شي، چې په دې توګه بندي مړ کيږي هم نه اوپه سخت تکليف او نفس تنګۍ باندې مبتلا وي.

هغه عکسونه چې دګوانتانامو دمظالمو په اړه نشر شوي دي، په نړيواله کچه دوحشت له اړخه بيساري بلل شوي دي، په عکسونو کې په ځرګنده ليدل کيږي چې امريکايان له بندیانو سره خورا ناوړه چلند کوي، ددې زندان دزندانيانو په وينا په زندان کې ډير انفرادي زندانونه او دمهمو زندانيانو دساتلو ځايونه موجود دي، چې په کې دترسره شويو جناياتو په اړه يې ډير معلومات نشته، په دې زندان کې څو ځله دامريکايي شکنجو او مظالمو په ترڅ کې زندانيان په شهادت هم ورسيدل، ياسر، مانع، علي عبدالله، ابو طلحه، معلم اول ګل، مولوي عنايت الله او داسې نور هغه زندانيان دي چې دامريکايي مظالمو په نتيجه کې يې ساه ورکړې، ددې زندان دبد وضعيت او امريکايي مظالمو په اړه که په تفصيل ليکل کوو ښايي کتابونه پرې ډک شي، لکه همدا اوس چې ددې زندان په ترخو واقعاتو څو کتابونه ليکل شوی او

لاهم په نړيواله کچه ليکل کيږي، دګوانتانامو انځور، ماتې زولنې، له حجرې ترپنجرې، دګوانتانامو زندان او داسې نور هغه کتابونه دي چې ددې زندان په اړه ليکل شوي دی، خو لاهم په نړيواله کچه ددې زندان په اړه حقايق رابرسيره کيدونکي دی، او ډير څه به پرې وليکل شي.

دګوانتانامو زندان چې امريکايانو دخپلو مخالفينو دويرولو په هدف جوړ کړی و، په پای کې يې معکوسه نتيجه ورکړه، ددې زندان جنايات تو له يوې خوا دافغانستان او نړۍ په کچه دامريکايانو په خلاف سخت نفرت او کرکه راوپاروله له بلې خوايې امريکايي بشريت پالنه هم تر نه جبيره کيدونکي حده رسوا او شرمنده کړه، په پايله کې دزندان دوضعيت په اړه په نړيواله کچه مظاهرې پيل شوې، تردې چې ددې زندان دترلو لپاره دامريکا دفلوريدا ايالت په ميامي کې هم ديوډله بشري فعالينو لخوا چې ټولو دکيوبا دزندانيانو په شان سرې جامې اغوستې وې درنده مظاهره وشوه، دهمدې فشارونو په پايله کې باراک اوباما په ۲۰۰۹ کال کې اعلان وکړ، چې دا زندان به وتړي، مګر اوس هم دازندان فعال دی، خو دزندانيانو شمير يې بيخي کم شوی او تقريبا دوه نيم سوه زندانيان په کې داسارت شپې تيروي.

دبګرام زندان

بګرام دکابل په شمال کې دامريکايانو ترټولو ستره او مهمه اډه ده، په دې اډه کې امريکايانو يو ستر زندان هم ودان کړی، چې تقريبا دګوانتانامو زندان ته ورته دی، دازندان چې په پرله پسې توګه په اصطلاح نوبتي شکل پکې ترزرو ډيرافغانان دوحشت شپې تيروي، په

لومړيو کلونو کې يې وضعيت تراټکل پورته وحشتناک و، دلته هم دتحقيقاتو او نور تعاملاتو په برخه کې له بنديانو سره امريکايي چلند کټ مټ دګوانتانامو غوندې دی، دلته هم دتور زندان په نامه يو پټ زندان شتون لري، چې خاص بنديان په کې اچول کيږي او دژوند شرايط يې خورا سخت دي، په دې وروستيو کې دسره صليب دکميټې لخوا ددې زندان دوضعيت په اړه يو راپور نشر شوی، چې دبګرام دزندان وضعيت يې له ګوانتانامو څخه بد بللی، دباګرام زندان چې همیشه زر(۱۰۰۰) تنه زندانيان په کې ساتل کيږي، په بيا بيا دشکنجو، قتل او تعذيب خبرونه ترې راوتلي دي، په ۲۰۰۵ کال کې ددې زندان يو شمير زندانيان په ناڅاپې توګه نادرکه شول چې تراوسه يې درک نه دی لګيدلی او نه يې امريکايي چارواکو په اړه مطبوعاتو ته څه ويلي دي، غالب ګومان دادی چې داکسان به دامريکايانو لخوا په شهادت رسول شوي وي.

دبګرام زندان هم عين دګوانتانامو غوندې له هر ډول بشري قانون دپلي کولو څخه لوړ!! دی، بنديان له خپلو کورنيو سره دملاقات فرصت نلري په دې وروستيو کې له ډيرو نړيوالو اعتراضو وروسته امريکايانو بنديانو ته فرصت ورکړی چې له خپلو قريبانو سره دانټرنيټ له لارې ملاقات وکړي، دغه راز په دې زندان کې محاکمه کيدونکي بنديان دازادانه دعوا چلولو او وکيل نيولو، اختيار هم نلري، هغه نمايشي محکمې چې دلته دبنديانو لپاره دائريږي وکالت، او قضا او هرڅه يې تحميلي بڼه لري چې زنداني يې بايد په پټو سترګو ومني.

په دې وروستيو کې دبګرام زندان نوم دامريکايانو لخوا په پروان زندان تبديل شوی او داسې ويل کيږي چې نور به هم پراخ شي.

دپل چرخي زندان

پل چرخي زندان دکابل په ختيځه سيمه کې موقعيت لري، چې دافغانستان ترټولو ستر زندان دی، ددې زندان دجوړښت چارې په په ۱۳۵۰ لمريز کې پيل شوې چې دځلورکلونو په ترڅ کې پای ته ورسيدې، دازندان په حلقوي شکل جوړشوی چې، ګڼ بلاکونه لري، چې بيا دبلاکونو په منځ کې سالونونه او اطاقونه موجود دي، سره له دې چې دا زندان دقانون له مخې يوازې د ۲۰۰۰ تنه بنديانو دساتنې ظرفيت لري، خو دکمونيستي دور غوندې دکرزي په حکومت کې هم په دې زندان کې دخپل ظرفيت څخه څو برابره زيات بنديان اچول شوي دي، دزندان زياتره حصې دکابل دچارواکو په ولکه کې دي، چې په زرګونو بنديان په کې ساتل کيږي، دغه راز يې ځينې بلاکونه دخارجيانو لخوا کنترولیږي، چې هغوی دګوانتانامو او باګرام څخه راانتقاليدونکي بنديان په کې ساتي.

دکمونيستي دورې غوندې داوسني مزدور رژيم په دوره کې هم دازندان دخورا ترخو خاطرو او واقعيتونو شاهد پاته شوی دی، ددې زندان بنديان وايي چې په تيرو څو کلونو کې په بيا بيا له سختو ستونزو سره مخامخ شوي دي، په ګڼو ستونزو سربيره يوه اساسي ستونزه دبنديانو د دوسيو اوسرنوشت نه څيړل دي، دې زندان ته چې يوځل څوک وردا خل شي، بيا که په خپله دمختلفو لارو څخه دخپل سرنوشت پوښتنه اودمحاکمې هڅه ونه کړي، نو امکان يې شته چې تردېره وخته په زندان کې پاته شي، له همدې امله خوداسې کسان شته چې له تيرو لسوکلونو

راهيسې په دې زندان کې پراته دي، په داسې حال کې چې هيڅ جرم او ګناه يې معلومه نه ده.

په دې سربيره له بنديانو سره دحکومتي چارواکو ناسم چلند، دخوراک او حفظ الصحې دسيستم ناسموالی، مجاهد بنديان دنور ومجرمو اشخاصو په واسطه ځورول او هغوی ورسره په يوځای کې اچول او نورې هغه ستونزې دي چې ددې زندان بنديان يې په بيا بيا اعتصابونو ته اړ کړي دي، چې ډير ځله خو بنديانو د لوړې داعتصابونو په مهال خپلې خولې هم ګنډلي دي.

د ۲۰۰۹ ميلادی کال په وروستۍ مياشت کې هم دپل چرخي په زندان کې بنديانو اعتصاب کړی و، داچې دوی ولې په اعتصاب مجبور شوي، هغه مهال يوه بندی الاماره ويب پاڼې ته د زندان دوضعيت په اړه داسې کيسه کړې وه.

(يونيم په دري متره کې اطاق دی داطاق دپاي خواته کموډ نصب دي دکموډ له بغل سره دوشۍ ولاړه ده داطاق مخ په اوسپنيزو پنجرو پوښل شوي په هرداړول اطاق ياتشناب کې دوه دوه يادري دري بنديان اچول شوي دي زماهم په دې ځاي کې شپږ مياشتې وتلي دي دځينو نورو کلونه پکې تيرشوي دي ددې بنديانو خوب خوراک لمونځ غسل او ټول ضروريات په همدې دري متري محدوده کې پوره کيږي او دضرورت لپاره دبهروتلو هيڅ فرصت هم نه ورکول کيږي اطاق سره له دې چې له لويه سره مشکلات لري خو زمونږ ژوند ځکه ډيرتريخ دي چې له کموډ سره ډيرپه تکليف يوکموډ زمونږ دناستې ځاي ته دومره نژدې دي چې کله زه اوزماملګري دخوب په مهال پښې غځوو نوورسره لګيږي څنګه چې دااطاقونو دهمدې کموډ وله وجې ډيرچټل شوي نوځکه ډيربنديان

ناروغه شوي هم دي چې تراوسه يې دسمې تداوي فرصت نه دي موندلي .دغه بلاک خصوصي بلاک بولي چې دنورو بلاکونه نسبت په کې لږ بنديان ساتل کيږي ويل کيږي چې په دې بلاک کې دروسانو په مهال مهم بنديان ساتل کيدل دغه راز دنيمو شپو اعدامونه هم په همدې ځاي کې ترسره کيدل ددې بلاک وحشي فضا اوپه ديوالونو اوغولي ځينې ننښې ننښانې هم دهمدې خبرې تصديق کوي په دې بلاک کې دهيواد دبيلابيلو سيمو اوپه بيلابيلو تورونو تورن کسان بنديان دي چې يوه زياته برخه يې دهيواد دجنوبي سيمو دي په دوي کې دتنکيو ځوانانو په شمول دپاخه عمرکسان هم شته دقران کريم حافظان، طالب العلمان اوحتي مدرس اوسپين ږيري عالمان هم په همدې تشنابو کې شپې اوورځې تيروي، دغه خلک چې ټول له درنو باعزته اوپه دين اووطن مينو کورنيو سره تړاو لري له ډيرې مودې راپديخوا په دې زړه دردونکي ماحول کې ژوند کوي چې تراوسه تري افغانان او نورمسلمانان ناخبره پاته ول دوي چې دې ځاي ته راوړل شوي نودخپل جرم سزا اوقيد دمعلوميدو په تمه دي، مګر له څوکلونو تيريدوورو سته لا ډيرې ملګرې دمحکمې دترسره کيدولپاره نه دې ورغوښتل شوي دځينو يوه محکمه او دچادوه محکمې شوې اوبيايې ددوسيې غم نه دی خوړل شوي نوځکه همداسې بې پوښتنې اوپلټنې پاته دي لنډه داچې زمونږ ژوند نورله دې وتلي وچې زغم يې ولرو نوځکه مو په اعتصاب او احتجاج لاس پورې کړ...)

په تيرو څو کلونو کې دپل چرخي په زندان کې ددښمن لخوا په انفرادي وژنو، ځورونو او شکجنو سربيره ځو ځله عمومي قتلونه هم وشول چې ګڼ شمير بنديان په کې په شهادت ورسيدل، له دې جملې يوځل په ۲۰۰۴ ميلادی کال کې دښمن په زندانيانو برید وکړ چې څلور تنه زندانيان يې شهيدان او ګڼ نور يې ټپيان کړل، چې بيا دزندانيانو په

متقابل برید کې د دښمن څلورتنه پوليس هم ووژل شو ، د ۱۳۸۴ کال دکب په ۷ مه نيټه هم دزندان په ځينو بلاکونو باندې دښمن هجوم ورووړ چې تر لسو ډير بنديان يې شهيدان کړل او ۳۶ تنه نور ټپيان شول، خو مطبوعاتو په دې برید کې د شهيدو شويو زندانيانو شمير ۷ تنه ښود .

د ۱۳۸۷ کال دقوس ۱۴ نيټه په وروستيو کلونو کې دپل چرخي دزندان لپاره ترټولو کرغيړنه او بوږنوونکي ورځ وه، چې دې زندان ته يې يوځل بيا دکمونيستي مهال واقعات ورپه زړه کړل، په دې ورځ د دښمن لسګونو په وسلو ، لاسي بمونو او زهري ګازونو سمبالو عسکرو دزندان په څو بلاکونو هجوم ورووړ، او دبنديانو په ويشتلو ، وهلو او لوټولو يې پيل وکړ، په دې ناځوانمردانه برید کې ۳۶ تنه بنديان چې دهيواد دمختلفو سيمو اوسيدونکي وو په شهادت ورسيدل، او ګڼ شمير نور ټپيان شول، داپينبه يو خورا ښکاره جنايت و چې د مظلومو زندانيانو په وړاندې ترسره شو ، خو دبشر دحقوقو دعوه ګيرو نړيوالو ادارو پرې هيڅ غبرګون هم ښکاره نه کړ، ددې پيښې په وړاندې اسلامي امارت سخت غبرګون وښود اوله دښمن څخه يې دانتقام اخيستلو ، هوډ څرګند کړ، چې بالاخره دهمدې کال د سلواغې دمياشتې په ۲۳ درويشتمه نيټه په ټولو اړونده مراجعو (عدليه وزارت او محابسو رياست) باندې مؤثر فدايي عمليات ترسره شول چې دښمن ته په کې خورا درانه تلفات واوښتل.

دپل چرخي په زندان کې بل ديادونې وړ جنايت تېر کال دبنديانو دډله ايز اعدام هغه جريان و چې دروژې په مبارکه مياشت کې پيل شو ، دکره شواهدو له مخې ددې جنايت په مهال لسګونه تنه افغان بنديان دکرزي په رسمي غوښتنه اعدام شول، چې د دښمن دا عمل د اسلامي امارت لخوا په سختو ټکو تقبيح شو .

دپل چرخي په زندان کې که په تيرو لسوکلنو کې ټول ترسره شوي جنايات راسپړو اود بندیانو حکايات رانقلوو ښايي مطلب ډير دراز شي، خو دلته به يوه شيبه دبندیانو هغه مشکلاتو ته غور وکړو چې ددې زندان بندیان همدا اوس ورسره لاس او ګريوان دي، ددې زندان يو تن بندي خپل مشکلات داسې راشميري.

۱= مورږ يوشمير ملګري چې مخکې په مرکزي زندان کې په تشنابو کې اچول شوي وو اوس يې دګوانتانامو بلاک ته راوستلي يو مګر دلته هم هغه ظلم جريان لري، له هغه راپديخوا مورږ ټول چې يونيم سل کسه کيږو په کوټه قلفي کې ساتي.

۲= له خوب څخه مو بې وخته او بې ضرورته راويښوي چه اوس مو اعصاب خراب شويدي.

۳= دپای وازي لپاره څوک نه را پريږدي که راهم شي نو ورته وايي ځئ ځئ تاسي خو طالبان ياست دپا يوازې په ځای کې يې ښځې اونران يو ځای کښينولي وي.

۴= يوشميرملګري يې پرته له محکمې اوسپيناوي بيرته راڅخه باګرام ته يوړل.

۵= دعفوې له فرمانونو څخه يې مستثنی کړي يو.

۷= مورږته تخفيف نه راکوي او په خپلو دوسيو مو نه خبروي چه مورږ کوم جرم کړئ دئ.

۸= له مورږسره په دې ظالمانه چلند نه طالبان خبردي نه پارلمان نه بشرحقوقو والا اونه بل څوک.

۹= زمونږ ږغ نه اوريدل کيږي کله چې يو هيئت راځي نو زمونږ په نمايندګي يا جاسوسان ورولاړوي يا هغه بنديان چې اعصاب يې له لاسه ورکړي وي.

۱۰= ډوډۍ مونږ يره لږده نه سړه راکوي نه توده، کالي نه راپريږدي تشناب کاغذ نه راکوي دغه راز قچي، وغيره ضروري اسباب نه خپله راکوي او نه يې چې مونږ راوغواړو راپريږدي، له همدې املې دملګرو د سرو او بريتو وينښتان ډير زيات غټ شوي دي.

۱۱= داخترپه شپوکې يې دځينو ملګرو بريتونو د توهين په دود په زور وروخريل.

۱۲= دبنديانو د سپکاوي په دود يې تک سره کالي ورکړي، چې دماشومانو غوندې يې کشکونه په کې اچولي.

۱۳= کړکۍ يې راپسې ويلډنګ کړيدي توري هنداري يې په کې لګولې دي نه رڼا وينو او نه هم لمر چه دې وضعيت د سر، سترګو، اعصابو مريضۍ راپيدا کړي، دعلاج او دوايي بندوبست هم نشته.

۱۴= په مونږ کې داسي بنديان شته چه اوس يې اته کاله پوره کيږي خو سرنوشت يې ندئ معلوم.

۱۵= زمونږ د محبس مشر د شمالي ټلوالې سړی دئ چه جنرال واسع نومېږي اوله مونږ سره ډيره دښمني پالي او شخصي تضاد راسره لري.

نو که داسي حال وي بيا به اعتصاب کوو نورځه مو په وس کي نشته يادي يو داسي هيئت راشي چه زمونږ حالات په خپلو سترګو له نژدې وګوري.

په تېرو کرښو کې د ګوانتانامو، باګرام او پل چرخي د زندانونو ځينې واقعات دنمونې په توګه ياد شول، که بيرته خپلې عنوان شوې موضوع ته راشو په تيرو لسوکلونو کې امريکايي يرغلګرو او کورنيو اجيرانو يې په خپلو بنديخانو او توقيف ځايونو کې سخت مظالم ترسره

کړي دی، چې په وخت يې په اړه نړيوالو خبري رسنيو مستند راپورونه، ويډيوګانې او تصويرونه نشر کړي دي، په يادو زندانونو سربيره دافغان بنديانو په وړاندې بل ترټولو خطرناک ځای دکابل درژيم دملي امنيت دادارې زندانونه دي، چې اوس هم پخواني کمونيسي خادیان پکې فعال دی، او مؤمنو بنديانو ته خورا سختې شکنجې ورکوي، دکابل دملي امنيت دکارکوونکو په اړه ويل کيږي چې دکرزي درژيم دبلې هرې ادارې په نسبت ډير بې رحمه او عقده لرونکي دي، دوی دسزاګانو له هغو ډولونو څخه کار اخلي چې عموما نه استعماليږي، دبيلګې په توګه ويل کيږي، چې دبنديانو تناسلي آلو ته برقي شارټونه ورکوي او په همدې ناحيو کې سخت ګوزارونه ورکول کيږي، چې له دې څخه دکابل دواکمنو پست مزاجي او نامردي ډيره ښه څرګنديدلای شي.

له زندانيانو سره امريکايي چلند دبشري حقوقو د نړيوالو ټرونونو په هنداره کې

امريکا او يوشمير نور غربي حکومتونه دزياترو هيوادونو په کورنيو چارو کې د مداخلې لپاره دبشري حقوقو له وضعيت څخه ديوې بهانې په توګه استفاده کوي، دوی هغه وضعي قوانين چې دملګرو ملتونو او يوشمير نورو تحت الحمايه ادارو په توسط يې دبشري حقوق درعايت لپاره ترتيب کړي، دځمکې په سر ترټولو معتبر اسناد بولي، چې نړيوال يې بايد ورسره ومني.

خو دتعجب ځای دادی چې امريکايان او نور لويديځوال خپله هم په عملي ميدان کې په دې قوانينو او ټرونو باندې عمل نه کوي، او نه يې ځان په عملي ډګر کې په رعايت مکلف بولي، دلته به دبيلګې په توګه

دزندانيانو دوضعيت په اړه دملګرو ملتونو لخوا دځينو وضعه شويو قوانينو ځيني مواد راواخلو او بيا به وګورو چې لويديځوالو په خپلو دې ترتيب کړو قوانينو باندې څومره عمل کړی دی.

د ۱۹۸۸ کال په دسامبر کي دملګرو ملتونو د مجمع عمومي لخوا تصويب شوې، دبنديانو دحمايت قطعنامه داسې وايي.

۲ اصل : هيڅ څوک په هيڅ ډول زندان کې بايد شکنجه نه شي، او نه بايد بې رحمانه، غيرانساني او توهين آميزه سزا ورکړل شي، هيڅ قسم شواهد او شرايط نه شي کولای دزندانيانو شکنجه ياغيرانساني او توهين آميز مجازات توجيه کړي.

۱۲ اصل : له نيول کيدو وروسته بندي بايد دا حق ولري، چې سمدستي، خپل دکورنۍ غړي او دوستان، له خپل نيول کيدو څخه خبر کړي، دغه راز له يوه زندان يا محل څخه بل ته دانتقال څخه يې هم خبر کړي، ترڅو هغوی ورسره لازمه همکاري وکړای شي.

۱۷ اصل : فرد له نيول کيدو وروسته بايد سمدستي وروسته داحق ولري چې په خپل زړه ځان ته مدافع وکيل ونيسي، ترڅو په قانوني چوکاټ کې دنومورې له حق څخه دفاع وکړي.

۱۸ اصل : نيول شوی فرد بايد دزندان په مهال له خپل قانوني وکيل سره هميشه دليدلو، ملاقات او مشورې مجال ولري، او ددې لپاره بايد کافي وخت ورکړل شي.

۲۱ اصل : نيول شوی فرد په زور په اعتراف کولو، يا دبل چا په ضد په شاهدي ورکولو نه شي مجبوريدلی، بندي بايد دپوښتنو ګرويږنو په مهال له تهديد او خشونت سره مخامخ نه شي.

دملګرو ملتونو لخوا دبنديانو دوضعيت په اړه ترتيب شوي دا قانون ۳۹ اصول لري، چې په ټولو کې يې د دغو يادو څو مادو په شکل همداسې (ګل خبرې) کړي دي او بنديانو ته يې خورا ډير حقوق ټاکلي دي، په دې سربيره دملګرو ملتونو لخوا په ۱۹۸۴ کال په تصويب شوی يو بل قانون کې چې (دشکنجې ضد کنوانسيون) ورته وايي، هم دبنديانو شکنجه، هتک حرمت، اعدام او وهل ټکول په کلکه منع شويدي، خو لکه څنګه چې ښکاري دغه قوانين دلويديځو يرغلګرو په تيره دامريکا په قاموس کې يوازې دکاغذ دمخ کرښې بلل کيږي، ځکه په عملي ډګر کې ورته هيڅ اعتناء نه کوي.

مورږ له تيرو لسوکلونو راهيسې وينو، چې امريکايانو په زرګونو بې ګناه افغانان په غيرموجهه توګه زندانونو ته اچولي، اعدام کړي يې دي، سختې شکنجې او تعذيبونه يې ورکړي، روحي او جسمي سزاګانې يې ورکړې، او په جبر او اکراه سره يې په اعترافونو مجبور کړي دي.

دمدافع وکيل حق چې دملګرو ملتونو کنوانسيون پرې ښيا ښيا ژبه ټکوي، امريکايان يې په رسميت نه پيژني، دوی دنمايشي محکمې غوندې بنديانو ته هم په خپله خوښه يو نمايشي مدافع وکيل نيسي او ښيا يې چې څنګه خوشه وي هماغسې حکم پرې کوي.

دامريکا په بندي خانو کې پراته بنديان دا حق نلري چې دخپلې کورنۍ له غړو او دوستانو سره مخامخ ليده کاته وکړي، يا يې له نيول کيدو وروسته له خپل وضعيت څخه خبر کړي، دوی په دې وروستيو کې بنديانو ته يوازې دومره حق ورکړی چې دخپلې کورنۍ له غړو سره دانټرنټ په مټ ملاقات کولای شي هغه هم دبندي ترنيول کيدو څومياشتي ياکلونه وروسته.

دملګرو ملتونو او دبشر دحقوقو دنورو نړيوالو ادارو لخوا دتصويب شويو قطعنامو لوړې څو مادې ددې لپاره راوړل شوې، ترڅو يې لوستونکي وګوري او بيا يې دبنديانو په اړه دامريکايانو له عملي چلند سره پرتله کړي، چې له دې څخه په اسانه معلومېدلای شي چې لويديځوال په تيره امريکايان دبشردحقوقو په اړه په خپله دعوا او شعار کې څومره دروغجن دي، دوی په دې اړه خورا ډيرې قطعنامې امضاء کړي دي، جايزې يې تاکلي دي، او په مطبوعاتو کې پرې ډير ټينګار کوي، خو په عملي ميدان کې دهرچا په پرتله دوی ډير دبشر په وړاندې جنايتکاران او دحقوقو تلف کوونکي دي.

دزندانيانو په اړه داسلامي امارت چلند او پاليسي

دبنديان په وړاندې داسلامي امارت چال چلند او مقرره پاليسي، په ټوله کې له هغه څه څخه مشتمله ده چې اسلامي ارشادات يې لارښوونه کوي، په دې اړه په همدې کتاب کې يو مستقله ليکنه شته، چې دزندانيانو اساسي حقوق او ورسره دچلند څرنګوالی په کې روښانه شوی دی.

داسلامي لارښوونو په رڼا کې زندان دتعذيب او زور زياتی ځای نه بلکې دټولنې داخلاقي مجرمو اشخاصو داصلاح اوتربيت ځای بلل کيږي، داسلامي امارت دواکمنۍ په دوران کې دزندانونو وضعيت تقريبا تربيتي مدرسو ته ورته و، او بندي اشخاصو ته ديني او حرفوی زده کړې ورکول کيدلې، ددې ترڅنګ ديوشمير بې لارې ماشومانو اونويو ځوانانولپاره چې دټولنې داذيت سبب کيدل، دارالتأديبونه جوړ شوي وو.

اوس هم اسلامي امارت دمجاهدينو لپاره په ترتيب شوي کاري لائحه کې مجاهدين په دې مأمور کړي دي، چې له زندانيانو سره پوره اخلاقي چلند وکړي، اوله شرعي فيصلي پرته هيڅ ډول تعذيب او شکنجې ورنه کړي، دمجاهدينو دکاري لائحې ۱۵ مه ماده په دې اړوند داسې صراحت لري.

۱۵ – څوک چې له مجاهدينو سره اسيرشي نومجاهدين دې په لوړه، تنده، يخ اوګرمۍ سره عذاب نه ورکوي که څه هم دمرګ مستحق وي بلکې هرډول شرعي فيصله چې باندې شوې وي دهغې مطابق به تعزيرورکوي هغه که وژل وي اويا بله سزا.

دغه راز داسلامي امت دهغو بندي زامنو په اړه چې دد بښمن په بنديخانو کې زندانيان دي، هم اسلامي امارت بې تفاوته نه دی پاته شوی، د بندي مجاهدينو دراخلاصولو او ورسره دملاتړ لپاره اسلامي امارت په خپلو تشکيلاتو کې يو ځانګړی کميسيون جوړ کړی، چې په بيلابيلو برخو کې دبنديانو دازادۍ او حق ورکولو لپاره کار کوي، په دې سربيره اسلامي امارت په بيا بيا له مختلفو لارو او وسائلو څخه په استفاده هڅه کړي ده چې دافغان مجاهد اولس بندي زامن د دښمن له منګولو څخه راخلاص کړي، دهمدې لپاره دهيواد په بيلابيلو برخو کې په زندانونو باندې بريدونه شوي، او بنديانو ته دنجات اسباب برابر شوي دی، په دې لړکې دری ځله دکندهار د مرکزي محبس ټولو زندانيانو ته دځانګړو عملياتو له لارې نجات ورکول، دغه راز د ۱۳۸۹ لمريز کال د سرطان په ۲۷ دفراه ولايت دمرکزي زندان ماتول او تر ۳۰ ډير زندانيان ازادول او د ۱۳۸۸ د سرطان په ۲۳ دزابل ولايت دمرکزي زندان دلسګونو بنديانو ازادي چې داسلامي امارت دمجاهدينو دخاصو عملياتو په پايله کې انجام شوه، دياد ولو وړ دي.

دوهـــم فـصـــل

په وروستيو لسو کلونو کې په هيواد کې دزندان ماتولو پيښې

په وروستيو لسو کلونو کې دهيواد په بيلابيلو ولايتونو کې زنداني مجاهدين په دې توانيدلي چې ددښمن له محبسونو څخه دنجات لاره وموميِ، په دې لړ کې دبنديانو دنجات دانفرادي پيښې خورا ډيرې دي، خوځو ځله داسې هم شوي دي چې مجاهد بنديان دزندانونو په ماتولو توانيدلي وي، او په ډله ايزه توګه ټولو ته دنجات لاره برابره شوې وي.

په تيرو څو کلونو کې دری ځله دکندهار دسرپوزې، محبس، دوه ځله دفراه ولايت مرکزي محبس او يو ځل دزابل مرکزي محبس دمجاهدينو لخوا مات شوي دي، او ګڼو زندانيانو ته يې دنجات لاره خلاصه شوې ده، داچې مجاهدين څنګه او له کومو وسائلو او تاکتيکونو څخه په استفاده وتوانيدل چې دوه ځله دفراه ولايت مرکزي محبس مات کړي، دلته يې ځکه يادونه نه کوو، چې په دې مواردو کې دمجاهدينو تاکتيکونه خورا حيرانوونکي وو، چې تراوسه محرم ساتل شوي او دښمن هم پرې نه دی خبر شوی او مجاهدين کولای شي، په بيا بيا يې استعمال کړي، اما د زابل ولايت دمرکزي محبس دماتېدو او دکندهار د سرپوزې دمحبس دماتيدو دپيښو په اړه به يو لړ معلومات او مطالب درته وړاندې کړو.

دزابل دمرکزي زندان څخه دبنديانو خلاصون

دزابل ولايت په مرکزي محبس کې چې ګڼ شمير بنديان اوسيدل، د ۱۳۸۸ هـ ش کال دسرطان په ۲۳ نيټه دشپې مهال يو شمير مجاهدينو دځانګړي پلان له مخې يو لړ عمليات ترسره کړل، او خپلو ډيرو ملګرو ته يې له زندان څخه دوتلو زمينه برابره کړه، ددې پيښې دنورو جزياتو په اړه مو دهمدې عملياتو دبرخوالو مجاهدينو له جملې له يوه سره شوې مرکې ته پام راګرځوو، چې دالاماره ويب پاڼې لخوا هغه مهال ورسره شوې وه.

دکلات زندان دماتېدو په اړه ديوه زنداني مجاهد دسترګو ليدلی حال

دالاماره ويب سايټ درنومينه والو دمطبوعاتو له لارې به خبر شوي ياست چې دزابل ولايت دقلات په ښارکې زنداني مجاهدينو دتيرکال په څيريوځل بيا دخپلوفولادي ارادواوهمتونونمونه وړاندې کړه دقلات مرکزي زندان چې تر ۳۵ پورې مجاهدين پکې اسيران وو دهمدغو مجاهدينو دهمت به برکت مات شواوټول مجاهدين ترې راووتل چې اوس الحمدلله ټول په عافيت سره خپلو محفوظو سيمو ته رسيدلی دي.

دهمدې راخلاصوشويو مجاهدينو له جملې څخه مولې يوه سره مرکه کړې چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

پوښتنه: ګرانې وروره لومړې دخپلې دې تاريخي بريا اوازدې مبارکي درته وايو اوبياکه زمونږ لوستوالو ته ځان وروپيژنئ !؟

ځواب: زمانوم ملامحمدنعيم دی دزابل ولايت اوسيدونکی يم اوله څوکلونو په همدې ولايت کې دجهاد په مقدسه وظيفه بوخت وم نژدې اوه مياشتې وړاندې مې دخپلوجهادي فعاليتو په لړکې د قلات ښارپه يوبرخه کې په څوتنوموټرسايکل سپرواستخباراتي چاروا کود

بريدنيت لاره خودبريد په مهال مې توپانچې کارپرېښودنوځکه ددښمن له خواژوندی ونيول شوم اوداتيرې اوه مياشتې دزابل په لوی زندان کې قيدي وم او دوو محکمو په لس کاله قيدمحکوم کړی وم.

پوښتنه:که دقلات دزندان دماتېدو د واقعې په باره کې راته کيسه وکړئ څنګه وتوانيدی چې زندان مات کړئ؟

ځواب.کيسه داسې وه هلته په محبس کې په مجاهدينوډيرزيات ظلم کيده مونږداسې پروګرام جوړکړچې په هرقيمت وي له دې زندانه به ځان خلاصوو اګرکه شهيدان هم شوداپلان مو په سيمه کې له مجاهدينوسره هم شريک کړچې کله مونږووزوچې دوی بايدزمونږمخې ته درهنمايي اوساتنې لپاره اماده وي همداسې و شول مونږپه محبس کې پنځو تنو ملګرويو مازديګرمشوره سره وکړه چې سباسهارچې پيردارد وينبولو لپاره راځي حمله به پرې کووا ونورچې هرڅه پيښ شول .همداووچې سهارپاوکم څلوربجې وې چې موظف سړی چې دمحبس دقومندان وراره دی زمونږدراوينبولو لپاره راغی کله چې بيرته ووت پدې وخت کې مونږ حمله پرې وکړه اوله مرۍ نه مو ونيويوځونارې يې وکړې اوبيا خپه اوبې هوشه شو په همدې وخت کې مونږله همدې دراوزې رااووتواونوروبنديانو ته ورغلوددوونوروکوتوچې طالبان پکې بنديان وو دهغوقلفونه مومات کړل اوملګري رااووتل مونږځوملګري دهمدې پيردارا طاق ته ورغلوکه څه وسله په لاس راغله خوهلته هيڅ هم نه وه اوبيا د د زندان انګرته رااووتلو خودباندې مولارنلرله نوځکه مودپيردار دکوتې کړکې ماتې کړې اويوه بل سرای ته ورووتودلته يوه لويه محکمه دروازه وه له همدې سره موهم زور وواهه اوبلاخره موله بيخه وايسته پدې وخت کې دشاوخواپوستو پوليسو هم ټکان (ډزې)شروع کړل خوزمونږملګري اکثره راوتلي وو دلته لاندې رود دی

مونږپه همدې خواراغلو خوزمونږ له بهره راغلي نورمجاهدين ملګري دمحبس لمرخاته خواته دزړې شفاخانې سره اودلويديځ په خوادزړې قومندانۍ خواته مونږته انتظارروو مونږ له خپلوملګروسره له يوځای کيدوورسته راده ته ولويدوخودرود په دواړوغاړودعسکروپوستې وې مونږدهمدې پوستو ترمابين راووتلو له پوستونه يو يوټک کيده خوزمونږملګري بې خاره روان وو چې له څه مزله وروسته دسيوري ولسوالۍ په خوا دمجاهدينوعلاقې ته ورسيدوچې لله الحمدلله دمجاهدينوپه سيمه کې يواوهيڅ مشکل نشته.

پوښتنه: ددې محبس دموقعيت په باره کې که معلومات راکړئ چې شاوخوا يې امنيتي پوستې شته اوکه نه ؟

ځواب:محبس دقلات ښارجنوب ته دی چې داعلاقه هواشناسي بولی دلمرخاته خواته يې په نيم کيلومترکې دامريکايانوغټ مرکزياپي آرټي ده شمال خواته يې لوی عسکری غونډدی چې دملي اردوقرارګاه په کې پرته ده دغه راز يې شاوخوادامنيه قومندانۍ په شمول ډيرې امنيتي پوستې هم دي خومجاهدين الحمدلله دالله تعالی په نصرت وتوانيدل چې له دې ټولوپوستوراتيرشي اوخوندي سيموته ځان ورسوي.

پوښتنه:په محبس کې څوتنه بنديان وو ، ولې نيول شوی وو اوځوتنه به راخلاص شوي وي ؟

ځواب:په محبس کې به بنديان نورډيروه خو۳۵ تنه طالبان وو چې په داتيروځوکلونوکې په جهادکې اسيران شوي وو په دوی کې په چالس په چا ان پنځلس اوشل کاله قيدختلی وو ځينوځلوريا پنځه کاله همدلته تيرکړي وو زمادمعلومات له مخې دغه ۳۵ تنه ټول راخلاص شويدي اوځوک ندي نيول شوي ځکه هلته ماليدل چې ټول راووتل.

پوښتنه :دغه پنځه شپږملګري چې په عسکر يې حمله وکړه ددوي نومونه درته يادداي ؟ ځواب :هوله ما نه پرته نورملګري لکه :ملاعبدالله، ملا عبد الولي، ملا روزي محمد اخند او ملا محمدنبي وو. .

د سرپوزې زندان د ماتېدو پېښې ته کتنه

د سرپوزې زندان چې دکندهار په لويديځ کې موقعيت لري، دافغانستان له مشهورو زندانونو څخه شميرل کيږي، دازندان چې دسردار داود خان دواکمنۍ په مهال په پراخه ساحه کې جوړ شوی دی، په جنوب لويديځ زون کې ترټولو ستر زندان دی، په تيرو څوکلونو کې چې په دې زندان کې په بيا بيا ګڼ شمير مجاهدين زندانيان شول، تراوسه پورې دری ځله مجاهدين توانيدلي دي چې دازندان مات کړي، او ټولو زندانيانو ته نجات ورکړي.

په لومړي ځل دکندهاز زندان د ۲۰۰۳ کال دجون په مياشت کې مات شو، هغه مهال په دې زندان کې دبنديانو شمير ډېر نه و او يوازې ۴۵ تنه په کې اسيران وو، دکندهار اوسيدونکی ملامحمد نسيم چې هغه مهال له زندان څخه راخلاص شوی دی، دزندان ماتولو کيسه داسي بيانوي.

هغه مهال مورږ ګڼ مجاهدين دکندهار دسرپوزې په محبس کې بنديان ووچې شمير مو تقريبا ۴۵ تنو ته رسيده، کله چې دمزدور دولت دواکمنۍ په لومړيو کې حامد کرزی کندهار ته په سفر راغی، نو دخرقې شريفې سره نږدې دعبدالرحمن په نامه يوه تن په کرزي باندې دکلاشينکوف ضربه وکړه، چې کرزی ترې بچ شو، خو دغه عبدالرحمن نامی وروسته په شهادت ورسول شو، ددغه عبدالرحمن ځينې انډيوالان چې له نومورې سره دهمکاری شک پرې

کیده، له موږ وړاندې نیول شوي، او دکندهار د سرپوزې محبس ته راوستل شوي وو، هغوی نه پوهیږم څنګه یو (کولنګ) له ځانه سره راتېر کړی و، او نبایي هڅه به یې کوله چې له دې زندان څخه تونل ووهي، مګر مخکې له دې چې خپل کار پیل کړي، له دې ځایه کابل ته انتقال شول، کله چې موږ محبس ته راغلو، نو دغه کولنک مو پیدا کړ چې دیوه اطاق په غولي کې پټ کړای شوی و، کله چې مو پیدا کړ نو هوډ مو وکړ چې د سوري په وهلو کار پیل کړو، خو دلته مشکل داو چې د دې تونل خاوره به چیرته اچوو، دلته نو په زندان کې یو خالي اطاق و، چې کله ناکله به ملګرو مجلس په کې کاوه، موږ د زندان عسکرو ته وویل چې دا اطاق هسې خالي ولاړ دی، او ملګري په کې هسې مجلس او بنډار کوي، هسې نه داطاق هیندارو، دروازو یا نورو ځایونو ته زیان پیښ کړي، داسې به وکړو چې دا زندان ته به قلف وروا چوو، عسکرو ته زموږ خبرې خوند ورکړ، او همدا اطاق مو قلف کړ، مګر د دې اطاق یوه کړکۍ وه، او کله چې مو له یوې کوټې څخه تونل وهل پیل کړل، نو خاورې به مو په څادرونو کې راوړې او له دې کړکۍ څخه به مو همدې خالي اطاق ته ورغورځولې.

په دې تونل کې په همدې یوه کولنګ باندې څو ورځې کار وشو، چې ترلسو ورځو پورې ورسیده، او ملګرو به په نوبت کار کاوه، او نور ملګري به په دعاګانو او تلاوتونو لګیا ووترڅو داهڅې رسوا نشي او کامیابي ته ورسیږي، دلته نو تونل یوه پاخه دیوال ته ورسیده، او موږ ګومان کاوه چې اخري دیوال ته مو ورساوه، کله مو چې تر دیوال لاندې تیر کړ، او وروسته مو پورته سوری کړ، نو د زندان په مابین کې راسوری شو، دلته معلومه شوه، چې د زندان دجوړیدو په مهال په ځمکې کې پټ یوه پوخ دیوال تیر شوی ترڅو زندانیان تونل ونه وهي، له دې غلطۍ وروسته مو بیرته د دغه سوري خوله په بوټو وربنده کړه، او کارته مو ادامه ورکړه، ترڅو له ډیر تکلیف

وروسته په ۱۲ مه ورځ مو اخري ديوال ته ورساوه، کله چې اخري ديوال ته ورسيده، نو په همدې شپه دبنديانو ايستل پيل شول، په پيل کې ضعيف او زخمي بنديان وايستل شول، او په دې توګه ټول بنديان په بريا سره ووتل او نجات يې پيدا کړ.

په دوهم ځل دکندهار زندان د ۲۰۰۸ کال دجون په ۱۴ شپه دمجاهدينو په يوه منظم برید کې دړې وړې شو، او تقريبا ټول بنديان يې چې شمير يې ۱۲۰۰ ته رسيده راخوشي شول، ددې عملياتو په مهال لومړی د شپې په نهه نيمې بجې مجاهدينو دزندان په مرکزي دروازه دټانکر په واسطه دموټر بم برید ترسره کړ، چې دزندان دودانۍ يوه برخه او دوازه يې ونړوله، وروسته مجاهدينو دزندان په حفاظتي پوستو تعرضي عمليات پيل کړل او په يوه شيبه کې يې ددښمن ټول سرتيري چې شمير يې لسګونو ته رسيده ووژل، او مجاهدين زندان ته په داخليدو وتوانيل، زندان ته له داخليدو وروسته مجاهدينو بنديان ازاد کړل، او سيمې ته د راوستل شويو موټرونو په واسطه اوځيني يې پلي دژړې اوپنجوايې ولسوالیو او شاوخوانورو سيمو ته انتقال کړل، دابريد چې خورا ډير بنديان په کې را ازاد شول دمجاهدينو يوه نمونه يې بريا وبلل شو، او ددښمن په روحياتو يې خورا بد اثر وکړ.

دکندهار دزندان دريم ځل ماتېدل چې په نړيوالـه توګه هيښوونکی رويداد وبلل شو، د روان ۲۰۱۱ ميلادي کال دا پريل په ۲۵ و، دا ځل مجاهدينو له خورا هيښوونکي تاکتيک او عملياتو څخه کار واخيست، چې په پايله کې يې دسرپوزې له زندان څخه دټولو ۵۴۱ بنديانو په خلاصون واتوانيدل، داچې دا پيښې څنګه رامنځته شوه، ماهيت يې څه و، څه عواقب يې درلودل، او په اړه يې څه غبرګونونه وښودل شول په راتلونکو مطالبو کې به يې ولولئ.

دکندهار زندان دماتېدو دپېښې په اړه دالاماره ویب پاڼې لومړنۍ بشپړ خبر چې په نړیواله میډیا کې یې ستره مطبوعاتي هنګامه جوړه کړه

دکندهار مرکزي زندان مات، ۵۴۱ مجاهدین ازاد شول

دروان میلادی کال د اپریل ۲۵ شپه دافغانستان داسلامي امارت مجاهدین دلوی څښتن تعالی په نصرت په دې وتوانیدل ترڅو دکندهارزندان مات او ۵۴۱ تنه زنداني مجاهدین چې ۱۰۲ تنه یې قومندانان وو ازاد کاندي، دپېښې بشپړ جریان په دې ډول دی. کندهار محبس دهیواد په سطحه ددښمن مشهور او خورا ستر محبس دی، دامحبس مختلفې څانګې لري، چې مهمي یې دجنایي او سیاسی بندیانو څانګې دي، چې مجاهدین بندیان ټول ددې محبس په سیاسي څانګه کې ساتل کیدل، حاضردمه ددې محبس په سیاسی څانګه کې مجموعا ۵۴۱ تنه مجاهدین بندیان وو، دافغانستان داسلامی امارت تر سرپرستۍ لاندې دکندهار مجاهدینو دتیرو کامیابو عملیاتو په تعقیب څه موده وړاندې یوځل بیا داسي پلان جوړ کړ ترڅوپه دې محبس کې زنداني مجاهدین ازاد کاندي.

دمجاهدینو له پلان سره سم، پنځه میاشتې وړاندې دمحبس د جنوب خوا له ۳۲۰ متری څخه مجاهدینو ترځمکه لاندې په یوه تونل کارشروع کړ، مجاهدینو په خورا ځیراکت، راز ساتنې او مسلکي ډول خپل کار ته ادامه ورکړه، مجاهدینو خپل داتونل په تیرو څومیاشتو کې ۳۲۰ متره وغځاوه چې په دې توګه ددښمن ترامنیتي پوستو او دکندهار هرات دلویې لارې څخه لاندې تیر شو او مخامخ دکندهار محبس سیاسي څانګې ته ورغی. په وروستیو کې چې ددې تونل کار پای ته

رسيدلی و ، مجاهدينو په خوندي توګه دټولو بنديانو درايستلو لپاره خپل پلان له سره تجديد کړ ، په داسې ډول چې دپلان دکاميابي لپاره دمحبس په شاوخوا سيمه کې دفدايي مجاهدينو يوګروپ هم بايد شتون ولري، ترڅو دخلاصون دعملياتو په مهال ددښمن داحتمالي عکس العمل په وړاندې په تهاجمي عملياتو لاس پورې کړي.

له پروګرام سره سم تيره شپه يوولس بجې له محبس څخه دبنديانو دايستلو کارپيل شو ، څرنګه چې دمحبس دننه دمجاهدينو له جملې يوازي دری تنه ددې پلان څخه خبر وونوهغوی به هرې کوټې ته ورتلل ويده بنديان به يې په نوبت راويښول او بيا به يې دتونل په خوا رهبري کول، په دې توګه دټولوکوټو دبنديانو دايستلوکارپيل شو دشپې تقريبا دری نيمې بجې وې چې له محبس څخه وروستی بندي مجاهد هم را ويستل شو چې پدې توګه دمحبس جنوب ته په خوندي ډول ووتل وروسته دمجاهدينو دپلان سره سم دمجاهدينو دانتقال لپاره همدې سيمې ته موټرراوستل شول اوټول مجاهدين په پوره اطمنان خوندي سيموته انتقال کړای شول.دياد ونې ورځ ده چې په دې بنديانو کې دزخميانو ، ناروغانو او ډيرو ضعيفو بنديانو په شمول ټول بنديان را ايستل شوي دي، او دزندان په سياسی برخه کې هيڅ زنداني هم نه ده پريښودل شوی.

ددې عملياتو برخوال مجاهدين وايي چې عمليات خورا بريالی انجام شول، تردې چې دښمن هيڅ خبر نه شو او نه يې غبرګون وښود له همدې امله دمجاهدينو دفدايانو منتظره قطعه هم پرته له عملياتو له سيمې ووتل.

ددې پيښې ترټولو جالب اړخ داو چې دا عمليات دشپې په ۳ نيمې بجې پای ته ورسيدل خو دښمن دلمرختو په مهال هم لا له پيښې خبر نه و ، سيميز خلک او دصحنې څارونکي مجاهدين وايي چې له عملياتو څلور ساعته وروسته هم دمحبس په شاوخوا کې ددښمن کوم داسي تحرک نه ښکاري چې له پيښې ددوی خبرداری تړې وفهميږي.

بايد وويل شي چې په سيمه کې په داخلي دښمنانو سربيره دبهرنيانو هم ګڼ شمير ځواکونه، قرارګاوې، او امينتي کامرې فعالي دي، خو له عملياتو څو ساعته وروسته هم د دښمن ټول ځواکونه په دې نه دي توانيدلي چې د ترسره شو يو عملياتو ماهيت درک کړي.

له الاماره ويب پاڼې نه په مننه

دزنـــدان د مـاتېدو کيـــسه

(تصور څنګه په حقيقت بدل شو)

ليکوال: عبدالرؤف حکمت

د کنـــدهـــار زنـــدان

د کندهار مرکزي محبس د کندهار ښار لويديځ پلو ته د سرپوزې په سيمه کې د کندهار ـ هرات دلويې لارې شمال ته متصلا پروت دی، دا د افغانستان په جنوب کې ترټول ستر حکومتي محبس دی، چې د زرګونو کسانو د ساتلو ظرفيت لري، محبس يوه مرکزي دروازه لري، په منځ کې يې متعدد بلاکونو دي او په شاوخوا يې يو محکم لوړ ديوال راګرځيدلی دی .دا محبس خورا په اساسي ډول جوړ شوی دی، په څلورو کونجونو کې يې د ترصد او څار لوړ برجونه ودان شوي، دغه راز يې په لويه چاردیوالي سربيره ترځمکه لاندې هم څو پاخه ديوالونه ترې راچاپيره شوي ترڅو له زندان څخه بهر ته د تونل وهلو مخه ونيول شي.

خو له دې ټولو امنيتي ترتيباتو سره سره دازندان دافغانستان او نړۍ دنړۍ په سطحه يوه کيسه زيږونکی زندان هم وي، په تېرو اتو کلونو کې دری ځله ددې زندان په سياسي بلاک کې ټول بندي کسان په دې توانيدلي چې له زندان څخه دتيښتې لاره ومومي، لومړی ځل په ۲۰۰۳ کال دجون په مياشت کې ددې زندان له سياسي بلاک څخه بندي مجاهدين په دې وتوانيدل چې دزندان له دننه څخه تونل ووهي اوټولو بنديانو ته چې شمير يې ۴۵ تنو ته رسيده له تونل څخه دوتلو لاره هواره کړي، ورپسې د ۲۰۰۸ کال دجون په مياشت کې په دې زندان باندې داسلامي امارت مجاهدينو بريدوکړ چې په پايله کې يې دزندان ټول ساتونکي ووژل شول او نږدې ۱۲۰۰ بندي مجاهدين ازاد کړای شول، له دې پيښې وروسته دکندهار چارواکو او امريکايانو دزندان ساتلو ته توجه خورا ډيره کړه، کاناډايانو دزندان دساتنې لپاره ځانګړي پوليس وروزل، دغه راز يې دامنيتي برجونو شمير زيات کړ، دزندان په شاواخوا يې امنيتي کامرې ولګولې، او ګردچاپيره يې يوه ژور خندق تړې را تاوه کړ، خوله دې ټولو هڅو سره سره دروان ۲۰۱۱ ميلادي کال داپريل په ۲۵ مه مجاهدين ديوه اوږده پلان په نتيجه کې وتوانيدل له زندان څخه ۵۴۱ تنه زنداني مجاهدينو ته دراوتلو امکان برابر کړي.

تصور محض

دکندهار دښاري چريکي مجاهدينو له جملې يوه تن چې له خپلو اړيکو نه په استفاده يې دکندهار دمحبس په دننه او شاوخوا سيمه کې ځان ښه بلد کړی وه، يوه ورځ له ځان سره داسوچ وکړ چې آيا ممکنه نه ده چې دې زندان ته دسرک دبلې غاړې له يوه کور څخه تونل وايستل شي، او بنديانو ته دراوتلو امکان برابرکړي ؟؟ دا تصور په لومړيو کې خپله

همدې مجاهد ته هم خندوونکی ښکاريده او له چا سره د شريکولو زړه يې نه شوای کولای، خو وروسته نوموړی په دې اړه پوره باوري شو، او يوه ورځ چې دکندهار په ښار کې له خپلو دوو نورو ملګرو سره په رکشا کې سپور و، له ملګرو سره يې خپل دانظر شريک کړ، په لومړيو کې خپله دده غوندې يې نورو ملګرو ته هم دا له امکانه لرې بريښيده او يوه خطرناکه بې ځايه خواري يې بلله، خوبالاخره يې په لوی څښتن اتکاء وکړه، خپل داپلان يې په کندهار کې داسلامي امارت دمجاهدينو له مشرتابه سره شريک کړ او دهغو دهدايا تو په رڼا کې څلورو تنو سره همرازو ملګرو هوډ وښود چې که هر څو خطرناک او ناممکن بريښي دوی حاضر دی يوځل دا پلان تجربه کړي.

دګاډر جوړولو کارخانه

دې هوډ منو مجاهدينو له اوس څخه شپږ مياشتې وړاندې لومړی دکندهار محبس جنوب لويدیځ کونج ته څيرمه دعمومي سرک په بله غاړه يو کور په کرايه ونيو، په کور کې پخوانۍ کوټې نړيدلې وې نو لومړی يې يوه نوې کوټه په کې جوړه کړه، دغه راز يې په کور کې دسيمټی ګاډرو دجوړولو لپاره ټول لازم مواد هم رايوځای کړل، څو تنه کاريګر يې هم ورسره ونيول چې دورځې به يې سيمټي ګاډر جوړول، او مازديګر به بيرته دخپلو کورونو په خوا تلل، په همدې وخت کې لومړی څلورو تنو مجاهدينو چې په سرای کې دپيره داری په نامه پاته کيدل دسرای له همدې نوې جوړې شوې کوټې څخه دزندان په خوا تونل شروع کړ.

څلور مياشتې ستړی کوونکی کار

لومړی کار څلوروتنو پیل کړ، په داسې شکل چې یوه تن به کولنګ واهه اونورو به خاوره انتقالوله، دخاورې دنقل لپاره څنګه چې تونل تنګ او لاسي ریږی نه په کې چلیده، نوددې کارتنظیمونکو په بازار کې څودکوچنیانو دلوبو بایسکلونو راونیول، ارابې یې تړې وایستې او په همدې کوچنیو ارابو یې وړې وړې باړی نصب کړې، همدا کوچنی لاسي جوړې شوې ریږی دوی له خاورو ډکولې اوبیا یې دیوې رسۍ په واسطه دغاردخولې په خوا رابنکلې، دلته دوی خاوره رایوځای کوله اوبیا به یې ولاړ موټر ته ورپورته کولو او سهار مهال چې کندهارښار ته له شاوخوا سیمو څخه دخرڅلاو لپاره له خاورې ډک موټر رائې دوی هم خپل دخاورو ډک موټر په هماغه حساب کې ښار ته داخلاوه او خاوره یې ترینه خرڅوله، دوی تردوو میاشتو پورې په څلورو کسانو کار کاوه او وروسته یې ملګري ۸ کړل، د اتو کسانو په وخت کې یې هره شپه نږدې ۴ متره کار کاوه، دوی چې خپل کار سل میتری ته ورساوه نو دنفس تنګۍ له ستونزې سره مخ شول، تردې چې د ۱۵۰ متری په مسافه کې یې نور هیڅ ددې توان نه درلود چې کار پرمخ بوزي، همدا مهال یې لومړی برقي بادپکې تجربه کړې، هغو نفس تنګي ختمولې خو څنګه چې ژمی و، نو دهوا دسړوالي او سردردی مشکل یې جوړاوه، بیا دوی یوډول باد اچوونکي بنې جوړې کړې چې دغارله خولې څخه یې داخل ته دیوه پایپ په واسطه هوا رسوله چې دا دهوا دستونزې دحل لپاره ترټولو ښه لاره وه چې دبتری په چارچ ارامې چلیدې اوهیڅ ډول شور یې هم نه کاوه، دکار په مهال دوی ته دا اندیښنه پیدا شوه، څرنګه چې دزندان په داخل کې تونل دعسکرو دموټرو دلارې څخه لاندې تیریږي هسې نه چې هلته دموټر دفشار دراتلو په وجه تونل کینې، نودوی

يې بايد څومره ژور ووهي ترڅو دکيناستو احتمال يې کم شي، ددې تجربې لپاره دوی دهمدې سرای او عمومي سرک ترمابين په مسافه کې په دوه نيم متره ژور وهل شوي تونل باندې يوه دخاورې ډک موټر ودراوه او کله چې دې درانه موټر تونل ته تاوان ونه رساوه نو دوی ډاډمن شول چې ددښمن موټر يې هم نه شي کينولای، مګر بيا هم داحتياط لپاره دوی دسر په برابرتونل ښه ژور کړ او تختې يې ورلاندې کړې، دڅلورو مياشتو په تيريدو سره ملګرو ۲۲۰ متره کار وکړ چې دامهال دتونل په مخکې يوه برمه ورته راغله، دوی دافکر کاوه چې دابه دزندان په مابين کې کومه برمه وي خوکله يې چې دزندان دمابين برمه دخپل يوه ملګري په واسطه وکتله دا هغه برمه نه وه، بلکې دوی ته معلومه شوه چې داله زندان څخه جنوب لور ته په کلي کې يوه برمه ده، په حقيقت کې تونل وهونکو چې کومه نقشه ورسره نه وه، ترځمکه لاندې يې لاروکه کړې وه، دوی په ښې لاس دومره راګرځيدلي وو، چې ترعمومي سرک بيرته را اوښتي وو، او دلته نږدې يوه کلي ته يې ځان رسولی وو، دغه راز دوی په شول چې دزندان دنقشې له موندلو او ځمک پيژندونکو آلو څخه پرته دا کار نه شي کاميابيدلای.

يوه نيمه مياشت اغيزمن کار

تونل وهونکو مجاهدينو چې ۱۲۰ متره اضافي کاريي کړی و، او لار يې غلطه کړې وه، داځل يې لومړی له انټرنيټ څخه دزندان نقشه را وايسته چې له مخې يې دوی دزندان موقعيت په سمه طريقه معلوم کړ ورسره دوی دهمدې نقشې او ځمکنۍ مساحت معلوموونکو آلو څخه په استفاده له سل مترۍ څخه بيا مخامخ تونل پيل کړ، دغه مهال څرنګه چې شپې دپخوا په پرتله وړې وې، نودوی کسان ډير کړل او شمير يې ۲۱ تنو ته ورساوه، څنګه چې په اوړي ځمکه ډير بخار نه لري نو دنفس

تنګۍ ستونزه هم دپخوا په پرتله کمه شوې وه، دا مهال نو دوی خورا اغیزمن کار وکړ، او د ۱۲۲ متره مسافې په وهلو سره یې دزندان داخل ته ځان ورساوه (بایدوویل شي چې دالاماره پاڼې په رسمي راپور کې چې دتونل اوږدوالی ۳۲۰ متره ښودل شوی و، هلته هغه څه باندې سل متره اضافي تونل چې په غلطی وهل شوی و هم ورسره شمیرل شوی و، چې په هغه حساب دتونل اوږدوالی نږدې ۳۲۰ مترو ته رسیږي، خوله اضافي تونل پرته یې بیا اوږدوالی دقیقا ۲۲۲ متره کیږي دغه راز باید ووایو چې ددې تونل لوړوالی ۷۰ سانتي او عرض یې ۲۰ سانتي و)

دکندهار په محبس کې مجاهدین دوه ځایه بندیان وو، ډیر مجاهدین چې شمیر یې تقریبا ۵۳۰ نفرو ته رسیده دمحبس په سیاسي بلاک کې بندیان وو، مګر یوشمیر نور دمحبس په توقیف خانه کې هم بندیان وو، دتونل په مخکې لومړی توقیف خانه راغله، په توقیف خانه کې دهمدې تونل وهوونکو مجاهدینویو ارتباطي کس و، چې هغه به په یوه بهانه ځمکه ټکوله اولاندې به په کار بوختو ملګرو ته دادرک لګیده چې دوی مخکې دي، شاته دي او یاهم څنګ ته دي، خو بالاخره په همدې طریقه دوی وتوانیدل چې توقیف خانې ته تونل وربرابر کړي، اوبیایې دموقعیت دښه یقیني کولو لپاره په یوه مناسب فرصت له لاندې خوا څخه سیخ هم پورته وباسه، ترڅو پاسني ملګري ډاډ ورکړچې موقعیت سم دی بیا له دې ځایه سیاسي بلاک ته درسیدو لپاره دپنځو ورځو په ترڅ کې دشمال په خوا ۲۳ متره نور کاروشو ترڅوتونل سیاسي بلاک ته ورسید، په سیاسي بلاک کې دتونل کیندونکو دوه ارتباطي ملګري وو چې دواړه په ۷ نمبر اطاق کې وو، اودوی هم غوښتل چې تونل اووم نمبر اطاق ته ورسوې، دوی غوښتل چې دموقعیت دیقیني کولو لپاره دلته هم له تونل څخه پورته یوځل سیخ وباسي ترڅو بیا دسوري پرې کولو په مهال غلطي رانشي، دغه مهال نو دوی په دې

کې متردد وو چې تونل دشپږم اطاق په برابر دی کـه داووم، ددې لپاره چې دسیخ ایستلو په مهال ددې اطاقونو نور ملګري له دې پروګرام څخه خبر نه شي همدې دوو ملګرو یوه ورځ دمانبام له لمانځه وروسته دزندان په مسجد کې دقران کریم دختم مراسم راوبلل، په دې ورځ چې ټول ملګري په مسجد کې په ختم بوخت وو، او اطاقونه ټول خالي وو، دغـه دوه تنـه ملګري لـه مسجد څخه راووتل یوه په شپږم اطاق کې څار پیل کړ او بل په اووم کې دغـه مهـال چې لاندې لـه تونـل څخـه ملګرو سیخ تـه زور ورکړ، نوددوی دطمعې خلاف په شپږم اطاق کې سیخ راووت، لـه دې وروسـته دوی دوه متره نور کار وکړ ترڅو داووم اطاق اندازې تـه ورسیدل، مګر بیا هم دښه یقین لپاره دوی ضروري بلله یوځل له لاندې خوا څخـه پورتـه سیخ وباسي، دلتـه نو لـه اطاق څخـه دنورو ملګرو دایستلو لپاره بیا ختم هم نـه شوای جوړیدلای، نودڅانبت په مهال کې چې زیاتره زندانیان دڅانبت دلمانځه او یا اودس تـازه کولو لپاره بهـر وزي، لـه یوه داسې څو دقیقـه یې فرصت نـه دسیخ دایستلو لپاره استفاده وشوه چې په اووم نمبر اطاق کې لـه همدې ارتباطي ملګرو پرته بل څوک نه وپاته، چې په دې توګه سیخ پـه بریالیتوب داووم نمبر اطاق تـه وایستل شو، او دخلاصون دعملیاتو پـه ورځ دسوري جوړولو لپاره ځای دقیق شو، باید ووایو چې ددې سیخ په ایستلو کې هم لـه یوه په زړه پورې حکمت څخه کار اخیستل شوی و، ځکه تونـل دوه نیم متره لاندې دی، چې ایله ۷۰ سانتي لوړوالی لري، نودومره اوږد سیخ څنګه پـه کې برابریږي ترڅو پورتـه وایستل شي، ددې لپاره مجاهدینو فولادي سیخونه نیم نیم متر پرې کړي وو، چې یولـه بل سره پـه چوړیو بسته کیدل، کله به چې نیم متر دجبک په واسطه پورته په خاوره کې ننویستل شو، بیا به بل نیم متری ورسره بسته شو، اوهغه ته به جبک ورکړل شو، دغـه راز یې بیرته درایستلو لپاره هم یوداسې اوسپنه ورته جوړه کړې وه، چې لـه هرنیم

متری سره په چوړیو بسته کیدله او بیا دلاندې خواته دځټک په ګوزار سره سیخونه را ایستل کیدل.

دبنـدیانـو درایـسـتـلو پـلان

مطلوب هدف تـه دتونـل لـه رسـیدو وروسـته، ددې کـار مسـؤلو ملګـرو نـور کـار ودراوه، او داسـلامي امـارت لـه مشـرتابه څخـه یـې دبندیانو درا ایستلو دپلان په اړه هدایات وغوښتل، په دې اړه دکندهار دمسؤلو مجاهدینو په شمول داسلامي امارت لوړپوړو چارواکو له یوبل سره په بیا بیامشورې وکړې، ترڅوپه خوندي توګه دبندیانو درایستلو عملیات انجام شي، ددې مشورو په پایله کې پلان داسې ترتیب شو، چې دتونل کیندونکو له جملې یوه تن نوښتګر مجاهد چې ددې تونل دوهلو نظریه یې پیشنهاد کړې وه، او دتونل کیندلو په مهال تر ۳۰۰ متره پورې دکولنک وهلو سخت کار تنها ده کړی و، نومورې بـه دنجـات دعملیاتو مشروي، او دعملیاتو په مهال بـه لـه ضرورت سره سم بیړنې تصامیم نیسي او مشرتابه ته به دجریان ژوندی حال ورکوي.

دغه راز پلان باید تروروستي شیبې محرم وساتل شي، پـه زنـدان کې له ارتباطي ملګرو سره تماس جوړ شي، او هغـه دې تـه تیـار شي چې دزنـدان پـه دننـه کـې لـه پـلان سره سم دبنـدیانو د تنظیم او راایسـتلو مسؤلیت په غاړه واخلي، پـه دې توګـه پـلان نهـایي شو او داجراء لپـاره دعملیاتو نومول شوي مشرته وسپارل شو.

دخـلاصـون عـملیـات

دعملياتو دسم ترسره کيدولپاره، په احتياطي تدابيرو او مقدماتي کارونو له سره غور وشو، په تونل کې دنفس تنګۍ دستونزې دحل لپاره، يوه قوي هوا پمپوونکي بنې فعاله شوه، او هغه پايپ چې دتونل تربل سره غځيدلی و لس ځايه نور سوری شو ترڅو ټول تونل ته هوا وکړي، دغه راز په تونل کې ۴۵ بتې هم ولګول شوې ترڅو تونل رڼا کړي، داحتياط لپاره دفدايانو يوګروپ هم شاوخوا سيمې ته ورسول شو چې داحتمالي خطر په وخت کې په عملياتو لاس پورې کړي، دعملياتو مشر په دې خاطر چې عمليات خورا پيچلي او خطرناک وو او دافشاکيدو احتمال يې خورا قوي و، دخپلو يو ويشتو رازدارو ملګرو له جملې دعملياتو په ورځ يوازې پنځه تنه نور له ځان سره کړل چې ټول شپږ کيدل، ترڅو دعملياتو دناکامۍ په وخت ټول ملګري نه وي ضايع شوي.

دوی دورځې په نهه بجې دزندان په داخل کې خپل دری ارتباطي زندانيان چې يوپه توقيف خانه او دوه په سياسی بلاک کې وو خبر کړل، چې را روانې شپې ته عمليات دي دوی بايد ورته اماده وي، دسياسي بلاک داووم اطاق ارتباطي کسانو په دې شپه ددې لپاره چې ملګري په خپل وخت اګاه او وتلو ته تيار کړای شي، په خپل اطاق کې ميلمستيا جوړه کړه اودهراطاق يو يادوه کسان يې راوغوښتل، دعملياتو مشر ترتيب داسې جوړ کړ، چې دشپږو ملګرو له جملې به څلورتنه تونل ته داخليږي، دوه به دتوقيف خانې په سوري کار کوي او دوه دسياسي بلاک په سوري، او دوه نور به دتونل په بهرنۍ خوله کې ناست وي، څرنګه چې دوی په دې ورځ دلين ټيلفون هم دتونل مابين ته تير کړی و، نو په دې طريقه به دتونل په خوله کې ناست ملګري د داخلوشويو ملګرو او دزندان په داخل کې دملګرو ترمابين په ټيلفون معلومات تبادله کوي، چې اړوند کار يې کوم ځای ته رسيدلی او څه بايد وکړي.

څلور ملګري له جېکونو او سپنيزو پايو سره تونل ته داخل شول او څه باندې لس بجې وې چې توقيف خانې او سياسي محبس ته په سوري ايستلو يې شروع وکړه، دجېک په واسطه دتوقيف خانې فرش زر مات شو او هلته بندي ملګري هم راووتل، څرنګه چې له دوی سره دوه تنه حکومتي عسکر هم بنديان و، دهغو له جملې يو دمجاهدينو له خوا دبې هوښي په درملو سره بې هوښه کړل شو او دوهم تن لاس ترلی ترتونل وايستل شو ترڅو غالمغال جوړ نه کړي، دسياسي محبس فرش خورا قوي جوړ شوی و، او ملګري تردېره پرې بوخت وو، جېک به فرش پورته کړ، خو داسې معلوميده لکه دتونل چې هوا ايساره وي نوځکه پورته نه سوری کيده، خو بالاخره په بيا بيا هڅو سره وتوانيدل چې دافرش هم مات کړي، دسياسي بلاک دااووم نمبر اطاق په غولي کې دښه ازاد سوري دپرې کولو نه وروسته لاندنيو ملګرو پاسنيو ارتباطيانو ته څلورميله توپانچې او څلور قبضې برچې ورکړې ترڅو په عملياتو کې کار ترې واخلي دغه راز يې دليني تيلفون دستګاه هم ددوی په واک کې ورکړه، ترڅو دتونل دبل سرله ملګرو سره په رابطه کې ووا وسي، په دې توګه له زندان څخه دبنديانو راوتل پيل شول، تريوې نيمې بجې پورې تقريبا ۲۵۰ کسه بنديان راووتل، دلته دعملياتو تنظيمونکو دافکر وکړ چې که بنديان همداسې په بيړه راوزي کيدای شي، تردوو بجو پورې ټول زندان خالي شي، اوپلان داسې و چې بنديان بايد داسې مهال راوايستل شي چې بهر ډير انتظار ونکړي او زر رخصت شي، ځکه بهر ترسهار انتظار ډير خطرناک و، له يوې خوا بهر افشاکيدل او بل که خدای نخواسته ددښمن عسکرو زندان ته ورکتلي وای او يومخ خالي يې ليدلای وای نوبيا هم خبره افشا کيده، له همدې املې دبنديانو درااېستلو کار ترنيم ساعته پورې وځنډول شو، په دوه بجې بيا دملګرو

رايستل پيل شول او تر ۳ بجو پوري مکمل زندانيان را ويستل شول، بايد ووايو چې درايستلو په وخت کې دتونل په دواړو سرونو کې بنديان تلاشي کيدل، په لوړ سرکې له دوی نه اضافي شيان لکه بکسونو، او نور منقوله شيان غورځول کيدل ځکه ددوی انتقال يې ځنډاوه، او کيدای شي ددوی دبيا نيول کيدو سبب ګرځيدلي وای، دغه راز له هرملګري څخه تردری زره زياتې پيسې اخيستل کيدې او هغو ته ورکول کيدلي چې پيسې نه درلودې.

دبنديانو درايستلو په مهال دزندان په داخل کې هم نظم خورا برابرو، تعين شوي ملګري په نوبت هرې کوټې ته ورتلل بنديان يې راويښول او دتونل په خوا يې رهبری کول، زندانيان چې څنګه له تونله راوتل نو په سرای کې په ولاړو موټرو کې کينول کيدل، بايد وويل شي چې په هرموټرکې ۳۲ تنه بنديان ځای په ځای کيدل، کله چې ټول بنديان راووتل نو لس باندې دری بجې وې چې موټرو ته دروانيدو اجازه ورکړل شوه، موټر له سرای نه ووتل دغه راز يو شمير بنديان په ديواله کې له يوه غار څخه دمحله جات په خوا مخ په جنوب هم ووتل، خو هغو ته هدايت داسې و، چې له څه مزله وروسته بيرته دکندهار ـ هرات عمومي سرک ته راپورته شي، او دلين په موټرو کې ځان له سيمې وباسي، بايد وويل شي چې دبنديانو دانتقال لپاره دراوستل شويو موټرو له جملې دوو موټرو يوه يوه بله پيره هم وکړه، او چې دری نيم يا څه کم څلور بجې کيدلې دزندان په شاوخوا کې هيڅوک هم پاته نه وو.

بايد وويل شي چې له زندانه بهر دمجاهدينو داحتياط او هوښياری، برکت و، چې دښمن په جريان خبر او اګاه نه شو، کنه همدغه سرای دزندان دامنيتي برج نه يوازې شل متره فاصله لري، او دسرای

منځ له همدې برج څخه ښکاري، دغه راز د ښمن امنيتي کامره د همدې سرای دروازې ته مخامخ متوجه وه، خو ترپايه يې هيڅ هم کشف نه کړل.

د عملياتو مصارف

بايد ووايو چې دې عملياتو هيڅ ځاني زيان نه درلود او نه د مجاهدينو يوه مرمۍ په کې مصرف شوې ده، دغه راز يې مالي زيانونه او مصارف هم ترهغه ډير کم وه چې اټکل يې کيږي، د عملياتو د مشر په وينا په تيرو پنځه نيمو مياشتو کې د دوې ټول مصارف يوازې نهه لکه افغانيو ته رسيږي، په دې کې د سرای له کرايې، د ملګرو له خوراک، د موټرو له کرايې او د اسې نورو مصارفو نيولې هغه زيان شوي شيان هم شامل دي چې په وروستۍ ورځ په سرای کې پاته شول، د عملياتو مشر مجاهد ملګری(چې د دې عملياتو د ترسره کولو لپاره يې د ګاډرو کارخانه جوړه کړې وه) وايي چې په پنځه نيمو مياشتو کې مو سل سيمتی ګاډر هم جوړ او خرڅ کړل چې ښه ګټه يې وکړه، دی وايي د عملياتو په پای کې چې کله د وروستيو کسانو په توګه له سيمې وتلو او سرای ته مو د وروستي ځل لپاره قلف اچاوه، نو په تونل کې مو ۴۵ بتۍ، او هوا توليدونکی بنۍ چالانې پرې ايښې وې، دغه راز مو د ګاډر جوړولو لس قالبونه، د ۵۰ زرو افغانيو فولادي سيخ، دوه جنراتورونه، دوه لاسي ګاډی، دوه جېکونه، او څو پېرې جغل هم پرې ښود، خوله دې تاريخي سرای څخه مو هغه ګټه ترلاسه او وايستله چې له دغو لږو مالي تاوانونه سره په هيڅ وجه هم د پرتلې وړ نه بلل کيږي.

پای (له څرک مجلې نه په مننه)

دکندهار محبس دماتیدلو په اړه داسلامي امارت درهبري شورای اعلامیه

تیره شپه (۲۵/۴/۲۰۱۱) دمتعال څښتن جل جلاله په نصرت اوفضل، داسلامي امارت مجاهدین په دې وتوانیدل، ترڅو دیولړ بریالیو تاکتیکي عملیاتو په پایله کې، دکندهار ښار په محبس کې ټولو موجودو ۵۴۱ تنه زنداني مجاهدینو ته نجات ورکړي. موږ ددې ستر جهادي بریا دپیرزوینې له املې دمتعال او ناصر خدای جل جلاله شکر ادا کوو او دغه لوی انعام یې په لایتناهي حمدونو لمانځو.

دغه راز ددې ستر فتحې له املې دافغانستان مجاهد اولس، دروان جهاد ټولو مجاهدینو، دبندیانو کورنیو او په مجموع کې درست اسلامي امت ته مبارکي وایو.

باید ووایو چې دکندهارپه زندان باندې له تیرو دوو ځلو عملیاتو وروسته، اوس دښمن دزندان ساتلو ته خورا ډیره توجه اړولې وه، دزندان په شاوخوا کې یې دکورنیو او بهرنیو سرتیرو پوستې جوړې کړې وې، خندقونه یې ایستلي، سمټې دیوالونه یې درولي، امنیتي کامرې او نورځارونکي وسائل یې نصب کړي وو، خو دحق دلارې مجاهدینو یوځل بیا د نړۍ په ستراستعماري نظامي طاقت او په غرب کې د هغه په روزل شویو او پالل شویو داخلي لاسپوڅوخپله تاکتیکي بریا ثابته کړه. مجاهدینو پدې سره دامریکا د ترټولوستایل شوي جنرال پیټرایوس هغه دروغجنې ادعاوې هم درې وړې کړې چې ویل یې :((کندهار کې مو د طالبانو قوت مات کړی دی او ښکاره نظامي لاسته راوړنې لرو)).ربښتیا باطل شور او زوږ لري، خو ماهیت نلري.دکندهار د زندان ماتولو وښوده چې امریکا اوباطل اندیوالان یې یوازې په ډنډورو

او پوچو تبلیغاتو پایي، خو بې بنسټه ډنډوري بیا د ذلت نه ډکې پایلې لري. ګران هیواد وال وینې چې دهیواد په سطحه، عمل او ابتکارتل د مجاهدینو په لاس کې دی.

همداراز، په نورو ولایاتو کې د مجاهدینو وروستنیو مؤثرو عملیاتو، د امریکا د ولس او نړۍ د ولسونو په نظر کې، د امریکایي ځواکونو د مشر جنرال ډیویډ پیټرایوس هغه کاذبانه موقف، بې اعتباره کړ چې وایي د افغانستان په سطحه یې ښې نظامي بریاوې ترلاسه کړې دی. د خندا خبره ده چې د کندهار د زندان د ماتیدو نه یوه ورځ د مخه، د پنتاګون یوه مشر وویل چې :((په روان ۲۰۱۱ کال کې به طالبان بیخي له افغانسان څخه محو کړي، چې بیا به په هیواد کې موجود نه وي !!)). مونږ د پنتاګون دغو مشهورو درواغجنو ته یوازې دا وایو چې د مارچې او کندهارد عملیاتو ناکامي، د کورنګل او د پیچ ددرې نه د امریکایي عسکرو په شاتګ، د طالبانو د محو کیدو معنا لري او که ستاسې د شکست؟ ! د ګوډاګي اداري ددفاع وزیر دفترته د مجاهدینو لاره موندل د چا بری ښیي؟ ستاسو په معاش خورو پولیسو ستاسو وژل دچا دبرلاسی ثبوت دی ؟تاسې ته اوس یوازې درواغ او په مظلومو ملکی افغانانو بمباري، د شنو فصلونو او باغونو تباه کول او له مظلوموافغانانو زندانونه ډکول درپاته دي؟ لاکن څه شو ستاسي د بشر حقوق او څه شوه ستاسې دیموکراسي؟ په هر میدان کې پاته یاست.

داچې مجاهدین دځواک او مورال له اړخه دقوت په حال کې دي، او افغان مجاهد اولس یې ترشاه ولاړدی، دغه راز به ان شا الله دښمن له پرله پسې پوځي او سیاسي شکستونو سره مخامخ کیږي، نړیوال اشغالګر او داخلي اجیران یې باید نور له خپل سرزورې سیاست څخه لاس واخلي اودافغانانو هیوادافغانانو ته پریږدي، له دې سره هم مهال

هغه لويديځ اولسونه چې حکومتونه يې دافغانستان په اشغال کې سهم لري بايد دافغانستان دروانو جريانو تو دقيق جاج واخلي او په افغانستان کې دفوځي وضعيت موازنه له سره وارزوي او په بنسټ يې خپل حکومتونه له بې هدفه او تاواني جګړې څخه راوګرځوي.

په ټوله کې بايد ووايو چې دکندهار دا وروستي عمليات دکندهار ښار دنورو عملياتو غوندې له هره اړخه خورا موفق عمليات و، الله تعالى دې هغو مجاهدينو ته چې ددې پروګرام په بريالیتوب کې يې داڅومياشتې خواري کړې دي، اجر عظيم او نعم البدل ورنصيب کړي. الله تعالى دې په راتلونکې کې دداسې پيرزوينو په ذريعه په هيواد کې د واقعي اسلامي نظام راټګ يقيني کړي.

داسلامي امارت رهبري شورى

(له الاماره ويب پاڼې نه په مننه)

دکندهار زندان له يوه تن ماتوونکي مجاهد سره دالاماره ويب پاڼې ځانګړې مرکه

مرکيال: عمران خليل

دالاماره ويب پاڼې درنو مينوالو مورِ دمرکو او راپور تاژونو په لړ کې مو دا ځل دکندهار زندان دماتيدو او د۵۴۱ تنو مجاهدينو دراخلاصيدو دتاريخي او له ويارِه ډکې کارنامې دمعلوماتو په اړه دزندان دماتيدو دپلان جوړونکو له جملې نه له يوه تن مجاهد سره مرکه

کړې، مرکه کوونکی مجاهد چې دا کاريي په پوره اخلاص ترسره کړی نه غواړي چې نوم يي واخيستل شي او يا تشهير شي نوځکه يي دده له غوښتنې سره سم له مستعار نامه اخيستلو هم تيريږو ..بسم الله الرحمن الرحيم

ډير قدرمن او محترم مجاهد ورور ترهرڅه مخکې دکندهار دزندان دماتيدو او دمجاهدينو دازادېدلو او ددې سترې فتحې مبارکې تاسو او ټولومجاهدينو ته وايو الله تبارک وتعالی دي دظالمانو په منګولوکې نور پاته مجاهدين هم په خپل فضل اوکرم ازاد کړي.

محترم ! که په پيل کې راته ووايا ست چې دکندهارزندان دماتيدو او دزندان منځ ته دتونل کيندلو پلان مو په اول سر کې څرنګه جوړ او دې ستر او له زحمتونو ډک کار ته مو ملا څرنګه وترلې که په دې اړه معلومات راسره ګډ کړئ؟

جواب: نحمده ونصلي على رسوله الكريم

امابعد فاعوذبالله من الشطن الرجيم بسم الرحمن الرحيم، والذين جاهدو فينا لنهدينهم سبلنا، صدق الله العظيم

محترم ورورہ په دې زمونږ ايمان او يقين دې چې څوک دالله په لار کې دخدمت لپاره راووځي نو دالله ج نصرت او مرسته به حتما ورسره وي ستاسو دسوال په اړه به ووايم مونږ چې دمحبس دماتيدو دپلان جوړولو اراده وکړه، په پورته ذکر شوي ايات مبارک مو يقين وو چې الله ج فرمايي څوک چې دالله په لار کې ووځي الله ج دهغه لپاره دنجات او کاميابي لارې ورښيي دزندان دماتيدو په پلان کې زمونږ تکيه يوازي دالله ج په مرسته وه او دې له مشکلاتو او خطراتو ډک کار ته مو ځکه هوډ وکړ چې دکندهار په محبس کې زيات شمير مجاهدينو ترسخت

کړاو او مشقت لاندي شپې تيرولې دوخت دظالمو چارواکو له خوا په ډول ډول عذابونو شکنجه کيدل، داکثرو مجاهدينو دراخلاصيدو تمه نه وه ځينې يې ظالمانو په اعدام محکوم کړي وو او دبعضو پر سر بيا ډيرې لوړې روپۍ ايښودل شوي وي چې دې مظلومو انسانانو دابار نشواي اوچتولاي او ځينو بنديانو ته ويل شوي وو چې تاسو به کابل او باګرام ته انتقال کړو، نو دا ټول ددې سبب شو چې موږ يې دې کار ته وهڅولو او کلک عزم مووکړ چې ددې مظلومانو دراخلاصولو لپاره به هرنګه مشکلات پر ځان برداشت وو او خپله بندګي سعيه به کوو، هغه وو چې الله ج په دې کار کې موږ کامياب کړو او خپل هدف ته ورسيدو.

ددتونل دکيندلو پلان داسې وو چې لومړي مجاهدينو دکندهار دمرکزي محبس چې دکندهار هرات پر لويه لار دسرپوزې په سيمه کې واقع دي، دسړک په پنځه متري کې دجنوب طرف ته يو کور کرايه کړ چې څو کوتې يې درلودې مجاهدينو دلته ظاهرا دساختماني شرکت په نامه، دګاډرو او نورو ساختماني وسايلو د جوړولو کارپيل کړ څوچې شا وخوا خلګ په دې ډاډه شول چې دلته ساختماني کار روان دی، له هغه وروسته دسراي ديوې کوتې په دننه برخه کې مجاهدينو دتونل (لغم) پرخوله کيندلو دالله جل جلاله په نصرت کار پيل کړ او ورو-ورو دا کار پر مخ تلی، تقريبا دپنځنيمو مياشتو په مدت کې دتونل کار پايته ورسيد کوم ځاي ته چې مجاهدينو غوښتل هلته ورسيدل.

کومه شپه چې ټول کار خلاص شو او يوازي دمحبس دننه دهغې کوتې سميټي غولی پاته وو، چيرته چې مجاهدين اوسيدل، د۲۰۱۱ کال دا پريل دمياشتې (۲۳) نېټه دشپې دلسو بجو مهال وو چې له لاندي خوا مو دکوتې غولې سوری کړ، په دې وخت کې دمحبس دننه يوازي درې تنه بندي مجاهدين له دې پلان نه خبر وو، کله چې غولی سوري شو موږ او

بندي مجاهدينو سره وليدل په ډير تلوار مو هغوي، له ټول پلان څخه خبر کړل او دا مو ورته وويل، انتها يې کوشش وکړي چې موږ ډير کم وخت لرو ترڅوټول بندي مجاهدين انتقال کړو، له هغه وروسته مو دتونل له دباندي برخې نه دراغځيدلي ټليفون غوږۍ دوي ته ورکړه ترڅو دتونل دننه برخه او دباندي مجاهدين سره په تماس کې وي، دمحبس دننه څو تنو مجاهدينو ته مو څومیله تومانچې او برچې ورکړې که کوم مزاحمت رامخته کيږی له دې وسلو نه به کار اخلي، له دې سره سم په پلان خبرو مجاهدينوويده بنديان په نوبت رابيدارول اوتونل ته يې راکښته کول، په پلان خبردارومجاهدينوته موهدايت وکړچې که کوم بنديان مجاهدين بې زړه کيږی او وتلو ته زړه نه ښه کوي نو هغه په زور دې ته مجبوره وئ چې راووزي، نور له پلان سره سم دمجاهدينو انتقال پيل شو.

پوښتنه: ددې تونل داوږدوالي او سور اندازه څومره وه ؟

جواب: دا تونل دوه متره ترمځکه لاندي پيل شوي وو، اوږدوالی يې تقريبا ۳۲۰ متره (البته په دې کې ۱۲۰ متره هغه برخه وه چې مجاهدينو طرف غلط کړی و او اضافي خواري يې کړې وه) او نور دومره اندازه وو چې سړي لږ چوخ (په ملاکوږ) پکې تللي شواي، په هرتقدير ښه په اسانۍ سره پکې تګ کيدلای شواي دمجاهدينو دانتقال په وخت کې موږ له هيڅ مشکل سره نه يو مخ شوي.

پوښتنه: دتونل په کيندلو کې له کومو وسايلو نه کار واخيستل شو؟

جواب: وسايل ټول عادي وسايل وو هغه وسايل چې زمونږ او ستاسو کاريګر خلګ ترې کار اخلي لکه کولنګ، ببلچه او لاسي رېږۍ، ماتاسو ته وويل چې دا کار ددغو وسايلو ترسويې لوړ وو مګر يوازي دالله نصرت وو چې موږ نه مايوسه کيدو او نه له دې کاره ستړيکيدو.

پوښتنه: داچې داتونل ۳۲۰ متره اوږد وو زياته خاوره به راوتلي وه دا خاوره تاسو چيرته انباره وله ؟

جواب: خاوره مورږ پر يوه ځاي نه اچوله ددې لپاره ترتيب داسې وو ، يو مازدا موټر خاص ددې لپاره ولاړ وو چې دتونل څخه کومه خاوره راوزي هغه دباندي انتقال کړي، مورږ دخاورې دراايستلو لپاره کوچنۍ ريړۍ جوړې کړې وې چې دهغو په واسطه به خاوره راايستل کيده او په هغه ګړي به موټر ته پورته کيده پر مځکه مو نه اچوله، په ټوله شپه کې مجاهدينو دومره کارکاوه چې ايله دا يو موټر بار کړي، هغه موټربه دا خاوره بازار ته وړه، ډير وخت داسې وو چې هغه به يې پر کوم چا خرڅه کړه، څرنګه چې زمورږ ځاي دساختماني شرکت په نوم خلګو پيژانده نو دموټر دانتقال پر وخت خلګو ته سوال نه پيدا کيده چې دلته څرنګه موټر هميشه رفت امد کوي.

پوښتنه: په تونل کې څومره کسانو کار کاوه، او څه وخت به دا کار پيل کيدی؟

جواب: لومړی تر دوو مياشتو پورې څلورو کسانو کار په کې کاوه، بيا اته کسان شول چې دژمي په موسم کې به يې دشپې له ۸ نيمو بجو ترسهاره کارکاوه وروسته چې شپې کوچنۍ شوې نو مورږ کسان کرار کرار زياتول چې دپای ته رسيدو تروخته يې شمير تقريبا ۲۱ کسانو ته ورسيده، بايد ووايم چې په دې ملګرو کې ډير کسان دخاورې په انتقال مصروف وو او دکولنګ کار لږو کسانو کاوه، په دې کسانو کې زمورږ خورا همتناک مجاهد ملګري رايوځای شوي ؤ، تردې چې دهمدې ملګرو له جملې تر ۳۰۰ متره مسافې پورې کولنک يوازې يو تن وواهه.

او کاریوازي دشپې لمخې کیده دورځي دلتـه کـار امکـان نـه درلود، څوکسان دلته په سراي کې اوسیدل او نور به له دباندي ورته راتلل، دشپې به کارپیلیده بیا تر سهاره، له هغه وروسته به زیات کسان بیرته په تیاره کې خپلو ځایونو ته تلل بله شپه به بیا راتلل.

پوښتنه: داچې تونـل څومره اوږدیـږي هلتـه داکسیجن او هـوا کمبود رامنځ ته کیږي او یو ډول نفس تنګي پېښیږي د دې لپاره تاسو څه ترتیب درلود؟

جواب: دتونل کیندلو په وخت تر یونیم سل متره پورې موږ دهوا له کمبودسره نه یو مخامخ شوي له هغه وروسته نفس تنګي پیدا شوه او دومره زیاته شوه چې دکار هیڅ امکان نه و، بیا موږ «برقي پکې» پیدا کړې، هغو دنفس تنګۍ ستونزه کمولـه خو سردرد یې لاره، بیا مجبور شوو، یو ډول بنۍ مو جوړې کړې چې بهربـه لګیدلې وې او دپایپ پـه واسطه یې هوا داخل تـه پمپ کوله، دا بیا ښه موثر شی و، خو دنفس تنګۍ ستونزه په ژمي ډیره وه چې اوړۍ شوبیا په تونل کې دننه نفس تنګي دومره نه وه.

پوښتنه: دکندهار بـه زنـدان کې څو بلاکونـه دي چې بنـديان پکې ساتل کیږي او دا تونل هم ډیر اوږد دي نو تاسو څنګه وکولای شوای چې لـه دې نورو بلاکونو تیر شي او ستاسو هدف سیاسی بلاک تـه ځان ورسوئ تاسو درهنمایي لپاره له کومو خاصو آلو نه کار اخیست که څنګه؟

جـواب: پـه اول سـر کـې دومـره مشـکل نـه وو او نـه کومـو الـو تـه ضرورت پیښیده او بل زموږ اکثرا تونل کیندونکي مجاهدین ددې سیمې بلد خلګ وو اندازه ورته مالومیدله خو کلـه چې تونـل پـر مـخ ولاړ لـه هغـه وروسته موږ نشواي کولای چې خپل هدف ته سیده ولاړ شو، وروسته موږ لاروکه کړه او تقریبا ۱۲۰ متره کار مو عبث کړی و اوله زندان څخـه بیخي

بلې خوا ته کاږه تللي وو ، بيا مورږ له انټرنيټ څخه دزندان نقشه راويسته او هغې ته موکتل ورسره مو له فاصله پيژندونکو آلونه کار اخيسته چې ، بيا مورږ ته کوم مشکل نه وو ، ستاسو په خبره رښتيا هم زمورږ ترهدف پورې په مخ کې ډيرځايونه دي ، لومړي دهرات –کندهار لوی سړک له هغه وروسته يوه داوبو ويالې تيره شوې او بيا په محبس کې دتوقيف خانې بلاک ، جنايي بلاک او سياسي بلاک دي مورږ دالله ج په نصرت تردغو ټولو نقطو تير شو لومړی مو دتوقيف خاني مطلوب اطاق ته ځان ورساوه او وروسته دسياسي بلاک اووم نمبر کوټې ته .

پوښتنه : دکابل دګوډاګي اداري استخباراتي کسانو وويل چې دغه سراي چې دتونل کار پکې پيل شوي و دوه نيمې مياشتي مخکې دپوليسو لخوا تلاشي شوي و ددوي دا ادعاترکومه ځايه سمه ده ؟

جواب : دا خبره بلکل بې اساسه ده په دې څه کم شپږمياشتي کې دتلاشی او يا نورې پلټنې لپاره نه په ښکاره او نه دکومې پلمې لمخې څوک راغلي دي ، که څه هم دې ځاي ته شا وخوا دزندان دامنتي کسانو ځاي ډير نژدې و ، او دې ځاي ته به عام کسان هم راتلل ، خو مورږ داکار دومره په احتياط کاوه چې هيڅ څوک نه پوهيدل چې دلته کوم کار روان دي چې کاربه پايته رسيده سمدستي به مورږ دتونل خوله پټوله او فرش به مو پرې اوارا وه ، عجيبه داده چې دې کوټې ته چې تونل خوله وه پکې کله کله به پوليس راغلل يا به يې اوبه او يا به يې له مورږ سره چاوې وخښلې ، مګر الله ج هغوي کاڼه او ړانده کړي وو په هيڅ نه پوهيدل.

پوښتنه : دتونل کار خو څه کم شپږ مياشتې واخيستي او درې مياشتې وړاندي دژمي موسم و ، نو په هغه وخت کې تاسو ددې خطر نه احساساوه چې دلندبل له امله به دا تونل کښينې او يا به ونړيږي ؟

جواب: يو خو داتونل ترمځکه دوه نيم متره لاندي پيل شوي و او دوهم سړ کال په ژمي کې دنورو کالونو په نسبت دومره بارانونه نه وو چې داوبو نو دې ډير لاندي لاړ شي، خو بيا هم پر کومو ځايونو چې موږ بيريدلو چې زيم ونکړي او يا لاندي کښته نشي، لکه دکندهار – هرات سړک چې ډير درانه موټر پرې تيريږي او تردې مخکې يوه ويالـه ده، دې ځايونوتـه مو يو ډول تختې ورکړې چې هغه ځايونه يې ښه محکم نيولي وو.

پوښتنه: له عامو خلګو سره داسوال دي چې په دې دومره اوږده او تنګ تونل کې تر۵۰۰ دزياتو کسانو راتيريدل ډير مشکل کار دي ضرور دهوا دکمبود له امله نفس تنګې رامنځ ته کيږي او که لږ لږ نفر انتقالوي نو بيا وخت کم دی يوازي څو ساعتونه دي چې تاسو بايد خپل کار پايتـه رسولای واي که په دې اړه لږ توضيحات راکړئ؟

جواب: يوازي دالله ج نصرت وو چې موږ يې په دې مشکل امتحان کې کامياب کړو، او ددې کار پـه ښـه ترتيـب سـره دانجـامولو لارې يـې راوښولې، لکه مخکې چې مو وويـل دګـيس درامنځ تـه کيدو او دهوا تـازه کيدو لپاره موږ دهوا دپمپ لپاره دتونل په خولـه کې يـوه الـه نصب کړې وه چې د(بنې) په واسطه يې هوا پمپ کوله، او له دې سره سره مو دتونل بل سر او پـه منځ کې څو ځايه برقي پنکې ايښې وې، او بل دټولو بنديانو انتقال پـه يو ځل نه وو، په محبس کې دننه له پلانه خبردارو مجاهدينو به دهرې کوټې بنديان راويښـول اولـږ لـږ نفربـه يـې لغـم تـه شـوه (داخـل) کـول پـه تونـل کـې دغځيدلې ټليفون په واسطه به دتونل له سر سره تماس نيول کيده چې دهغې ډلې سر به هلته ورسيد نو دبلې کوټې بنديان به راويښدل او تردې دمخه يوه کوټه هم په بله کوټه نه وه خبره چې څه تيريږی ځکه کـه خبر شوی وای ضرور شور، اوناري جوړيدې او مشکلات يې راپيدا کول، چې پـه دې ترتيـب سـره موږ له هيڅ مشکل سره نه يو مخ شوي.

پوښتنه: کله چې داتونل هغې کوټې ته ورسيد چې ستاسو مدنظر و، ددې کوټې فرش او غولی خو سيميټی او ډير کلک و، پردې چې دکلنګ وار کيږي حتما ږغ او درب کوي کيدای شي امنيتي پوليس خبر شوي واي، دا سميټ تاسو څنګه مات کړ؟

جواب: هو ستاسو خبره سمه ده کله چې مورږ نور تونل پايته ورساوه اويوازي دا ګانګريټي غولی پاته و، په دې وخت کې مويو قسم لوې داوسپينې پايپ سميټي فرش ته ورکړې اولاندې مو دموټر جيک ترلاندې کړ او سوکه سوکه مو حرکت ورکاوه چې له دې سره درب نه رامنځ ته کيده او دکوټې فرش لوړ پورته کيده ترڅو يو مخ دا سميټ واوښت او دلغم خوله مو پرې کړه.

پوښتنه: دبنديانو انتقال له محبس نه په څو بجې پيل شو، او چې کله دباندې راوتل بيا يې له هغه ځايه په څه ډول انتقال وشو؟

جواب:دمجاهدينو انتقال دشپې پر لس بجې پيل شو اوتر ۳ بجو پورې ټول دالله ج په نصرت راووتل، کله چې بندي مجاهدين دباندې راوتل لږ اندازه يې په پښو تګ کاوه او وروسته بياڅو عرادې لوي موټر ولاړ وو کوم مجاهدين چې په ښارکې نه وو بلد او دلرې سيمو وو هغوي په موټر کې انتقال شول او کومو کسانو چې په ښار کې شناخت درلود هغوي ته اجازه ورکړل شوه چې ځان خپله ترمحفوظ ځايه ورسوي، دانو داسی وخت وو چې دښاري موټرو يوه اندازه عبور او مرور پيل شومورږ ته معلومات کيده چې تردې دمه لا دښمن نه وو خبرچې مورږ تعقيب کړي، يوه خبره بايد يادە کړو مورږ ددې په خاطر چې تروخت مخکې دښمن خبر نشی او يا بندي مجاهدين بې باکي ونکړی دټليفون په واسطه دوستانو ته حال ورنکړي، ددې په خاطر مو داسی پلان جوړ کړي وو، هر بندی چې بله تونله راوتی هغه به کلک

تلاشي کيده او ټول شيان به تري اخيستل کيدل يوازي دومره پيسې ورکول کيدې چې هغه تريو ځايه ځان په ورسوي.

پوښتنه: که دمجاهدينو دراوتلو په وخت کې دښمن خبرشوي واي بيا به تاسو څه کول ؟

جواب: موږ ددې خطر لپاره مخکې ترمخکې لا تصميم نيولي و، دمحبس په شاوخوا کې مو وسلوال او فدايي مجاهدين ځاي پر ځای کړي وو که دښمن خبر شوي واي او دراوتلو کوشش يې کړي واي ناڅاپي حملې به پرې کيدلي او مخه به يې نيول کيده.

پوښتنه: څرنګه چې دا ډير عظيم کارو ځيني خلګ ګومان کوي چې کيداي شي په دې کار کې دنورو کړيو لاس وي او دهغوي له لوري به مجاهدينو ته ډير پر مختللي وسايل په واک کې ورکړل شوي وي په دې هکله تاسو څه وايا ست؟

جواب: داخو هيڅ پټه خبره نه ده هغه وسايل چې موږ کار تري اخيسته ټول هلته پراته دي چې هغه عادي وسايل کلنګ او بيلچې دي چې هلته پاته شول، او په دې کې نور دهيڅا لاس نشته يوازي داسلامي امارت مجاهدين وو چې دامارت دمشرانو ترڅوماندي او مشورې لاندي يې دا عظيمه کارنامه ترسره کړه.

پوښتنه: ځيني خلګ شک کوي چې دومره طويل المدت پلان دمحبس دامنيتي کسانو او شاوخوا دپرتو پوليسو له همکاري پرته نه شي ترسره کيداي ضرور په دې کې امنيتي کسانو مرسته کړې ده ؟

جواب: له موږ سره که اجيرې اردو، پوليسو او نورو کسانو مرسته کولاي نو بيا دادومره مشکل کار ته څه ضرورت وو نورې ډيرې طريقې وې يوه بله لنډه لاره به مو کتلي واي، که دمحبس امنيتي کسانو

همکاري کولای نو بیا دا دومره لوی مزله ته اړتیا څه وه؟، هغوي کولای شوای چې دمحبس دروازه په یوه حکمت خلاصه کړی، او یا دننه بندیانو ته وسایل ور وړی چې بندیان خپله په لنډه لار وتلي واي، مګر داسی نه وو هغوي هیڅ همکاري نه ده کړې، او بل په دې کې مورږ له هیڅا مرسته نه غوښته ځکه چې په هغه صورت کې بیا دا پروګرام داسی پټ نه پاته کیده لکه اوس، حتما به تروخت دمخه مورږافشا کیدلو.

مجاهدینو یوازي دالله په نصرت سره دې کار ته کلکه اراده وکړه اودا وعده مو سره کړې وه چې راز به ساتو او خاص دالله درضادلاسته راوړلو لپاره به داکار کوو، په ډیر لوړ عظم مو دا کار پیل کړ، باید ووایم چې په دې کې له مجاهدینو پرته دهیڅا لاس نشته.

پوښتنه: دتونل خوله خو په یوه کوټه کې راخلاصه شوې مجاهدینو ددې نورو کوټو دروازې څرنګه خلاصې کړي ځکه دشپې له خواخو دبلاک هره کوټه ځانته بنده وي ؟

جواب: نه داسي نه ده، دمحبس دعمومي بلاک لویه دروازه بنده وي دهمیشه لپاره مګر دنورو کوټو دروازي نه بندیږي ځکه دشپې لمخې دتشناب او اودس کولو ضرورت پیښیږی په وطاقونو کې دننه تشنابونه نه دي اماده.

پوښتنه: په راخلاصو شویوبندیانو کې مهم قومندانان هم موجود وو ؟

جواب: هو دټولو ازادشویو بندیانو تعداد ۵۴۱ تنه وو په دې کې ۱۰۲ تنه قومندانان، دلګي مشران او سرګروپان وو، چې ازاد شول، دا کسان زمورږ ډیر دکار خلګ دي، چې تربند دمخه یې په جهادي امورو کې ډیر ښه فعالیتونه ترسره کول، زه الله ج ته امید لرم چې په راتلونکې کې به هم الله تعالي ددین دخدمت په لار کې ښه کار ترې واخلي.

پوښتنه: دکندهار دګوډاګي اداري امنيتي کسانو ادعا وکړه چې له زندانه دتللو مجاهدينو له جملې نه يې ۷۱ تنه بنديان بيرته نيولي دي، ددوي دا ادعا ترکومه ځايه سمه ده ؟

جواب: لله الحمد مجاهدين ټول ترخپلو ځايونو په خير ورسيدل، امنيتي کسان اوس دخپلې کمزورې دپټولو او دخلګو دتوجه اړولو لپاره يوازې په درواغو تبليغات کوي، دښمن په مختلفو برخو کې بې ګناه ملکي وګړي چې دمزدوريو او کاراو بار لپاره له اطرافو او ولسواليو څخه ښار ته راغلي وي، ګرفتاره وي او دبنديانو په نامه يې معرفي کوي، زه تاسو ته په اطمنان وايم چې مجاهدينو کافي وخت درلود چې ترخپل ټاکلي هدف پورې ځان ورسوي ځکه دښمن هغه ورځ سهار له لمرختو وروسته خبر شو چې په دې وخت کې مجاهدين ترډيره حده تللی وو ، او بل ددښمن امنيتي کسان لويو لارو ته متوجه ول، ولې مجاهدين اکثر ددې سيمو بلد خلګ وو په ټولو پياده لارو اوکوځو کې شناخته وو پر هغو لارو يې ځانونه وايستل.

پوښتنه: ډير محترم مجاهد وروره ! مجاهدينو او اولس ته څه پيغام لرئ ؟

جواب: ترهرڅه مخکې ټولو مجاهدينو او دافغانستان غيرتمن مجاهد اولس ته ددې وروستيو سترو کاميابيو مبارکي وايم الله ج دي دمجاهدينو قربانۍ قبولي کړي.

مجاهدينو ورونو او ټول اولس ته يوازي داويل غواړم چې انشاالله اوسني يرغلګر به دروسي يرغلګرو غوندې ستاسو دقربانو په نتيجه کې له ماتې سره مخ کيږي، يوه خبره کول غواړم، هغه دا چې له دښمن سره مقابله او دښمن ته ماتي ورکول يوازې په حوصله کيږي مور

او تاسي بري ته يوازي په کلک عزم او ټينګه اراده رسيدلی شو، اشغالګر دښمن او دهغوي ګوډاګيان نور انشاالله له ماتي سره مخ دي لږ وخت حوصله غواړي او په اخلاص سره د دښمن مقابلې ته ودريږئ .مجاهدين وروڼه بايد خپلو مسوليتونو ته متوجه شي، د دښمن د سيسو او شومو پلانونو ته زيرک واوسي، خداي مکړه چې د مجاهدينو دې غوږ له وجې د ټولې کاميابۍ له لاسه ورنکړو او د قربانيو ثمره مو بې ځايه ولاړه نشي.

الاماره: ډير محترم ورور ه !الله ج دي ستاسو ټولې قربانۍ چې په دې لاره کې مو ورکړي قبولي او منظوري کړي، داچې له موږ سره مرکې کولو ته اماده شوي ستاسو نه يوه دنيا مننه کوو

ـ تاسو ته هم کور ودانی وايو چې زموږ او از تر نورو رسوي

(له الاماره ويب پاڼې نه په مننه)

زه دوهم تن وم چې را ووتلم

ليکوال: حبيب مجاهد

۲۳ کلن محمد ادريس چې د کندهار ښار اوسيدونکی دی، او له څو کلونو راهيسې يې د اسلامي امارت ترسرپرستۍ لاندې د کندهار ښار په ښاري چريکي عملياتو کې دنده ترسره کړې ده، له اوس څخه اووه مياشتې وړاندې د دښمن له خوا په کندهار ښار کې ونيول شو او د کندهار زندان ته وليږل شو، نوموړی وايي چې تر اوسه يې محاکمه نه وه شوې، او دنيولو له مهاله بيا تر اوسه د کندهار دلوی محبس په نهم اطاق کې له ۱۵ تنو نورو مجاهدينو سره اوسيده، نوموړی د کندهار له زندانه

دراخلاصو شويو سلګونوبنديانو په جمله کې دوهم کس و، چې له ايستل شوي تونل څخه ووت او هماغه معلوم کورته يې ځان ورساوه، نومورې خپله نوره کيسه داسې راته تېره کړه.

دکندهار زندان جوړښت داسې دی، چې سياسي بلاک په منځ کې يوجلا ازاد ځای يا صحن لري دټولو کوټو دروازې همدې ځای ته راپرې دي، نودلته يوازې ددې بلاک عمومي دروازه ترلې وي او دبلاک دننه داطاقو دروازې هميشه خلاصې وي، چې له همدې املې بنديان ديوه اوبل اطاق ته ازادانه ورتلای شي، دغه رقم لمانځه ته هم ټول رايوځای کيږي.

ددوشنبې په شپه دزندان په همدې اطاق کې (چې وروسته دتونل سوری ورته راووت) زمونږ بندي مجاهدينو ملګرو نورو ملګرو ته ميلمستيا کړې وه، او له ټولو اطاقو يې يويو يا دوه کسان ميلمانه کړي وه، دې ميلمستيا ته، دهمدې بلاک دمسجد امام (چې يوبندي مولوي صاحب و) هم رابلل شوی و، اوزمونږ داطاق په نمايندګي زه ورغلی وم، نومورې ډوډۍ ته ورغلو ډوډۍ وخوړل شوه، او وروسته مولوي صاحب خبرې شروع کړې، له لږ نصيحت نه وروسته مولوي صاحب حاضر ملګري دخلاصيدو له پلان څخه خبر کړل، چې تردې مهاله ملګري ترې خبر نه وو، هغه په خبرو کې په همدې کوټه کې ناستو ملګروته وويل چې نن شپه زمونږ دخلاصون عمليات ترسره کيږي، نوښه داده چې ورته اماده يو، ده وويل هرڅوک چې ووتل اصول دادي، چې سباترغرمې پورې به لومړی کوشش کوي چې تيلفون خلاص نه کړي، بيا که په تيلفون خبره کوي هم دا به نه وايي چې مورږ داسې راخلاص شوو، له دې خبرو وروسته هغه ناستو ملګرو ته وويل چې ټول په پوره اخلاص دالله تعالی ذکر شروع کړي، ترڅو الله تعالی داپروګرام کامياب کړي، بيا مورږ ټولو اذکار پيل کړل، تقريبا نيم ساعت به ټول ملګري په همدې اذکارو

مشغول وو ، وروسته هغو ملګرو چې له دې پلان څخه خبر وو ، دکوټې په يوه برخه کې توشکې او فرش ايسته کړل او غولی يې لغړ کړ ، لږ وروسته له لاندې خوا څخه همدا ځای راوټکول شو ، اولږ وروسته مورږ ورته کتل چې لاندې ملګرو له همدې ځايه (جيک) لاندې کړ ، او په زور ورکولو سره يې دکوټې سيمټي فرش راپورته کړ ، څرنګه چې داځای ډير ژور و ، نو دجيک دزور درسيدلو لپاره يې څو محکمې پايې ورته جوړې کړې وې، همدا پايې به يې دجيک په سر کيښودلې، اوبيا يې زور ورکاوه، دوی دری واره يې بيا هم جيک ورکړ، ترڅو يې په سيمټي غولي کې ښه ازاده خوله پرې کړه .

له دې وروسته لاندې ملګرو خپلو پاسنيوارتباطي ملګرو ته، څومیله توپانچې، برچې او خنجران، اويو بکس راپورته کړ، په بکس کې مايوه دځمکنۍ ټيلفون دستګاه (غوږی) اويوه فلم اخيستونکي کامره وليدل ځينی نورشيان هم و چې ماسهې نه کړل، په دې مهال چې مالاندې تونل ته وکتل دوه مجاهدين مې وليدل، چې يوه يې داشيان راکړل او وروسته دواړو واپس له تونل څخه بلې خواته ووتل، دلته نودبنديانود ايستلو کار په زندان کې همغو څوتنو معلومو کسانو ته وسپارل شو ، دوی دتيلفون يومزی چې دتونل له بل سر څخه يې راتير کړی و ، دتيلفون له غوږې سره وصل کړ او په دې طريقه دتونل د دواړو خواوو ترمنځ ارتباط قايم شو .

له دې وروسته ارتباطي کسانو په خپلو منځو کې توپانچې اوبرچې سره وويشلې او څوتنه خپل نور اعتمادي ملګري يې هم ورسره ملګري کړل، څرنګه چې له مورږ سره په دې بلاک کې يوه دوه اطاقه جنايي قيديان وو ، دغه رقم په ځينو کوټو کې حکومت خپل جاسوسان هم دبنديانو په نامه راسره اچولي وو ، نومجاهدينو ويل که هغو څه

جنجال جوړاوه يا يې غالمغال کاوه، نوپه دې وسلو او چړو به يې له منځه وړي، دغه رقم دوی ويل چې دا بيخي يو له انتظاره لرې پروګرام ده، کيدای شي ځينې مجاهد ملګري به باور ورباندې نه کوي او نه به وزي، چې په دې صورت کې په زور ايستل کيږي، دغه وخت نو همدې ارتباطي ملګرو مورِ حاضرو کسانو ته تونل ته له ښکته کيدومخکې وويل چې کله له تونل څخه بل سرته وزئ هلته زمونږ نور ملګري مجاهدين ولاړ دي، هغوی له تاسو اضافه پيسې، تليفونان او نورشيان اخلي، دغه راز تاسې خبرو او تللو ته نه پريږدي نو تاسې به له هغو ملګرو سره جنجال نه کوئ، اوهرڅه چې درته وايي هغه به منئ، مورِ ورته وويل سمه ده، نوپه دې وخت کې دناستو کسانوله جملې لومړی يوبل ملګری تونل ته ورکوز شو او دوهم زه پسې ورښکته شوم، تونل ازاد و، خويومخ هم ازاد نه و، يعنې په ټيټه ملا او خاپورو سړی ښه هوسا په کې تللای شوای، خوتونل مجاهدينو ډير عجيبه جوړ کړی و، په لسو پنځلسو مترو کې يې يوه بتی لګولې وه چې له املې يې تونل بيخې رهنا و، دغه رقم دهوا لپاره مجاهدينو دتونل له يوه سره تربله پورې تقريبا شپږ انچه غټ پايپ تير کړی و، دتونل په بهرنې سرکې يې يوماشين چالو کړی و، چې هغه په دې پايپ کې هوا پمپوله، بيا دننه يې په مختلفو ځايونوکې په همدې غځيدلې پايپ کې سوري کړي وو، چې له همدې املې تونل هيڅ نفس تنګی نه درلوده، دغه رقم په تونل کې دوه لينه هم تير شوي وو، چې يوخو دتيلفون و او بل نه پوهيږم دبرق و که دڅه شي لين و، نومورِ په تونل کې تقريبا ۱۵ دقيقې مزل وکړ ترڅو بل سرته ورسيدو، له مانه يوکس مخکې و او ترشامې نور هم ډير کسان په تونل کې راروان وو، دلته چې دتونل خولې ته راورسيدو نو دلته هم تقريبا لس پنځلس تنه مجاهدين له وسلو سره ولاړوو، دوی له تونله راوتونکي ټول کسان

سخت تلاشي کول، له هرکس څخه يې ټيلفون او سيمکارت اخيست، دغه رقم که به له چاسره پيسې وې، نوله دې زره روپۍ زياتې پيسې يې هم چاته نه ورپريښودلې، دوی همدلته يوځادر نيولی و او له دری زره اضافه روپۍ يې له ټولو کسانو اخيستې اوهغه ځادره ته يې غورځولې، دادې لپاره که به له کومو نورو بنديانو سره پيسې نه وې، اويا به له دری زره نه کمې پيسې ورسره وې، نودوی له همدې ځادره څخه دری زره روپۍ ورپوره کولې، چې دا دټولو ملګرو دچلښت او پيسه دار کيدلو لپاره يو ډيره ښه لاره وه، نودلته چې راووتلو په دې کسانو کې څو نفره يې زما شناخته مجاهدين وو نوهغو زه هم په خپل کار کې ورسره ملګری کړم، دلته په دې سرای کې پنځه شپږ لوی دسپارلۍ موټر ولاړ وو، نومورږ ته ملګرو هدايت وکړ چې کوم کسان له تونل نه راوزي، له تلاشي وروسته يې موټرو ته پورته کوئ او ورته وايئ چې خبرې او غږ به نه کوي يوازې دي خفيه اذکارواييې، ځکه دلته دزندان يو برج دې سرای ته بيخې نږدې و، او دوی ويل چې که شور وکړئ دعسکرو راپام کيږي، نوپه دې طريقه بنديان له تونل نه راوتل او مورږ په موټرو کې کينول، کوم موټر به چې ډک شو په هغه به موټات راکش کړ، وروسته چې ټول کسان راووتل مطلب راپوره شول، نوبيا ملګرو وويل چې په موټرو کې ډير ځای نشته ځيني ملګري چې په همدې منطقه کې ښه بلد دي ښه داده، چې دمحله جات په خوا پياده ولاړ شي، نو ددې سرای مخ خوا خو دمحبس په خوا خلاصه وه، نودسرای شاخوا چې دمحله جات په خوا خلاصه علاقه ده، دسرای دغه ديوال مو سوری کړ، وروسته هغه څوکسه ملګري چې غوښتل يې محله جات ته ولاړ شي، هغه له همدې سوري نه ووتل او پياده دمحله جات په خوا لاړل، زه او څلور ملګري مې چې دښار وو، مورږ مشوره سره وکړه چې دا موټر به خدايزده کومې خوا ته ځي، ښه داده چې

موږ دښمن په خوا په خپله ولاړ شو ، په همدې وخت کې دغه له بندیانو ډک موټر هم له سرای نه ووتل ، موږ پنځه ملګري لږ وروسته همدې عام سړک ته راووتو ، دسړک په غاړه مو لږ انتظار وکړ لږ وروسته یوټکسي موټر راغی چې دښمن په خوا روان و ، موټر ته مو لاس ورکړ او ټول په کې سپاره شوو ، دغه وخت دسهار تقریبا څلور بجې وې ، دښمن خواته چې راتلو په ډنډ چوک باندې پولیسو موټر ته بتې را ږنا کړه ، او اشاره یې وکړه چې ځئ ، دغه رقم په مدد چوک یې هم موټر ته بتې را ږنا کړه ، مګر نور غرض یې نه وکړ ، نو بیا په دې طریقه ښمن ته راغلو او الله تعالی مو نجات په نصیب کړ.

یوه خبره چې باید ویې کړم داده چې دکندهار په محبس کې خویو همدا دسیاسي بندیانو محبس دی ، چې تقریباټول مجاهدین په کې بندیان و ورسره نږدې دتوقیف خانې په نامه یوبل جلا بلاک هم شته ، په دې توقیف خانه کې هم زمونږ دملګرو (مجاهدو بندیانو) یوه کوټه وه ، ددې تونل کیندونکو مجاهدینو دتوقیف خانې هغې کوټې ته هم له همدغه تونله یوجلا تونل ورایستلی و ، چې په دې طریقه لله الحمد له توقیف خانې څخه هم لس پنځلس تنه مجاهدین ملګري راخلاص شول.

په ښار کې چې دورځې زه ګرځیدلم ، او یامې له سیمې نه معلومات کاوه ، تراتو بجو پورې عسکر نه وو خبر چې بندیان تښتیدلي دي ، ځکه تردې وخته په منطقه کې هیڅ تلاشي نه وه ، له اتو بجو وروسته ددوی منډې شروع شوې ، څنګه چې عسکرو موږ په ورځ کې دوه ځلې شمیرلو یوځل سهار اته بجې اوبیا ماسپښین ، نوزما په ګومان په اته بجې چې دوی سیاسي بلاک ته ورغلي دي ، نوبه یې لیدلي وي چې بندیان نشته ، اوله هغه وروسته یې کوښښ شروع کړ.

ما چې هلته معلومات وکړ په سیاسي بلاک کې یو تن مجاهد بندي هم نه دی پاته شوی، یوازې هلته یوه کوټه وه، چې په هغه کې لیونیان بندیان وو، هغه لیونیان پاته شول، نور دسختو مریضانو او زخمیانو په شمول ټول بندیان راویستل شول، تردې چې یوتن زخمي بندي چې په پښو کې یې سیخونه لرل، په تونل کې دمزله په وخت له ډیره درده بې هوښه شو، مګر ملګرو دبې هوښي په حالت کې له تونل څخه راویوست او په موټر کې یې انتقال کړ.

(له لراوبر ویب پاڼې په مننه)

طالبان دټلوالي ستراتیژۍ ننګوي

سید سعید

د۲۰۱۱ز، د اپریل پر۲۵مه نیټه رسنیو خبرور کړچې طالب سرتېرو په مځکه کي دننه په سلهاوومتره لاروهلې اوبالاخره تېره شپه خپل مقصود منزل (دکندهاردعمومي محبس سیاسي ځانګي)ته رسیدلي دي .هېښونکې یې داچې هلته ته یې خپل «پنځه سوه »بندي ملګري په همدې پټه لار(تونل \سمځه)کي له ځان سره راایستلي اوپه همدې شپه کي یې خوندي ځایونوته بیولي دي. طالبانو دکندهاردمحبس له جنوب څخه ترزندان پوري دپنځومیاشتوکاراوزیارورسته ۳۲۰متره لارپرې کړې اوزندان ته یې سورۍ کړې ده .په داسي حال کي چې دزندان چارواکي ترلمرختوپوري خبرهم نه وو.دکندهار چارواکي دزندان له یادي شوي پیښې هغه مهال خبرشول چې ژورنالیستانودطالبانوله خوادپیښې

دجزئياتو ترنشرورو سته معلومات ځني وغوښتل. ددغه زندان څخه د سياسي بندیانو په دومره لوي شمېرکي وتل لومړی ځل نه دی، دامریکایانو دنیواک راهسي دوه واري نورهم په ګڼ شمېرکي مجاهد زندانیان ترې په تیښته بریالي شوي دي. لومړی ځل په ۲۰۰۳ز، کال کي په دغه زندان کي بندي طالبان وتوانیدل چي دزندان ددننه څخه نغم دباندي وباسي او دطالبانو یو مشهور قوماندان شهید عزیزاغا دخه باندي څلو ېښتو اوړیو الانو په ګډون ترې سلامت ووت. دوهم ځل د ۲۰۰۸ز دجون پر ۱۳مه نیټه طالبانو دیو منظم برید په پایله کي ددغه بدنام زندان څخه ترزر(۱۰۰۰)تنه ډیرزندانی ملګري راخوشي او خپلو مرکزونوته ورسول .دا(درېیم)ځل خویې په ټلوالي او حکومت داسي بې ساري ګذاراوکانه وکړه چي هغه دچاخبره «پزپرېکړي که شرم درلودای نودچړې نوم به یې نه اخیست»یاني نورنونه ښایې چي ټلواله اولاسپوڅی رژیم یې دتېرپه شان تشي ادعاوي وکړي چي له طالبانو څخه یې پراخي سیمي نیولي دي، دومره مجاهدین یې نیولی دي او هومره په اصطلاح ددولت سره یوځای شوي دي. مجاهدین پریږغلګردښمن نه تنهاپه پوځي برخه کي برلاسي دي بلکي په سیاسي، فرهنګي او اجتماعي ډګرونو کي یې هم غلیم پرګونډوکړی دی. خوپه لاندي کرښوکي یې دهمدې نامراده غلیم له خواصرف دزندانیانو سره دوحشت ببلګه ییزانځورته تم کیږو.

دبشردوستو ! !انسان دښمني:

د ۱۳۸۰لمریزکال دمیزان دمیاشتي دپنځلسمي نیټې راهیسي چي نړیوالي صلیبي تروریستي ټلوالي دامریکاپه مشرتابه، دخپلو استعماري اواستثماري موخواواهدافودتحقق په خاطردافغانستان پرویاړلې خاوره ظالمانه اووحشیانه یرغل کړي دی، دافغانستان مظلوم اوپردین مین ملت یې دکمونستانودوحشتونوپه ځیرد ډیموکراسۍ په

نامه دبشر دحقونو دداعيانو ! ! په لاس درند وبمباريو ، وژلو ، ترلو ، نيولو اوراز ، راز وحشتونو په ګرداب کې رانسکيل کړی دی . په افغانستان کې دامريکايې ښکېلاک دمظالمويوه ببلګه دلسهاووزروهيوادوالونيول اودشبرغان، ګوانتانامو ، بګرام، کندهاراودپلي چرخي په زندانونوکي په داسي وحشيانه اوغيرانساني ډول ساتل دي، چي دجرمني دنازي زندانونوڅخه هم په همدي امريکايي محبسونوکي دزندانيانوحالات ډيربوږنووونکي اوبيرووونکي دي، حتی دبشريت په تاريخ کي بنيادم (انسان)ته د دا ډول شکنجواوتعذيبونو دورکولومثالونه بيخي کم ترسترګوکيږي. که څه هم اوباما دولسمشری دټاکنوپه ځغاستوکي په پرله پسې توګه داژمنې تکرارولې چې ټول بدنام وحشي زندانونه په ځانګړي ډول ګوانټانامواو..... به ترې ځکه دامريکااعتبارته يې په نړيواله کچه تاوان رسولی دی. ولي متأسفانه چې تراوسه لاګڼ شمېرافغانان صرف ديرغلګروسره دمخالفت دشک اوشبهې پربنسټ دګوانټانامو ، بګرام اونوروپټواوښکاره زندانونوپه تورو تيارو کي دهرډول قانوني، حقوقي اوبشري نورمونواوارزښتونو خلاف له کلونوکلونوراهيسي بې پوښتنې – ګروږنې پراته دي چې نه يې دکابل رژيم چې ځان ته دمنتخب دولت نسبت هم کوي په اړه څه کولی شي اونه يې هم په درځنونو دبشري حقونو دفاع په نوم ټولني غم خوري.

دبګرام زندان :

بي بي سي دبګرام دزندان څخه دخوازاد شووافغان بنديانوله خولې خبرورکړچې: دامريکايانوله خوا په هغه زندان کي ساتل شوي ووچې دتورزندان په نوم شهرت لري.دوی وايې چې:هلته په جلا-جلاسړوخونوکي دبنديانوساتل، په شپوشپوبې خوبه کول، له

چتونو راځوړندول، په سپيو دارل، په وسلو ډارول، لخ درول په اوبو کي غوټه کول اوبربښنايي شارټونه ورکول معمول (قانون) دی. پردغو بندیانو دطالبانو سره دهمکاری تورو، مګر پريوه يې هم ثابت نه شو. داهغه بدنام زندان دی چې په ۲۰۰۲ زکال کي دوه تنه بندیان دامريکايي عسکروله خوادراځوړندولو اووهلوله امله پکي شهيدان شول.

Le Nouvel Observateur ورځپاڼه دبګرام څخه ددروتنوازادشوو افغان بندیانوله قوله ليکي چې دکابل ولايت اوسيدونکي دي په تېروځلوروکلونوکي يې اسمان نه ژليدلی اوس ورته عجيب ښکاري، هغوی دبګرام دتياره زندان په بندوپخووکوټوکي په داسي قفسونوکي اچول شوي ووچې نه يې خوب پکي کولی شو ی اونه هم سم پکي دريدلی شو ی. ددغوازادشووبندیانوله ډلي څخه احمد هغه څوک دی چې کورنۍ يې فکرکاوه هغه (احمد) پخوالامړشوی دی، خوخبرنه ووچې احمداوس هم ژوندی اودامريکايانوسره دبګرام په زندان کي بندي دی. يوبل ازادشوی تن حاجي ګل رحمان دی چې دمخ غاښونه يې څوکاله مخکې دامريکايي عسکروله لوري دوهلوټکولو پرمهال مات شوي دي. هغه وايي: کله چې په لومړي ځل دبګرام زندان ته بوتلل شونو دامريکايانوله خواپه يخچال ته ورته سړه کوټه کي په ځنځيرونوترلی ترډول ډول شکنجولاندي ساتل کيده په داسي حال کي چې دبګرام دساړه ژمي ترټولوسختي سړې شپې اوشپې وې. ګل رحمان وايي: دهغې حادثې له امله چې له ده سره يونيول شوی بندي دزندان دساتونکوله خواترځلورورځوپرله پسې راځړولوورو سته ساه ورکړه سخت ځوريږي. نومورې ورځپاڼه ليکي چې داسيرانوسره دادول بې رحمانه کړني په امريکايي زندانونوکي ديومنل شوي معيارپه توګه ترسره کيږي. دبشري حقونودټولنودتازه ځيړنوله مخي دبګرام په

زنـدان کـي دامهـال شـاوخوا زر(۱۰۰۰)تنـه افغانـان دطالبانو سـره داړيکو درلودو په شک بنديان دي اودهرډول قانوني برخورد څخه بې برخي دزندان دتوروتمبوشاته دنامعلوم برخليک په غيږکي پراته دي .بلخوا بيـا ويـل کيـږي چـي امريکـا دبګرام زنـدان چـاري افغـان ملګرو(ګوډاګيانو)تـه سـپاري ګويـاچي وښـيي افغانسـتان يوخپلـواک هيـوادډي هرځـه يې افغانـان پخپلـه ترسـره کـوي کـه څـه هـم امريکـايې ځواکونه وايې چي دبګرام زندان واک بـه افغانانوتـه ورکـوي خوفکرنـه کيږي چي دنوموړي زندان ټولي چاري دي دکابل اداړي تـه حوالـه کړي .دبېلګې په توګه دافغانانودنيولو ، بندي کولو اوبيايې تر اوږدې مـودې پـوري پـه همـدې تعـذيبځايونوکي د دسـاتلو واک اواختياربـه بيـاهم دبهرنيانوپه لاس کي وي نه دافغانانو.

مخفي اوشخصي زندانونه :

په افغانستان کي دغربي ډيموکراسۍ په تېره يوه لسيزه کي په څرګنـدوامريکايې اودولتـي زندانونوسـربيره پـه پلازمينـه کابـل اونورووﻻياتوکي، دمخفي اوشخصي زندانونوشميره هم خوراوچته ده . ويـل کيږي چـي دازندانونـه دکـرزي دمشـاورينو ، دپارلمـان دغـړو ، وزيرانو ، والياتو ، او يوشميرقومندانانوپوري د ټرلوکسانوله خوا اداره کيږي اوهغوی لـه شـواهدو او اسـنادو پرتـه ځـان تـه دهرمشـکوک کـس دنيولوحق ورکوي، حتی ډير ځله خويي يوازي دپګړۍ اوږيري درلودو پـه تـور هيـوادوال نيـولي، خپـل زندانونـه يـی پـرې ډک کړی او بيـايي دډيروپيسـوپه بـدل کي خوشـي کړي دی. متاسـفانه کـوم زنـدانيان چـي پيسي نلري، هغوي په عمري قيداواعدام محکوم شوي دي، چي ښکاره بيلګـې يـي پـه ۲۰۰۷ز، او۲۰۱۱ز، کـال ډلـه ييزاعدامونـه دي. پـه دې

وروستيو کي رسنيو دبګرام په هوايې اډه کي دمشهور بدنام زندان څخه علاوه ديوبل پټ توقيف ځای دموجوديت خبرداری هم ورکړ .دنړيوال سره صليب اداري چي دڅه وخت راهيسي امريکايان په بګرام کي دنيول شوو افغانانونومونه ورکوي، منلې چي په بګرام کي دمشهورزندان ترڅنګ يوبله پټه بنديخانه هم شته. دغه راز کندهار هم دکابل اونوروولايتونوپه څيريوله هغوولايتونوڅخه دی چي دعمومي محبس څخه پرته نور زندانونه هم پکي موجوددي. دکندهارپخواني والي اواوسني تنظيمه رهبيس اسدالله خالد ، دولايتي شوريوژل شوي رهبيس ولي کرزي اود پارلمان اوسنی لومړی مرستيال خالد پښتون ځانګړي اوجلا ، جلازندانونه اوتحقيقاتي څانګي دلودې، چي وخت په وخت به يې هيوادوال له مجاهدينوسره دملاتړپه تورنيول، او په مياشتو ، مياشتو په دی زندانونوکی ساتل.وروسته به يې ځينې اسيران د ډيروپيسو په بدل کي خوشي کول اوکوموکسانوچي به پيسې نه درلودې نوهغوی بيچاره ګان به يې دڅرخي پله اودکندهاردمرکزي زندان توروغيرې وته سپارل.

دکندهارزندان :

دکندهارمرکزي زندان دښارپه لويديځه دروازه کي دسرپوزي غره ته مخامخ، دکندهار- هرات پر لويه لار واقع دي، چي دمستبدي شاهي کورنۍ دابادی اوبيارغوني سمبول بلل کيږي. دازندان دثورله کودتاڅخه وروسته دکمونستانوپه کرغيړنه دوره کي په افغانستان کي دڅرخي پله دمحبس څخه وروسته دوهم مشهورزندان وو ، چي دبنديانو دنوکانوايستلو ، په پښوا ولاسونودراځړولواوحتی غرغره کولوکړني اوکيسي يي هيوادوالوليدلي اواوريدلي دي. ددغه بدنام زندان په اړه

دکاناډاا وتاواتايمزورځپـانې ليکلـي چـي :کانـاډايې پوځيانوپـه سلهاووافغان بنديان ترپلټنووروسته ددغه زندان چارواکو ته سپارلي چـي بيادزنـدان دچارواکولـه لـوري سـخت شـکنجه شـوي دي، حتـى دکاناډايې پوځيانويوې افسري اعتراف کړی چي زيات شمېربنديان يې ليدلي چي دکندهارادارې له خوابه دشپې په تيـاره کـي ددوی مرکزتـه نژدې پـه مرميووېشـتل کيـدل.داخبـري هغـه مهـال راسربيره شـوې چي تيرکـال کانـاډايې ډيپلومـاټ ريچـارډ کولفين دکندهارځخـه ترستنيدووروسـته هلتـه (دکاناډا)دپارلمـان دفـاعي کميټې تـه وويـل :شواهداواسـنادلري چـي دکنـدهارادارې ددوی لـه لـوري بـر ي شـوي اوبياورسـپارل شـوي زنـدانيان کړولـي اوشـکنجه کـړي دي. دکانـاډايې پوځيانواوډيپلوماټانوديادوشووخبروپه غبرګون کـي دکندهاردمحبس پخـواني رئـيس ډګـرمن عبـدالله باورکنويسـټ ورځپـانې تـه ويلـي چـي: هو !بنـديان شـکنجه شـوي اويوشـمېرييې سـخت وهـل شـوي چـي لاسـونه اوپښې يې مات شوي وو.پـه ۲۰۰۸ز، کـال دکندهارپـه مرکـزي زنـدان کـي اسيرانودنه خوړلوپه اعتصـاب لاس پـوري کړ او ددووسـووتنوپه شـمير زنـدانيانوخپلي شـونډې ګنډلي وي.هغـوی دچارواکودنـاوړه کړنوځخـه سـرټکاوه او ويـل چـي:«ترهغوپـوري بـه دنـه خوړلواعتصـاب تـه دوام ورکړو، ترڅـوچي زمونږپـه دوسـيوباندی لـه سـره غـورو نشـي، داڅنګـه دولـت ! !دي چـي يـوه ډلـه قاضـيان مـوبي ګنـاه اوبـري اعلانـوی اونورموبيابپه شل کاله قيداواعدام محکوموي» ! !.لـه نيکـه مرغـه چي دهمـدې کـال دجـون پـر۱۳مـه نيتـه چـي، دا ا عتصـاب لاپـاي تـه نـه ؤ رسـيدلي، ددي معصـوموزندانيانوناره هسـک ځنبسـتن (جـل جلالـه) واوريدله اودمجاهدينو لـه خواپرهمدي زندان بريدترسره شو ، چی پـه پايله کي يی ټول بنديان ازاداوخوشي کړای شول اودزندان دتوروشپولـه

تورو تيارو څخه دازادۍ په سپين سهاريې هرکلي ته خواړه نسيم په خوشبويه اومعطره فضاءکي دمبارکۍ پيغام ډالۍ کړ، ملاتړته يې دليري ختيځ له هسکه ځلانده لمربي شميره پلوشي راوليږلي اودازادي بلبلان ئي ترخپلو جونګړو په اتمونوبدرګه کړل.

پوښتنه داده چې يرغلګرواودکندهارلاسپوڅي اداري په سيمه کي د پراخ موجوديت سربيره، دجاسوسي افرادواوډلګيواو راز راز پرمختللیو اسبابودشتون سره سره په مرکز(ښار)کي دننه دطالبانود دومره دوامداره اومهم پلان (زندان ته سوړه)مخه ونشوی نيولی، نودښارڅخه دباندي په ولسوالیوکي به بياڅرنګه دطالبانوزورمات اونفوذله منځه يوسي ؟! ښايې دا ډول پوښتنې دډيروسره مطرح وي په تېره بياهغه مهال چې دټلوالي قوماندانان اوپه ځانګړې توګه جنرال پيټرايیس ادعا کوي، چې دطالبانوڅخه يې پراخي سيمي لاندي کړي دي اونورنشي کولی چې سرخوږی ورته جوړکړي.

واقعيت داچې مجاهدينو دهيواد په لراوبرکي پر نيواکګرو او دهغوی پرافغان ملاتړو داسي هيښنده بريدونه ترسره کړل چې دولسوالیو او مهمو مرکزونوتخليه کولوته يې اړايستل، دبښلګې په توګه په نورستان او کونړ کي دولسوالیو او مهمومرکزونوتخليه، لغمان اوکابل دفاع وزارت کي دننه بريالي بريدونه اوپه کندهارکي دمحبس يادە شوې حيرانونکې پيښه يادولی شوچې دټلوالي اويارانويې ټولې دپرمختګ ادعاوي ردکړې.په ټوله کي سړی په زغرده ويلی شي چې طالبانوپه خپلوسياسي اوپوځي لاسته راوړنوسره دټلوالي نوي اوزړې طرحي اوستراتيژۍ وننګولې.

زندان ماتوونکو اتلانو د (صاحب الثقب) یادرا تازه کړ

لیکوال: حامد

د سرپوزې د دې اوسني محبس نه د قندهار ښار لورته نږدې په یوه کور کې تورن اسماعیل خان اوسیدی او دیوه تن د غداري په پایله کې هغه له دې کوره په تیښته بریالی شو کاش دهغې پیښې په اړه په هغه وخت کې خپرې شوې مرکې نن له ماسره وای ترڅو دبیګانۍ پیښې په اړه له کیدونکیو مرکو سره مو پرتله کړې وای. په هرصورت دهغه وخت دمرکه کوونکیو دایوه خبره په خوله وه چې طالب چارواکي نا اهله او دواک دکنترول وړتیا او صلاحیت نلري ځکه عجیبه خبره ده چې ددوی له مرکز کندهار نه څنګه یوسړی کولی شي له بنده وتښتي ! !هغه مرکه کوونکي اوس ماته ندي معلوم چې څوک او څوک و خو په یقین سره ویلی شم چې ډیری به یې د کرزي دادارې مامورین او لوړپوړي چارواکي وو ځکه هغه مهال دا خلک دطالبانو دمخالف صف کسان و او په طالبانو پسې دتبلیغاتو له پاره یې دبی بی سی اونورو لویدیځوالو رادیوګانو مایکونه په اختیار کې لرل. زموږ په عامو مجلسونو کې چې کله یوڅوک غټه خبره اوپه چا پورې تمسخر وکړي نو یونیم ورته ووایي : دومره غټه خبر مکوه په سربه دې ماته شي یعني بیا به دې زیړې سترګې نیولې وي او په خپله به له داسې سرنوشت سره مخامخ شوی یې دومره لویه خبره ښه نه وي.

خامخا به هغه مهال هغو مرکه کوونکوته یوچا دا نصیحت کړی وي خو دوی به بابیزه ګڼلی وي او دتیرې دوشنبې په بیګا چې دکندهار په محبس کې کومه پیښه رامنځته شوه او ۵۴۱ مجاهدین دخپلو څو پاکو او مخلصو ورونو په یوه عجیب پلان سره دصلیب او دصلیب

دچوپړيانو له محبس نه وويستل شول مورږ په دی ارتباط دانه وايو چی دادکرزي دادارې بيکفايتي او نا اهليت په ډاګه کوي ځکه هغوی خو له اصله دبی کفايتواو نا اهلو ټولې ده او د مصر دمبارک او دتيونس دزين العابدين سرنويشت ته دې شپې شماري حتما به دهغوی له سرګزشت سره مخامخ کيږی.

اصلا دطالبانو دې ستر بريالیتوب دمتحده ايالاتو او ناټو ټول اهليتونه او وړتياوې له خاورو سره خاوری کړې هغه مجهزاو په نوي تکنالوژۍ سمبال ځواکونه نن دطالبانوله خوا له داسې ماتې سره مخامخ کيدونکي دي چې مورخين به يې خامخا په يوارخيزه توګه ليکنو ته اړکيږي يعني بې طرفه مورخين به د دومره ستر ځواک په داسی ډرامايي شکل ديوه کمزوري خو په ايمان مسلح ځواک په لاس دماتيدلو په مهال خامخا دطالبانو لوری کوي چې رښتيا دا خلک ديوه ستر ځواک (الله) په مرسته دې سترې سوبې ته رسيدلي وو.

ځينی مغرض اولاسپوڅي ليکوالان دطالبانو ډيری پېښې په يوه مشخص لوري پورې تړي او هغوی چی کوم بريالیتوب ترلاسه کړي نو دا دنورو لوريو د مداخلې له برکته يادوي او دطالبانو پرخلاف خپلې پوچې او بی اساسه تبصرې ليکي خو زه له بيګارا هيسې ددې پېښې په اړه دهغوی غبرګون نه وينم ځکه دغه ډله ليکوالان ددې سپين حقيقت ترشا ديوچا لاس لرلو ته هيڅ بهانه نشي پيداکولی له دې حقيقت نه ليدونکو افغانانو نه خو زما په اند هغه دواشنګټن پوسټ ليکوالان هم ښه دي هغوی په داسې وخت کې کله په دومره لوی حقيقت پښه نشي اړولی.نن سبا هغه سترې او تاريخي ورځې دي چې په معنوي توګه دښمن او دهغه لاسپوڅي دګردې نړۍ پر وړاندې دومره شرمنده اوبيسيکه ښکاري چې کله هم پخوا نه وه ليدل شوی دوی له دې سترې

شرمندګی او ماتې وروسته ددنیا په وړاندې سرونه ځوړند اچولي او دسوی په څیر خپلی پښې مچوي دخدای ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم وایي: اتقوا فراسه المومن فانه ینظر بنور الله.

هوکې، د جهاد د سنګر هغه څو سپیځلي مجاهدین چې دا تونل یې وهلی او دا ډیره موده یې دخپلو وروڼو دخلاصون له پاره په ډیره ځیرکتیا سره خپل کار پرمخ بیولی او ددوشنبې په شپه یې په تام او مکمل بریالیتوب سره خپل کار پای ته ورساوه هغه مومنان دي چې باید دښمن یې ددې نبوي لارښوونې په رڼا کې وګوري ددوی له فراست او ځیرکتیا دې ویره وکړي او نور دې ددې ولس له زورولو لاس واخلي .هوکی ! دا مجاهدین زه د اسلامی تاریخ دستر سرخیل اونومیالي مشر محمدبن مسلمه رحمه الله دلښکر له هغه ستر مجاهد سره پرتله کوم چې په تاریخ کې په (صاحب الثقب)سره یادیږي هغه چې دقسطنطنیې «لویه کلا»چې له څو میاشتو محاصرې وروسته هم فتحه نه شوه بالاخره نومورې ګمنام مجاهد هغې کلا ته په پټه په یوه تونل کیندلو سره فتحه کړه او هغه ستره سوبه یې ترلاسه کړه چې داکارنامه یې په اسلامي تاریخ کی په زرینو کرښو لیکل شوی ده .خو دې مجاهدینو ته زه یوه توصیه لرم او هغه دا چې دوی هم باید دا ستر عمل اخرت ته وساتې لکه هغه ستر مجاهد صاحب الثقب چې خپل لو ی عمل اخرت ته ساتلی وهغه داسې چې کله هغه کلا فتحه شوه نو دمجاهدینو لوی سالار محمد بن مسلمه رحمه الله به هره ورځ ناري وهلې چې دا سوری چا جوړکړی و هغه دې ماته ځان را وښیي څو ورځې وروسته دا مجاهد دشپې له مخې دخپل مشرمحمدبن مسلمه خیمې ته ورغی او ورته ویې ویل: اې مشره ! ته ولې دخلکو پردې څیروې ؟ !زه به هغه مجاهد په څو شرطونو درښیم خو

ته لومړی وعده وکړه چې دا شرطونه به منې هغه ومنل او مجاهد خپل شرطونه داسې ورته بیان کړل:

دې مجاهد ته به کوم انعام نه ورکوې.

دهغه دنوم پوښتنه به نه کوې !صاحب الثقب مجاهد له مخ نه نقاب لرې کړ او ځان یې ور وښود ، تاریخ لیکې چې محمد بن مسلمه رحمه الله به ترمرګه په دعا کې ویل:

اللهم احشرني مع صاحب الثقب ای الله ما داخرت به ورځ له صاحب الثقب (هغه نغم کیندونکي)سره راپورته کړه !

نو اوس هم دې ستړو مجاهدینو ته لومړی ددوی ددې شاهکاري مبارکي وایم چې په خپله هیښونکې کارنامه سره یې داسلامي تاریخ دیوه زرین باب دقسطنطیې دفتحې یاد راتازه کړ اوپه دې توګه یې داسلامي تاریخ دیوه ګمنام خو ستر غازي (صاحب الثقب) په قدم ګام کیښود په مبارکی سرببیره مې له دې ستړو مجاهدینو نه غوښتنه داده چې دوی دې هم دهغه ستر مجاهد په څیر خپل دا درونډ عمل اخرت ته وساتي په والله که په ټوله نړۍ کې دومره ارزښت وي چې ستاسو ددې ستر عمل عوض وګرځي نو ددې دنیا له نوم او عوضونو تیرشئ او دا لوی عمل اخرت ته وساتئ او مورږ چې ستاسودا عمل ستایو او له تاسو سره خواخوږی لروپه همدی نیت الله ته داسې سوال کوو لکه محمد بن مسلمه به چې کاوه:

اللهم احشرنا مع اصحاب الثقب آمین وصلی الله علی نبیه الکریم

له الاماره ویب پاڼې په مننه

دکندهار د سرپوزې زندان له ماتېدو وروسته چې په نړیواله توګه دمجاهدینو ستره بریا او ددښمن بې سابقې رسوایي وبلل شوه، دښمن هڅه پیل کړه، ترڅو دبې ځایه تبلیغاتو له لارې ورپیښې رسوایي جبیره کړي، په دې لړ کې دښمن ادعاګانې پیل کړې، چې نږدې پنځوس تنه له زندانه وتلي زندانیان یې بیرته نیولي دي، خو څرنګه چې دې خبرې هیڅ بنیاد نه درلود دښمن یې دثبوت لپاره هیڅ شواهد وړاندې نه کړای شول، دغه راز داسلامي امارت له خوا ددښمن دا ادعاء په کلکه رد او بې اساسه وبلل شوه.

په کندهار کې دزندانیانو دبیانیو لو دپوچې ادعاء په اړه داسلامي امارت دویاند څرګندونې

دتیرې دوشنبې په شپه داسلامي امارت قهرمانو مجاهدینو دیولړ بریالیوتاکتیکي عملیاتو په پایله کې وکړای شول، دکندهار له زندان څخه ټول (۵۴۱) تنه زنداني مجاهدین راخلاص کړي، باید څرګنده کړو چې له پیله ددې عملیاتو دکاري پلان یوه مهمه برخه له زندان څخه دراوتلیو مجاهدینو په سالمه توګه له سیمې دانتقالولو عملیه وه، چې لله الحمد له پلان سره سم دسهار له راتګ نه مخته دخلاصون دعملیاتو دا وروستۍ برخه هم په بریا سره پایته ورسیده او بندیان ټول خوندي سیمو ته انتقال شول. له دې عملیاتو وروسته کله چې خبره مطبوعاتي شوه، او په نړیواله کچه دکابل د رژیم لپاره یوه نه جبیره کیدونکي شرمندګي وبلل شوه، دښمن له پیښې شوې رسوایۍ

دتېښې دوروستۍ هڅې په توګه يوځل بيا خپل پخواني تاکتيک عملي کړ، دکندهار د لږزيدلې اداري مشر دبندیانو دبيانيولو پرله پسې ادعاګانې پيل کړې او تيره ورځ يې وويل چې نړۍ شپيته تنه بندیان يې بيرته نيولي دي.

دکندهار تش په نام والي وايي چې دوی دمجاهدينو دبيرته نيولو لپاره په کندهار ښار او ولسوالیو کې پراخ عمليات پيل کړي دي، او دده په وينا داچې بندیان په (بايومیټریک) سيستم کې ثبت شوي دي، نو نيول يې ورته اسانه دي.

په دې اړه بايد ووايو چې تيره ورځ رويټراژانس راپور ورکړ چې دامريکا ددفاع وزارت ويانديې (پنټاګون) اليزابيت روبينز) ويلي دي، چې تراوسه ځکه امريکايي ځواکونو دخلاصوشوو مجاهدينو دبيا نيولو په عملياتو کې ګډون نه دی کړی چې دکندهار چارواکو تړې غوښتنه نه ده کړې، نوچې بهرني ځواکونه په دې عملياتو کې برخوال نه وي، دکندهار دځايي ځواکونو عملياتي مورال او اراده خو کله هم ددې وړ نه ده چې په مجاهدينو پسې دې لړې پرتو سيمو ته دورتګ جرأت وکړي يا دې دپلټنې عمليات ترسره کړي، دغه راز بايومیټریک سيستم چې دکندهار لاسپوځي والي يې بيا بيا يادوی هم دبهرنيو اشغالګرو ځواکونو له خوا کاريدونکی سيستم دی، چې تراوسه داخلي عسکر ورته لاسرسی نلري، اوکه بالفرض ويي هم لري دا له امکانه بعيده ده، چې ديومیليوني ښار کندهار ټول اوسيدونکي دې په دې سيستم معاينه کړای شي اويا دي دغه خلاص شوي کسان دومره زرله ولسوالیو څخه ښار ته ورشي.

لوړ حقايق څرګندوي چې دښمن داځل خورا خندوونکي دروغ وايي، چې هردعقل څښتن پرې پوهيدلی شي، دوی چې تراوسه دځينو اجيرو رسنيو له لارې دنيول شويو په نوم دوه درې کسان غږولي دي، هرڅوک يې جعليت درک کولای شي، له دې پرته دوی دخپلې لويې ادعا داثبات لپاره مطبوعاتو ته هيڅ قناعت کونکي شواهد نه دي وړاندي کړي اونه هم عقل دا خبره منې چې دمرګ له خطر سره مخامخ خلاص شوي کسان دي بيرته په هغو لارو ورشي په کومو کې چې دښمن څارکوي البته موږ موثق معلومات لرو چې دکندهار ښارامنيتي او استخباراتي چار واکې دخپلو بادارانو او مشرانو دغولولو او له هغوی څخه دامتيازاتو دترلاسه کولو په موخه دښار بې وزله او سيدونکي او په ښار کې ددينې مدارسو شاګردان په همدې نامه نيسي او هغوی ته يې دبنديانو په نامه وړاندي کوي.

موږ چې دخلاصو شويو مجاهدينو دبيانيولو په اړه ددښمن وروستۍ ادعاګانې په کلکه ردوو، خپلو وطنوالو او درستو مطبوعاتو ته ډاډ ورکوو چې لله الحمد تراوسه پورې زمونږ يوتن راخلاص شوی بندي هم بيرته ددښمن لخواندی نيول شوی، مطبوعات بايد ددښمن دې وروستي دروغجن کمپاين ته متوجه واوسي، او له دښمن څخه دخپلو ادعاګانو سپيناوی وغواړي، ترڅوخدای مکړه، بدنام شوی دښمن دخپلې شرمندګۍ په پټولو کې دازادو مطبوعاتو له اعتبار څخه استفاده ونه کړي.

داسلامي امارت ويانډ

قاري محمد يوسف احمدي

دکندهار زندان دماتېدو په په اړه څو شاعرانه کلامونه

زنـــــــدان

رضوان الله فيضاني

پـــل پـــه پـــل مـــا تيـــږی هـــر وحشـــي زنـــدان
وار ده د بـــــاګرام او د څرخـــــي زنـــــدان
نـــه شـــو نـــور زغملـــی دوحشـــت پنجـــرې
دا د ســـــــتمو او بربريـــــــت پنجـــــــرې
نور به نړوو هر طاغوتي زندان

ډيـــــرې دي حيرانـــــې زولنـــــې راتـــــه
دا د ســـــر و کفـــــارو جيـــــل خـــــانې راتـــــه
مونږ ته نه ټنګيږي فولادی زندان

نـــــه کـــــوو بالکـــــل دولچکـــــو پـــــروا
نشـــــته خيـــــال کـــــې زمـــــونږ د ځنځيـــــرو پـــــروا
تل به ماتوو هر فرعوني زندان

بيـــــا هـــــر يـــــو زلمـــــي کولنـــــګ راخيســـــتی ده
هـــــم يـــــې تبـــــر، ببـــــل پـــــه څنـــــګ راخســـــتي ده
نه پريدی نور دلته د غربي زندان

وايـــــي فيضـــــاني چـــــې تو کُـــــل کـــــوو
مـــــونږ د ابـــــراهيم پـــــر پلـــــه مـــــزل کـــــوو
ړنګ به کړو نن هر يو نمرودی زندان

وحشي زندان دکندهار وګوره

غلـــيم کـــه هرڅو کوششـــونه وکـــړل
دبـــي ګنـــاووپی قتلونـــه وکـــړل

چـــي پـــه غريبـــانولمبې بلـــې نـــه شـــي
خونکـــاړې ســـترګې بـــه بـــدلې نـــه شـــي

دوی داســـلام شـــمعه وژلـــئ نـــه شـــي
زمونږ ذهنونـــه بـــدلولئ نـــه شـــي

ددوی مقصـــد پـــوره کيـــدلائ نـــه شـــي
اوس راګير شـــوي خلاصـــيدلئ نـــه شـــي

دابـــي لـــه شـــکه يـــې ربـــتياويلي
بنـــه يـــې پـــه ډاګـــه بـــر ملا ويلـــي

چـــي زندانونـــه بـــه مـــاتيږي اخيـــر
دغـــه قيـــديان بـــه راخلاصـــيږي اخيـــر

وحشـــي زنـــدان دقنـــدهار وګـــوره
مـــات ديوالونـــه يـــې باربـــار وګوره

ډيرپـــه ســـلګونو طالبان خـــلاص شـــوي
دغـــه پـــه فضـــل دســـبحان خـــلاص شـــوي

داســـي زنـــدان هـــم دبګـــرام بـــه مـــات شـــي
ابوغريـــب کيوبـــا تمـــام بـــه مـــات شـــي

دغـــه دظلـــم جـــام نســـکوربه شـــي نـــور
خـــتم دوران دظلـــم اوزوربـــه شـــي نـــور

نظـــام دعـــدل خامخابـــه راشـــي
همـــدرده فضـــل دالله بـــه راشـــي

زلمي خو لاړ ل زولنو ته ژاړه

ملا عبدالرحمن معتصم

زندانـــه اوس خپلـــو تيـــارو تـــه ژاړه
زلمـــي خـــو لاړل زولنـــو تـــه ژاړه

اوس نـــو داتـــه او دغـــه ســـاندې دويـــر
دوحشـــــــتونوجنازو تـــــــه ژاړه

چـــې بيـــا در ولويـــدې انگـــړ تـــه
نـــن وهغـــو ســـپينو وړانگـــو تـــه ژاړه

تـــه خـــو دنـــورو پـــه عـــذاب ژونـــدی وې
نـــن دخپـــل تـــن شـــاړو زخموتـــه ژاړه

نـــه دي پريـــږدي هـــيڅ جنتـــي کنـــدهار
لـــري شـــه لـــري دوزخـــو تـــه ژاړه

معتصـــم ســـتا پـــه ورکيـــدو راضـــي يـــم
خپلـــو بـــې رحمـــو ســـتو تـــه ژاړه

دريـــم فصـــل

کامل مسلمان څوک دئ؟

ليکوال: مؤمن اقبال

په اوسني مهال کي که اسلامي ټولنې ته وکتـل سي نو مسلمانان دوه ډولـه دي يـو شعوري مسـلمانان او بـل مـورثي مسـلمانان دي هر يـو ببل، ببـل شرحه کړو ؛ خو مخکي بـه ووايـو ، چي کفري نړۍ د شعوري مسلمان سره دښمني او هم د اشعوري مسلمانان له منځه وړل غواړي.

شعوري مسلمان:

هغـه مسـلمان دئ، چي دخپلو عقايـدو درنـاوي، عملي کـبدل او دخپراوي لپاره هڅي دخپل ژوند يوه برخه ګرځولي وي، يعني داچي تـل په دې فکر کي وي، چي دمسلمان کـوم تعريـف دئ هغـه پـه رشـتيني ډول پرځان باندي عملي کړي آن تردې، چي خپلو عقايدو ته تر ځان او مال هم وړاندي حق ورکوي، دخپل رشتيني حق دترلاسه کولو لپاره د اصحابانو رضي الله عنهم پيروي کوي، هغوی رضي الله عنهم دځان لپـاره اسـتادان او لارښوونکي ټاکي لکه عبدالله بن رواحة رضـي الله عنـه، چي دحقيقـي ګټې دترلاسه کولو لپاره يې بې ساري قربانۍ ورکړي دي او يوه نمونه به يې دلته ذکر کوو:

رسول الله ﷺ و مختلفو پاچهانو ته د اسلام د بلنې لیکونه واستول، چې په هغو کې یې یو د حضرت حارث بن عمیر ازدي رضي الله عنه په لاس د بصرا پاچا ته ولېږه حارث بن عمیر رضي الله عنه، چې کله موته ته ورسېد د قیصر د حاکمانو څخه یو کس، چې شرحبیل غساني نومېدو دغه مبارک قاصد یې وواژه او حال دا چې د قاصد وژل د ټولو قومونو په اصطلاح کې یو ناروا کار بلل کېده پر نبي ﷺ باندې دا خبره ګرانه پرېوتله نو درې زره کسیز لښکر یې تیار کړ، حضرت زید بن حارثة رضي الله عنه یې ور امیر کړ، بیا یې ورته وفرمایل: که زید بن حارثه رضي الله عنه شهید سي نو بیا د جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه امیر سي، که دی هم شهید سي نو بیا دي عبد الله بن رواحة رضي الله عنه امیر سي، که دی هم شهید سي بیانو د مسلمانانو، چې هر څوک زړه غوښتی هغه دي امیر کړي یوه یهودي دا خبري واوریدې او وې ویل: د اکسان به خامخا شهیدان کېږي ځکه د لومړنیو انبیاوو علیهم السلام د دغه ډول خبرو څخه مطلب هم داسي و. رسول الله ﷺ یو سپین بیرغ جوړ کړ، حضرت زید رضي الله عنه ته یې ورکړ، بیا رسول الله ﷺ د دوی دیوې ډلې سره د دوی درخصتولو په اراده د ښار د باندې راووت د ښار د باندي، چې مجاهدین رخصتېدل پاته خلکو دعا ورته کوله، چې الله جل جلاله دي تاسو کامیابه کړي او په خیر او سلامتیا سره مو رب تعالی جل جلاله بېرته راوله ؛او الله جل جلاله دي تاسو د هر ډول بدۍ څخه و ساتي. حضرت عبد الله بن رواحة رضي الله عنه د دوی په جواب کې درې بیتونه وویل، چې مطلب یې داسي و: زه د خپل رب څخه دګناهونو بخښنه غواړم او یوه داسي توره وي چې په هغې سره زما د وینو داري رواني سي ؛او یا په یوه داسي نېزه ووهل سم، چې زما تر کولمو ینې ووزي څیري یې کړي کله، چې څوک زما د قبر سره تیریږي نو ووایي: الله جل جلاله دي تالار ښود او کامیابه کړي رشتیا هم ته لمر او کامیاب وې. د دې څخه وروسته دوی

مبارکان روان سول. شرحبیل ته هم ددوی د روانېدو خبر ورورسېد. د شرحبیل سره سل زره فوج د مقابلې لپاره تیار سو. کله چې اسلامي پوځ مخکې ولاړ نو ورته معلومه سوه، چې دروم پاچا هرقل هم د سلو زرو پوځیانو سره مقابلې ته راروان دئ ددې خبر په اوږدو سره اصحابان رضي الله عنهم فکر من سول، چې ددې دومره لوی طاقت مقابله شروع کړي او که رسول الله ﷺ ته خبرورکړي په دغه حال کې عبدالله بن رواحة رضي الله عنه په لوړ اواز وویل: اې خلګو ! تاسو د کومي خبرې څخه وېرېږئ ؟ تاسو د کوم مقصد لپاره راوتلي یاست ؟ ستاسو مقصد شهید کېدل دي مور هیڅ کله د قوت او د سړو د ډېروالي په زور نه یو جنګېدلي بلکې مور یوازي د هغه دین په زور جنګېدلي یو چې د هغه دین په وجه الله ﷻ مور ته عزت راکړی دئ. مخ په وړاندي ځئ ددوو کامیابیو څخه به یوه خامخا لاسته راوړئ یا به بریالیتوب وي او یا به شهادت وي. مسلمانانو، چې داخبره واورېده مېړانه یې وکړه پر مخ روان سول آن تر دې، چې موته نومي ځای ته ورسېده ؛او جنګ شروع سو. حضرت زید رضي الله عنه بیرغ په لاس کې واخیست د جنګ میدان ته ورغی ؛او په مشرۍ یې زورور جنګ شروع سو. دلږ وخت په تېرېدو سره د شرحبیل ورور ووژل سو ؛او ملګري یې و تښتېدل خپله شرحبیل هم و تښتېد په یوه کلا کې پټ سو. هرقل ته یې د مرستي لپاره استازی ولېږه هرقل دوسوه زره پوځیان راولېږل جنګ په زیات زور سره شروع کېدو، چې زید رضي الله عنه شهید سو دستي حضرت جعفر رضي الله عنه بیرغ په لاس کې واخیستي دخپل آس پښې یې په خپله پرې کړې، چې ببرته تګ یې د زړه څخه ووزي یو څو اشعار یې وویل، چې مطلب یې دادئ: اې خلګو ! جنت څومره ښه شی دئ او جنت ته نژدې کېدل څومره ښکلی دئ ؛او د جنت اوبه څومره یخې دي. دروم پرخلګو عذاب راغلی ماته په کار ده، چې هغه ووژنم، دا شعرونه

يې وويل توره يې واخيسته کافرانو ښې لاس ځني پرې کړ بيايې بيرغ په چپه لاس کې ونيوی کافرانو چپه لاس ځني پرې کړی ده مبارک بيرغ په متو کې ټينګ کړ، په خوله يې کلک ونيو، يو سړي د شا له خوا څخه ګوزار پرې وکړ، دی مبارک ولويداو دستي شهيد سو. عبد الله بن عمر ﷺ فرمايي: مورږ، چې کله شهيدان را ټولول حضرت جعفر رضي الله عنه چې مو راپورته کړی په بدن کې يې (۹۰) زخمونه وو. حضرت جعفر ﷺ، چې شهيد سو خلګو عبد الله بن رواحة ﷺ ته اواز وکړ، ده مبارک په دغه وخت کې د جنګ په يو طرف کې د غوښې يو ټوټه خوړله ځکه ددرو ورځو څخه يې هيڅ شی نه وخوړلي، ده چې اواز واورېد دستي راپورته سو او وې ويل: حضرت جعفر ﷺ شهيد سوی دئ ته په دنيا اخته يې دستي راغی بيرغ يې راپورته کړ، سخت جنګ يې شروع کړ، ګوته يې زخمي سوه په وځړېده ده مبارک داځړېدلې ګوته په پښه ونيوله لاس يې کش کړ، ګوته يې پرې سوه ليري يې وغورځوله. په سخت جنګ او خفګان کې فکر من سو، چې نه د مقابلې توان سته او نه همت سته. لږ وخت ددې فکر تېرسوي و، چې خپل زړه ته يې وويل: اې زړه! اوس د څه شي شوق او مينه درته پاته ده؟، چې ته يې له خطره وبرېږي د بې بې شوق غواړي؟ هغه په درې طلاقه طلاقه ده.، د غلامانو شوق غواړې؟ هغه ټول ازاد دي د باغ او پيسو شوق غواړې؟ هغه ټوله د الله جل جلاله په لاره کې صدقه دي ددې څخه وروسته يې يو څو اشعار وويل، چې دیو طرف څخه دحملې اواز راغلی، دی مبارک يې په مقابل کې سخت وجنګېدی ؛اوترشهيد کېدو پورې يې توره وچلول.([1])

([1]) وحدثنا ابن اسحاق، حدثني ... قال: امّر رسول الله صلى الله عليه وسلم على الناس يوم مؤتة زيد بن حارثة، ... فعبد الله بن رواحة، فان اصيب عبد الله ...ان جعفر بن ابي طالب حين قُتل دعا الناس عبد الله بن رواحة، وهو في جانب العسكر، فتقدم ... ثم قال: يا نفس

نه يوازي، چي عبدالله بن رواحة رضي الله عنه يوه عاشقانه جذبه درلوده بلکې ټول اصحابان رضي الله عنهم د قربانۍ احساس درلودونکي وو بلکي د اصحابانو رضي الله عنهم هر کس زمری او شعوري مسلمان و، په تبره قصه کي تاسو دنورو اصحابانو رضي الله عنهم نومونه وليدل، چي دهغوی سره د عبدالله بن رواحة رضي الله عنه په څېر جذبه او ددين عشق و. همدا ډول نور اصحابان رضي الله عنهم لکه عمار بن ياسر رضي الله عنه، بلال رضي الله عنه، ابو سلمة رضي الله عنه، ابو جندل رضي الله عنه، ابوبصير رضي الله عنه، د حبشې په لومړی او دوهم هجرت کي تلونکي اصحابانو رضي الله عنهم ټولو امت ته د پوره پوهاوي لپاره عملي درس ورکړی دئ، ټول مبارکان د دې امت غوره او په زړه پوري استادان دي، دوی مبارکان خپله هم د حقيقي ګټي لپاره سترې سوي دي او نورو ته يې هم لارښود نه کړې ده همدا وجه ده، چي الله جل جلاله د مبارکو اصحابانو رضي الله عنهم ستاينه په قرآنکريم کي کړې ده او فرمايي:

مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِ ۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ ۖ تَرَىٰهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا ۖ سِيمَاهُمْ فِى وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ ٱلسُّجُودِ ۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِى ٱلْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسْتَغْلَظَ فَٱسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ يُعْجِبُ

الى اي شيء تتوقين؟ الى فلانة - امراته - فهي طالق. والى فلان وفلان - غلمان له - فهم احرار، والى معجف - حائط له - فهو لله ورسوله... ثم اخذه عبد الله بن رواحة فقاتل حتى قتل شهيداً... اسدالغابة في عنوان (عين) باسم عبدالله بن رواحة

ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلْكُفَّارَ ۗ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًۢا ﴿٢٩﴾[2]

ژباړه: محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دئ کوم کسان، چې دده سره ملګري دي سخت دي پر کافرانو ؛ او په خپل منځ کي رحم لرونکي دي ته بــه ويـنـي، چـې رکـوع او سـجده کـوونکي دي د الله ﷻ فضـل او رضالتونکي دي ددوی نښي ددوی په مخانو کي د سجدې اثر دئ هم دا ډول ددې مثال په توراة او انجيل کښې هم سته لکه يو تخم (چې لومړی راشين سي) نازکه پونګه راوباسي بيا زوروره سي نو ښه په قوت کي سي بيا پر خپله تنه باندي برابر سي (همدا ډول اصحابان رضي الله عنهم هم وو چې اول کمزوري وو وروسته الله ﷻ ورځ تر بلي قوت وروبخښه او د اقوت الله ﷻ ځکه ورکړ)، چې پدې قوت سره کافران د حسد له امله وسوځي. الله ﷻ د هغو کسانو سره وعده کړې ده، چې ايمان يې راوړی دئ، نېک کارونه يې تر سره کړي دي، چې الله ﷻ به مغفرة ورته کوي او لوی اجر به ورکوي.

په همدغه سورة کي همدا راز الله ﷻ فرمايي:

لَّقَدْ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾ (3)

---

[2]: سورة فتح ، الاية: ٢٩

[3]: سورة فتح، الاية: ١٨

ژباړه: بېشکه الله ﷻ راضي سو دهغه کسانو څخه چې ستاسره په سفر کي وو او ستا سره يې تر ونې لاندې بيعت وکړ. بيا الله ﷻ په هغه (اخلاص او صداقت) عالم و، چې ددوی په زړو کي و، نو الله ﷻ پر دوی باندې ارامتيا راواستول او دوی ته يې نژدې فتحه ور نصيب کړه (چې مراد ځني د خيبر فتحه ده) او الله ﷻ ډېر غنيمتونه ورنصيب کړه، چې دوی اخيستل او الله ﷻ غالب دئ ؛او زيات د حکمت څښتن دئ.

په بل ځاي کي الله ﷻ د اصحابانو ﷺ په اړه فرمايي:

رِجَالٌ صَدَقُواْ مَا عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيۡهِۖ فَمِنۡهُم مَّن قَضَىٰ نَحۡبَهُۥ وَمِنۡهُم مَّن يَنتَظِرُۖ وَمَا بَدَّلُواْ تَبۡدِيلاً ﴿٢٣﴾(4)

ژباړه: په دې مؤمنانو کي داسي کسان ستە، چې د الله ﷻ سره يې کومه ژمنه کړې وه په هغه کي رښتني وختل داسي دي، چې خپل نذر يې پوره کړ، (يعني شهيدان سول) او ځني د پوره کولو په موخه انتظار کوي او ددوی د ارادو په بدلولو کي هيڅ بدلون نسي راتلای په بدلولو سره.

په بل ځای کي الله ﷻ فرمايي:

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحۡسَٰنٍ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٠٠﴾(5)

(4) سورة احزاب ، الاية: ٢٣

(5) سورة التوبة الاية :١٠٠

ژباړه: کوم مهاجر او انصار (، چې په ایمان راوړلو کې تر نورو) مخکې دي او څومره خلګ، چې په اخلاص سره ددوی تابعداري کوي الله جل جلاله ددې ټولو څخه راضي دئ او دوی د الله ﷻ څخه راضي دي الله ﷻ ددوی لپاره جنتونه برابر کړي دي، چې دونو (تر ښاخو) لاندې به يې (ویالې) بهیږي او همیشه به په جنت کې وي دغه هم لویه کامیابي ده.

په دغه آیاتو کې الله ﷻ د اصحابانو رضي الله عنهم څخه خپله خوښي څرګنده کړې ده تردې به نو لویه خوشالي چیري وي حقیقي رب دهر څه مالک او خالق دچا څخه دخوشالۍ اورضایت څرګندونه کوي.

همدا ډول رسول الله0 دمبارکو اصحابانو رضي الله عنهم دفضیلت او دميني داظهار اړونده زیاتي ویناوي فرمایلي دي دمثال په ډول رسول الله0 فرمایي:چې زما څخه وروسته په ابو بکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه پسې اقتدا کوئ. په یوه حدیث کې راغلي دي: زما اصحاب رضي الله عنهم د ستورو په شان دي په هر یوه پسې چې اقتدا وکړئ سمه لاره به پیدا کړئ[6].

[6]: «مثل اصحابي مثل النجوم ، من اقتدى بشيء منها اهتدى» رواه مسند الشهاب القضاعي ورقم الحديث:١٢٤١ وايضاً رواه مسلم وكذا الامام احمد في مسنده. قال شيخ الحديث مولانا محمدزكريا رحمه الله في فضائل الصحابة التي ذكره في كتابه الحكايات الصحابة ان هذا الحديث قدتكلم فيه المحدثين ونقل قول الملا علي قاري رحمه الله في تائيده ولم اجد قول الملا علي قاري رحمه الله علي طريق الذي ذكر مولانا رحمه الله بل وجد بتغير فلاجل التغير نقلت قوله في كتابه المرقاة شرح المشكاة المصابيح: قال ملاعلي قاري رحمه الله:... وقال رسول الله اصحابي كالنجوم اي فاقتدوا بهم جميعهم او باكثرهم وان لم يتيسر فبايهم اقتديم اهتديتم وكانه اخذ من هذا بعضهم فقال من تبع عالما لقي الله سالما رواه رزين قال ابن الربيع اعلم ان حديث اصحابي كالنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم اخرجه ابن ماجه كذا ذكره الجلال السيوطي في تخريج احاديث الشفاء ولم اجده في سنن ابن ماجه بعد البحث عنه وقد ذكره

حضرت انس ﷺ فرمايي، چې نبي ﷺ فرمايلي دي:زما اصحاب ﷺ داسي مثال لري لکه په خوراک کي مالګه چې دغه خوراک بې له مالګي ښه کېداى نسي. نبي ﷺ فرمايي: زما د اصحابو ﷺ په اړه دالله ﷻ څخه وويريږئ دوى د ملامتيا ننبه مه جوړوئ څوک چې ددوى سره محبت کوي هغه زما سره محبت کوي او څوک چې ددوى سره کينه لري هغه زما سره کينه لري چاچې دوى ته تکليف ورکړى هغه ماته تکليف راکړى چاچې ماته تکليف راکړى هغه الله ﷻ ته تکليف ورکړى او څوک چې الله ﷻ ته تکليف ورکړي د الله ﷻ په راکشولو کي به راسي.

نبي ﷺ فرمايي: زما اصحابو ﷺ ته ښکنځل مه کوئ په تاسو کي که څوک د احد د غره سره برابر سره زر خيرات کړي نود اصحابو ﷺ د يوه يا نيم مد ثواب نسي لاسته راوړلاى. نبي ﷺ فرمايي: څوک چې اصحابو ته ښکنځل کوي پر دغه کس د الله ﷻ، ملائکو او ټولو انسانانو لعنت دئ

ابن حجر العسقلاني في تخريج احاديث الرافعي في باب ادب القضاء واطال الكلام عليه وذكر انه ضعيف واه بل ذكر عن ابن حزم انه موضوع باطل لكن ذكر عن البيهقي انه قال ان حديث مسلم يؤدي بعض معناه يعني قوله النجوم امنة للسماء الحديث قال ابن حجر صدق البيهقي وهو يؤدي صحة التشبيه للصحابة بالنجوم اما في الاقتداء فلا يظهر نعم يمكن ان يتلمح ذلک من معنى الاهتداء بالنجوم قلت الظاهر ان الاهتداء فرع الاقتداء قال وظاهر الحديث انما هو اشارة الى الفتن الحادثة بعد انقراض الصحابة من طمس السنن وظهور البدع ونشر الجور في اقطار الارض اه وتكلم على هذا الحديثابن السبكي في شرح ابن الحاجب الاصلي في الكلام على عدالة الصحابة ولم يعزه لابن ماجه وذكره في جامع الاصول ولفظه عن ابن المسيب عن عمر بن الخطاب مرفوعا سالت ربي الحديث الى قول اهتديتم وكتب بعده اخرجه فهو من الاحاديث التي ذكرها رزين في تجريد الاصول ولم يقف عليها ابن الاثير في الاصول المذكورة وذكره صاحب المشكاة وقال اخرجه رزين.المرقاة المفاتيح شرح المشكاة المصابيح .مؤمن اقبال

او ددغه سړي نه فرض قبلېږي او نه نفل. نبي ﷺ فرمايي: چې الله ﷻ ټوله انسانان راټول کړل دانبياوو عليهم السلام څخه پرته په دوی ټولو کې يې دغه څلور کسان غوره کړه: حضرت ابوبکر رضي الله عنه، حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه او دوی يې زما پر ټولو اصحابانو رضي الله عنهم باندې بهتر و ګرځول ابو سختيياني رحمه الله عليه فرمايي: کوم چاچې د ابوبکر رضي الله عنه سره محبت وکړی هغه خپل دين سم کړ. چاچې د عمر رضي الله عنه سره محبت وکړ نو ددين روښانه لاره يې پيدا کړه. چاکه دعثمان رضي الله عنه سره محبت وکړ د الله ﷻ په رښا سره روښانه سو او چاچې د علي رضي الله عنه سره محبت وکړ دغه کس نو ددين رسۍ ونيوله. څوک چې داصحابانو رضي الله عنهم ستاينه کوي دغه کس د نفاق څخه پاک دئ، څوک چې د اصحابانو رضي الله عنهم بي ادبي کوي منافق، بد عتي او د سنتو مخالف دئ زما سره داويره ده چې هيڅ عمل به قبول نسي تر څو د اصحابانو رضي الله عنهم سره محبت پيدا نسي او ددوی په اړه يې زړه پاک نسي. په يوه حديث کې راغلي دي چې نبي ﷺ فرمايي: زما داصحابانو، زومانو اونورو اصحابانو په اړه زما لحاظ کوئ څوک چې ددوی په اړه زما لحاظ وکړي الله ﷻ به ددغه کس په دنيا او آخرت کې حفاظت وکړي او څوک چې زما لحاظ ونه کړي الله ﷻ د هغه کس څخه ببزاره دئ او د چا څخه چې الله ﷻ ببزاره سي کېدای سي چې پر يو څه باندې ونيول سي دنبي ﷺ دا ارشاد هم دئ چې نبي ﷺ فرمايي څوک چې زما داصحابو رضي الله عنهم په اړه زما لحاظ وکړي د قيامت په ورځ به زه دده محافظ يم. په يوه بل حديث کې راغلي دي چې نبي ﷺ فرمايي څوک چې زما د اصحابو رضي الله عنهم په اړه زما لحاظ ونه کړي حوض کوثر ته به رانه وستل سي ما به يوازي د ليري څخه ووينې. سهل بن عبد الله رحمه الله عليه فرمايي څوک چې د نبي ﷺ د

اصحابانو ﷺ تعظيم او درنښت نه کوي هغه پر نبي ﷺ ايمان نه دئ راوړی.(7)

حاصل داچي څوک داصحابانو رضي الله عنهم پر قدم باندي قدم ږدي او دين خپل مقصود ګڼي داسي مسلمان ته شعوري او کامل مسلمان ويل کېږي، په دغه ډول مسلمانانو پسي هر چيري کافرانو ليڅي رانغښتي دي او هيڅري دوی ته دخپل دين حق نه ورکوي ؛ ځکه په نړۍ کي يوازنی دين داسلام دين دئ، چي حتماً پرنورو بری پيدا کوي دا حقيقت دوی درک کړی دئ، نور دينونه هيڅکله په معنوي زور سره بری نه سي ترګوتو کولای نو ځکه کافران هغوی ته هيڅ نه وايي دهغوی معتقداتو ته احترام کوي، هندوان، چي ځانونه په اور سوځي دې کار ته دبشر دحقوقو خلاف نه وايي، عيسوي پاپان، چي کله رياضت کوي نو کلونه، کلونه په څاهانو کي اوسيږي خوراک نه کوي، دې کارونو ته دبشر دحقوقو مخالفت نه وايي ځکه دوی ته معلومه ده، چي دهغوی دين هيڅکله هغه نقطې ته نسي رسېدای، چي بيا پردوی کړی راتنګه کړي دټولو کافرانو هدف دادئ، چي يا ټول مسلمانان له منځه يوسي او يا شعوري مسلمانان له منځه يوسي.

حاصل داچي شعوري مسلمان هغه چاته ويل کېږي، چي په لاندني آيت يې عمل کړی وي، چي الله جل جلاله فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً (سورة بقرة الاية: ٢٠٨)

7: مرقاة المفاتيح، باب مناقب الصحابة رضي الله عنهم ،مسند الشهاب القضاعي ، باب مثل اصحابي مثل النجوم ، من اقتدى بشيء منها اهتدى ، مسند احمد ، باب مناقب الصحابة رضي الله عنهم الصحيح مسلم ، باب مناقب الصحابة رضي الله عنهم7111111112

ژباړه: اې مؤمنانو ! په اسلام کي په تمامه معنا(په پوره توګه) داخل سئ. يعني داسلام ټوله امرونه ومنئ، څه، چي داسلام غوښتنه ده هغه پوره کړئ.

موروثي مسلمان:

هغه مسلمان ته ويل کېږي، چي تش داسلام دلفظ سره دومره اشنا وي، چي زه دمسلمانانو په ډله کي داخل يم او داسلام دين ديوې سياسي ډلې او يا يوه ګوند په څېر دئ، چي زه هم پکښې داخل يم، په دې باندي پوه نه وي، چي داسلام دين دمسلمان څخه غوښتني لري، داسلام دين خدمت غواړي، اسلامي چوپړ بايد ديوه احساس له مخي وسي حال داچي دغه مورثي مسلمان داسلام غوښتني ديوه رواج په شکل پېژني ؛ خو داحساس له مخي يې نه ترسره کوي همدا وجه ده، چي همداسي مسلمان په ذهن کي داخبره لري، چي دژوند څخه مقصد خوند او ترقي ده په هره طريقه، چي وي که داسلام سره مخالفه طريقه وي اوکه موافقه وي ځکه دده له انده داسلام اساسات تش درواج او دود بڼه لري که پاته سي څه خبره نه ده لکه ديوعادي رواج په پاتېدو، چي تاوان نه پېښېږي همدا ډول داسلام کومه غوښتنه يا امر، چي پاته سي هم څه تاوان نه پېښېږي يا په بل عبارت، چي په اوس وخت کي داسي فکر ته سيکولريزم ويل کېږي. حاصل داچي همدا ډول کس ځان داسلام له مقصود څخه دباندي شي بولي.

ټوله نړۍ مسلمانانو ته متوجه ده، چي ټول مسلمانان په همدې مفکوره واړوي ځکه دوی ته، چي کومه ستونزه پېښېږي هغه يوازي دشعوري مسلمانانو څخه پېښېږي ددې ښه مثال په تېره واقعه کي تېر سو، چي دموته په غزا کي اسلامي پوځ مخکي ولاړ نو ورته معلومه سوه، چي دروم پاچا هرقل هم د سلو زرو پوځيانو سره مقابلې ته راروان دئ ددې خبر په اوربدو سره اصحابان رضي الله عنهم فکر من سول، چي

ددې دومره لوی طاقت مقابله شروع کړې او که رسول الله ﷺ ته خبرورکړي په دغه حال کي عبدالله بن رواحة رضي الله عنه په لوړ اواز وويل: اې خلګو ! تاسو د کومي خبري څخه وپرېږئ ؟ تاسو د کوم مقصد لپاره راوتلي ياست ؟ ستاسو مقصد شهيد کېدل دي مور هيڅ کله د قوت او د سړو د ډېروالي په زور نه يو جنګېدلي بلکي مور يوازي د هغه دين په زور جنګېدلي يو چې د هغه دين په وجه الله جل جلاله مور ته عزت راکړی دئ. مخ په وړاندي ځئ ددوو کاميابيو څخه به يوه خامخا لاسته راوړئ يا به بريالیتوب وي او يا به شهادت وي.

کافرانو هم دغه حقيقت درک کړی، چې مسلمانان که هرڅومره لږ وي بريالیتوب ترګوتو کوي ځکه دوی ته مرګ او ژوند دواړه په يوډول اهميت لري مړيني ته شهادت وايي کاميابي يې بولي او ژوندي پاته کېدو ته غزا وايي هم يې کاميابي بولي ددې خبري يو بل مثال دبېر معونة په سريه کي هم دئ، چې اويا کسه داسي اصحابان پکښي شهيدان سول، چې ټوله يې د قرآن عالمان او حافظان وو په دغه شهيدانو کي د حضرت ابوبکر رضي الله عنه غلام عامر بن فهيره رضي الله عنه هم و دده مبارک قاتل جبار بن سلمي وايي: ماچي کله عامر بن فهيره رضي الله عنه په نېزه ووهی ده وويل: (وَ الله فُزْتُ) يعني په الله جل جلاله مي دي قسم وي، چې زه کامياب سوم ددې څخه وروسته ماوليد ، چې دده جسد و اسماني طرف ته پورته سو زه ډېر حيران سوم ددې څخه وروسته ما دخلګو څخه وپوښتل: ، چې دغه سړی ما په نېزه ووهی دستي مړ سو خو بيا هم دی وايي، چې په الله جل جلاله قسم، چې زه کامياب سوم دده کاميابي نو په څه شي کي ده؟ خلګو راته وويل: دده کاميابي په جنت کي ده پدې وجه زه مسلمان سوم.(8)

(8) ذكره مولانا محمد زكريا نور الله مرقده بحوالة الخميس .

همدا وجه ده، چې کافران کوشش کوي، چې دمسلمانانو څخه دين بيخي له منځه يوسي او يا يې تش په نامه ورپريږدي، حاصل داچې تر هغه بريده مسلمانان بريالیتوب نه سي ترګوتو کولای څو، چې ځانونه يې شعوري مسلمانان نه وي جوړ کړي.